
[وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ] (العنکبوت/۶۹)



له صحابه کرامو څخه وروسته

# د اسلام ستر اتل

## امام اعظم
## ابوحنیفه رحمه الله



تألیف: قضاوتوال ابوعبدالرازق مولوي محمد فاضل (عتیق)

(٦٨٧)

[وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ](العنكبوت/٦٩)

# داسلام ستر اَتل

# امام اعظم ابوحنيفه (رح)

[وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ] (التوبة/١٠٠)


تأليف:

قضاوتوال ابوعبدالرازق محمدفاضل (عتيق)



١٣٩٥ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکتاب د خان کتابتون څخه ډانلوډ شوی دی

Khanlibrary.org/ps

## دکتاب ځانګړني

دکتاب نوم داسلام ستر آتل امام اعظم ابو حنيفه ( رح )

مؤلف قضاوتوال ابو عبد الرزاق محمد فاضل ( عتيق)

کال ۱۳۹۵ل / 2017م

پر ليکه کوونکي عزت الله سلطانزي

## مننه او کورودانی

**له مولوی عبد القدوس مختار څخه مننه کووم چې دا کتاب يې ترمونږ را ورسوه .**

د اکتاب د خان کتابتون څخه ډانلوډ شوی دی

Khanlibrary.org/ps

يادونه : ګرانو لوستونکو که تاسی د کوم کتاب سافټ لري مهرباني وکړي زمونږ برېښناليک ته يي را واستوی.مونږ به يي په ټولنيزو شبکو او ويبپا ټو کي نشرکړو .

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

زمونږ سره اړيکه : ايمو، واټس اپ ، تليګرام

0093706912702

اويا هم لاندي برېښناليك او فيسبوك پاني سره اړيکه ونيسئ

Esultanzai@hotmail.com

azatullahsultanzai@gmail.com

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

# فهرست


(۱) سریزه ........................................ ۱
(۲) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) لنډه پیژندنه ........................................ ۳
(۳) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په هکله دنبي علیه السلام وړاندوینه ........................................ ۷
(۴) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) نسبي رشته ........................................ ۱۱
(۵) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) اسم کونیه په ابوحنیفه سره ........................................ ۲۰
(٦) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) پلرنی اصلی ټاټوبی ........................................ ۲۷
(۷) امام اعظم ابوحنیفه(رح) تابعي وه ........................................ ۲۹
(۸) دتابعي لنډه پیژندنه ........................................ ۳۴
(۹) امام اعظم ابوحنیفه(رح) د جلیل القدره علماء په نظرونو کې ........................................ ۳٦
(۱۰) دامام اعظم ابوحنیفه استادان ........................................ ۴۰
(۱۱) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) شاگردان ........................................ ۴۱
(۱۲) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) علمي سویه ........................................ ۴۳
(۱۳) په قرآن ا و سنتو (د ینی مسا ئلو) کی د امام ........................................ ۴۸
(۱۴) امام اعظم ابوحنیفه(رح) په خپل وخت کی ........................................ ۵۴
(۱۵) امام اعظم ابوحنیفه(رح) فقهی مسائل په ........................................ ٦۲
(۱٦) قیاس دقرآن په هنداره کی ........................................ ٦۹
(۱۷) د ا ما م اعظم ابوحنیفه(رح) سخا و ت ........................................ ۷۳
(۱۸) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) زهد اوتقوا ........................................ ۷٦
(۱۹) د تقوی مفهوم اوحقیقت ........................................ ۷۹
(۲۰) امام اعظم ابوحنیفه(رح) به دتهجدو لمانځه ........................................ ۸۲
(۲۱) امام اعظم ابوحنیفه(رح) ډیرحلیم (برد باره) ........................................ ۸٦
(۲۲) د امام اعظم ابوحنیفه(رح) سره ........................................ ۸۸
(۲۳) امام اعظم ابوحنیفه(رح) به ډیرپاک لباس ........................................ ۹۴
(۲۴) امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته دهغه دحاسد ........................................ ۹٦
(۲۵) امام ابویوسف(رح) به دخان لپاره دامام ........................................ ۹۹
(۲٦) امام شافعي (رح) د بعضی مشکلاتو دحل ........................................ ۱۰۰
(۲۷) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دعلم سلسله ........................................ ۱۰۳
(۲۸) دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دمذهب امتیاز ........................................ ۱۰۵
(۲۹) د یو تعداد نیکانو لخوا د امام اعظم ........................................ ۱۱۱
(۳۰) یوتعدادهغه اشخاص چی امام ابوحنیفه(رح) ........................................ ۱۱۴

# (۱) سریزه

الحمدلله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا:
امابعد:

کله چې داتل کلمه ذکرشي نواوریدونکو ذهنونوته دارازی چې اتل هغه چاته ویل کېږي چې دمقابلی په میدان کی یی څوک له خپونشی غورزولی اوپه شجاعت بهادری کی یوامتیازی حیثیت ولري اوپه عرف اورواج کی همدامشهوره ده.

مګرداسلام له نګاه اتل (پهلوان) هغه څوک دی چې داسلام خلاف ناوړه اعمال دخپولاندی کړي اوپه رواعمالو کی له خپلوهمعصرو وړاندیوالی حاصل کړي دابوهریره(رض) په روایت کی راغلی نبي علیه السلام فرمایلی پهلوان هغه څوک دی چې دغوصی په دوران کی خپل ځان کنترول کړي:
حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ(۱)

که وه وایوچې څلورامامان په خپل وخت اوزمان کی دعلم زهد سخاوت بی مثاله نمونی وی دابه کومه مبالغه نوي اوحقیقت به وي څلورامامان که له پانی دنیا څخه ابدی دنیا ته په رحلت تللی مګرپه دینی اموراتو کی اتلولی یی دتاریخ په اوراقو کی پداسی توګه ثبت شوی چې نه زړېږي اونه هیرېږي اسلامی تولنه لاپریده چې ددین دښمنان هم دڅلوروامامانوپه دینې اتلولی معترف دي .

البته یوتعدادخودغرضه اشخاص شته چې دڅلوروامامانوپه دینی اتلولی

---

۱ . صحیح البخاری رقم الحدیث ۶۱۱۴

ناخوخه دي اودحسداوعنادپه اساس دغه بی بصیرته ډلگی په خلوروامامانولعن اوطعن وایی اودوی داگمان کوی چی زمور دغه کړنه به زموږپه اخروي گټه تمام شي مگرخبره دارنگه نده:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا (۲) الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا(۱)

خلور امامان هغه څوک وه چی لوي څښتن تعالی ددوی زړونه د واقعی ایمان اوتقوالپاه انتخاب کړی وه اودوي دلوي څښتن تعالی ددی ارشاداتومصداق گرزیدلی وه:

أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(۲) إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ(۳)

اهل السنت والجماعة ډله هغه ډله ده چی دخلوروامامانوسره دزړه له کومی محبت لري اوپه خلوروامامانونه خپله دطعن اوگستاخی ژبی ته حرکت ورکوی اونه ددوی په هکله دبل چا طعن قبلوي دغه خلوروامامانوددین خدمت کړی الله (ج) لدوی څخه راضی دی اودوی الله (ج) راضي کړی.

---

۱. الکهف آیة ۱۰۳/۱۰۴

۲. سورة المجادلة آیة ۲۲

۳. سورة الحجرات آیة ۳

# (۲) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) لنډه پیژندنه

دامام اعظم ابوحنیفه خپل نوم نعمان دپلارنوم ثابت دی ابوحنیفه اسم کونیه دی اوامام اعظم یی لقب دی: داچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په کومه نیټه تولدشوی حافظ عبدالقادرقرشی په (الجواهرالمضیة) کی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دمیلادپه اړه دری روایته نقل کړي اول داچی په (٦١) هـ ق کی تولدشوی دویم داچی په (٦٣) هـ ق کی تولدشوی دریم داچی (۸۰) هـ ق کی تولدشوی. (۱)

بدرالدین عینی (رح) دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دتولدتاریخ (٦١/یا۷۰/یا۸۰) خودلی. (۲)

علامه موفق بن احمدمکی چی ۴۸۴هـ ق کی وفات دی په مختلفوسندونوسره دابونعیم څخه اودحمادبن ابی حنیفه(رح) څخه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دتولدنیټه ۸۰هـ ق خودلی چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په ۸۰ هـ ق نیټه تولدشوی هغوی پدی اړه داسی ویلی:

والصحیح هی الروایة الاولی وهی المجمع علیها(۱) دلته بایدداخبره روښانه شی چی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دتولددتاریخ په هکله ولی له علماء څخه مختلف رواویتونه نقل شوی علامه زاهدالکوثری ددی اشتباه ازاله پدی توګه کړی: هغوی پدی اړه داسی ویلي: چی درجال دتاریخ تدوین داسلام له اولنی صدرڅخه روسته منځ ته راغلی نولهمدی امله دصدراول رجال دتولداووفات په نیټوکی ډیراختلافونه منځ ته راغلي (۲) دعلامه کوثری داادعاکومه بی استناده ادعانده بلکه دتاریخ په اړدوکی ددی ډیرمثالونه موجوددي مثلاداسلام

---

۱. تانیب الخطیب علی ماساقه فی ترجمةابی حنیفة من الاکاذیب ص۳تالیف علامه کوثری
۲. مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص۵مولدالعلماء ووفیاتهم ص۱۹۹ج۱ تانیب الخطیب ص۳۱

سترلاربنودمحمدصلى الله عليه وسلم په هكله اكثرروايات پدى دى چى نبي عليه السلام كله له فانى دنيا څخه داراداخرت ته انتقال كولو دده عمرمبارک (٦٣) كاله وه مگربيا نورروايات داسى هم شته چى دده عمرپه يوروايت كى (٦٠) شپيته كاله اوپه بل روايت كى (٦٥) كاله خودل شوى:

وكان عمره ثلاثا وستين سنة وقيل خمسا وستين وقيل:

ستين سنة والأول أصح(٣) ابان بن سعيد(رض) چى مشهورصحابى دى دده دوفات دنيتي په هكله هم مختلف روايتونه نقل شوى مصعب اوزبيروايى چى ابان بن سعيد(رض) داجنادين به ورځ كى وفات دى اوبعضوبياويلي ابان بن سعيدپه دمشق كى دمرج الصفرپه ورځ كى وفات دى: قتل أبان يوم أجنادين وهو قول مصعب والزبير وأكثر أهل النسب وقيل: إنه قتل يوم مرج الصفر عند دمشق..

وكانت وقعة أجنادين في جمادى الأولى سنة اثنتي عشرة في خلافة أبي بكر قبل وفاته بقليل وكان يوم مرج الصفر سنة أربع عشرة في صدر خلافة عمر وقيل كانت الصفر ثم اليرموك ثم أجنادين وسبب هذا الاختلاف قرب هذه الأيام بعضها من بعض. (١)

په يوروايت كى خو لا دا هم راغلي چى ابان بن سعيدبن عاص بن اميه دحضرت عثمان (رض) په خلافت كى وفات شوى الاصابة فى تميزالصحابة پدى اړه داسى ويلي: عن عمر بن عبد العزيز قال مات النبي صلى الله عليه و سلم وأبان بن سعيد على البحرين ثم قدم أبان على أبي بكر وسار إلى الشام فقتل يوم أجنادين سنة ثلاث عشرة قاله موسى بن عقبة وأكثر أهل النسب وقال بن إسحاق قتل يوم اليرموك ووافقه سيف بن عمر في الفتوح وقيل قتل يوم مرج الصفر حكاه بن البرقي وقال أبو حسان الزيادي مات سنة سبع وعشرين في خلافة عثمان. (٢)

دنبي عليه السلام ازادشوى غلام ابراهيم ابورافع په هكله هم دوه روايته

---

١. اسدالغابة فى معرفة الصحابة ص٢٢/٢٠ج١

٢. الاصابة فى تميزالصحابة ص١٧ج ١

موجوددي په یوروایت کی راغلي چی ابراهیم ابورافع عثمان (رض) په خلافت کی وفات دی اوپه بل روایت کی راغلی دعلی(رض) په خلافت کی وفات دی: ابراهیم ابورافع مولی رسول الله صلی الله علیه وسلم وتوفي أبو رافع في خلافة عثمان وقیل: في خلافة علي وهو الصواب. (۱)

دابراهیم نخعی(رح) متعلق په یوروایت کی راغلی چی ابراهیم نخعی(رح) په (۹۵) هـ ق کی وفات دی اوپه بل روایت کی راغلی په (۹٦) کی وفات دی همدارنگه دده دعمرپه هکله اختلاف موجوددی په یو روابت کی راغلي ده دخپل عمرپه (۴۹) کلنی کی لدی دنیا څخه رحلت کړی اوپه بل روایت کی راغلي چی ده لدی دنیا څخه دخپل عمرپه (۵۸) کلنی کی سترگی پتی کړي: ابراهیم نخعی توفي سنة ست وقیل خمس وتسعین للهجرة، وله تسع وأربعون سنة، وقیل: ثمان وخمسون سنة، والأول أصح(۲)

غرض داچی که دخیرالقرون درجال تولداووفات نیتهی دتاریخ په پاڼو کی مطالعه کړونودذکرشوومثالونوپه څیرپه سوونومثالونه به پکی لاس ته راشي اوددی اصل لامل همدادی چی داسلام په اولنی صدرخیرالقرون کی درجال دتولداووفات دقیقی نیتهی معلومولولپاره کومه ځانگړی توجه نه وه موجوداوهمداوجه وه چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دتولددنیتی په هکله اختلاف منځ ته راغلی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) په هکله خوډیره مشهوره داده چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) (۸۰) هـ ق کی تولدشوی مگرعلامه کوثری بیا دده په اړه ویلی چی راجحه داده چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) به (۷۰) هـ ق کی تولدشوی علامه کوثری(رح) دخپلی دی ادعاثبوت لپاره دوه دلیله ذکرکوی اول دلیل یی دادی چی امام عقیلي په ترجمه دحمادبن ابی سلیمان(رح) کی لیکلی کله چی ابراهیم نخعی(رح) وفات شه نودکوفی له اکابروفقهاء څخه پنځه فقهاء راجمعه شوچی لدغه جملی څخه عمربن قیس ماصراوابوحنیفه هم وه دوی څلویښت زره درهم په په خپلو منځوکی سره

---

۱. اسدالغابة ص۲۵ج۱

۲. وفیات الاعیان لابن خلکان ص۲۵ج اسیراعلام النبلاء ص۵۲۷ج۴

راجمعه کړی اوحمادبن ابی سلیمان ته یی ورکړی چې دوی لدی روپوڅخه ددین اوعلم به کاروتوکی گټه واخلي اودعلماء سرپرستی لپاره فارغه شي، ابراهیم نخعی په پنځه نوی کی وفات دی چی دده دوفات په دوران کی داامام عظم ابوحنیفه عمردهغه روایت په بنا چی دی په (۸۰) هـ ق کی تولدشوی وي (۱۵) کاله وه نوداکله امکان لری چی یوشخص دی دپنځلس کلنی په عمرکی داکابرو علماء سره دابراهیم نخعي (رح) دخلیفه(نائب) په ټاکلوکی تصمیم ونیسي ـ نودامام اعظم ابوحنیفه (رح) شراکت داکابروفقهاء سره دابراهیم نخعي(رح) دنائب په ټاکلوکی داامام اعظم ابوحنیفه(رح) عمرپدغه وخت کی له (۱۵) کلنی څخه ډیرزیات وه دویم دلیل علامه کوثري(رح) دخپلی ذکرشوی ادعادثبوت لپاره داذکرکړی چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) دعلم فقه له زده کړی څخه وړاندی دعلم کلام په زده کړه مشغول وه آن تردی چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) بصری ته (۲۰) خله قدریه ډلی سره مناظری ته راغلی وه لدی څخه وروسته امام اعظم ابوحنیفه (رح) دعلم فقه په حاصلولو مشغول شه نوداکله کیدی شی چی دده عمردی دابراهیم نخعي(رح) دوفات په دوران ک(۱۵) کاله وي اود (۱۵) کلنی ډیروړاندی دی ده علم کلام حاصل کړی وي نودااساب ددی دلیل دی چی داامام اعظم ابوحنیفه(رح) تولد(۸۰) هـ ق نیتی څخه وړاندی شوی اوخایی چی دده دتولدپه اړه راجحه نیټه (۷۰) هـ ق وي. (۱)

---

۱. تانیب الخطیب فی ماساقه فی ترجمة ابی حنیفة من الاکاذیب ص۳۲

# (۳) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په هکله دنبي علیه السلام وړاندوینه

یو تعداد ورونه به داخبره کوي چې امام اعظم ابوحنیفه (رح) خو د نبي علیه السلام دوفات څخه ډیروروسته تولدشوی نونبي علیه السلام دده په هکله څنګه (پیشګویی) وړاندوینه وکړه ووداخبره یقیني ده چې امام ابوحنیفه(رح) دنبي علیه السلام له وفات څخه ډیروروسته تولدشوی مګرکه موږ دنبي علیه السلام احادیث اوداسلام تاریخ په دقیقه توګه مطالعه کړو نوبیشماره داسې مثالونه به ترلاسه کړوچې نبي علیه السلام په راتلونکی زمانه کې دبعضې کارونودموجودوالی په هکله وړاندوینه کړی اوهغه کارونه په هم هغه طریقه موجودشوی څنګه چې نبي علیه السلام وړاندوینه کړی: علامه ابن کثیر(رح) پدی هکله یومستقل باب لګولی اوداسې یې ویلي:

بعض ما أخبرَ الرَّسُولُ عَلَيهِ السَّلاَمِ بِأَنَّهُ سَيَقَع (۱)

ابن کثیرپدی باب کې دنبي علیه السلام له لوري دبعضې کارونودموجودیدو په هکله دوړاندوینې بیشماره مثالونه نقل کړي چې د محترمو لوستونکو د زړونو د اطمینان په خاطریوڅومثالونه موږپدی توګه وړاندی کوو.

(۱) نبي علیهالسلام خپل امت ته داوړاندوینه کړی چې زماله وفات څخه وروسته به ابوبکر(رض) ددی امت مشری کوي: مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرٍ أَنَّ أَبَاهُ جُبَيْرَ بْنَ مُطْعِمٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللهِ؟ فَكَلَّمَتْهُ فِي شَيْءٍ فَأَمَرَهَا بِأَمْرٍ فَقَالَتْ أَرَأَيْتَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ لَمْ أَجِدْكَ قَالَ إِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ * زَادَ لَنَا الْحُمَيْدِيُّ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ كَأَنَّهَا تَعْنِي الْمَوْتَ. (۲)

(۲) مصردعمروبن عاص (رض) پلاس دعمر(رض) په دورکې فتحه شوی مګرنبي علیه اسلام د مصر د فتحه کولووړاندوینه په خپل ژوندانه کړی وه: عن عبد الرحمن بن شماسة المهري قال سمعت أبا ذر يقول قال رسول الله صلى الله

---

۱. النهاية فى الفتن والملاحم ص اج ۱(۲)

۲. صحيح البخارى رقم الحديث ۷۳۶۰(۳)

عليه وسلم * إنكم ستفتحون أرضا يذكر فيها القيراط فاستوصوا بأهلها خيرا فإن لهم ذمة ورحما فإذا رأيتم رجلين يقتتلان في موضع لبنة فاخرج منها قال فمر بربيعة وعبد الرحمن ابني شرحبيل بن حسنة يتنازعان في موضع لبنة فخرج منها. (١)

(٣) دعثمان (رض) دشهادت اوداچی عثمان (رض) جنتی دی نبي عليه السلام داوړاندوينه په خپل ژوندانه کړی. (٢)

که څوک غواړي چی دنبي عليه السلام ديوتعدادوړاندوينوپه هکله معلومات ترلاسه کړي نودابن کثيرالنهايه فی الفتن والملاحم ته دی رجوع وکړي.

نوکه دامام ابوحنيفه(رح) په هکله نبي عليه السلام کومه وړاند وينه کړی وي دابه کومه نااشنا خبره نوي: د نبي عليه السلام څخه په مختلفورواياتو دارو ايت شوي چی نبي عليه السلام فرمايلی چی که علم دثريا ستوروته وخيژي نوفارسيانو له کورنی څخه به داسی څوک پيداشي چی دغه علم به حاصل کړي په بعضی رواياتوکی دعلم په ځای د ايمان لفظ اوپه بعضی رواياتو کی ددين لفظ راغلی: عن عبد الله قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: لو كان الدين معلقا بالثريا لتناوله ناس من أبناء فارس(٣)

عن قيس بن سعد بن عبادة: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: (لو كان الإيمان معلقا بالثريا لناله رجال من فارس.

(١) عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم هذه الآية وإن تتولوا يستبدل قوما غيركم ثم لا يكونوا أمثالكم فقالوا يا رسول الله من هؤلاء الذين إن تولينا استبدل بنا قوما غيرنا ثم لا يكونوا أمثالنا فضرب رسول الله صلى الله عليه و سلم على فخذ سلمان الفارسي ثم قال هذا وقومه لو كان الدين معلقا بالثريا لناله رجال من الفرس. (٤)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِندَ النَّبِيِّ ؟ فَأُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ

---

١. صحيح مسلم رقم الحديث ٢٥٤٣(۴)

٢. النهايه فی الفتن والملاحم ص١ج١

٣. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٠٤٧٠

٤. المعجم الاوسط للطبرانی رقم الحديث ٨٨٣٨

الجُمُعَة [وَآخَرِينَ مِنهُمْ لَمَّا يَلحَقُوا بِهِمْ] قَالَ قُلتُ مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ فَلَمْ يُرَاجِعْهُ حَتَّى سَأَلَ ثَلَاثًا وَفِينَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ وَضَعَ رَسُولُ اللهِ؟ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِندَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ أَوْ رَجُلٌ مِنْ هَؤُلَاءِ. (۱)

عن أبي هريرة قال * كنا جلوسا عند النبي صلى الله عليه وسلم إذ نزلت عليه سورة الجمعة فلما قرأ (وآخرين منهم لما يلحقوا بهم) قال رجل من هؤلاء يا رسول الله فلم يراجعه النبي صلى الله عليه وسلم حتى سأله مرة أو مرتين أو ثلاثا قال وفينا سلمان الفارسي قال فوضع النبي صلى الله عليه وسلم يده على سلمان ثم قال لو كان الإيمان عند الثريا لناله رجال من هؤلاء. (۲)

که د بخاری ذکر شوي روايت ته لږ په دقت سره زيرشو نووبه وينو چی دبخاری په روايت کی د(رجل من هولاء)جمله هم راغلی نوداجمله صراحتا دليل دی پدی خبره چی دادنبي عليه السلام له لوري دامام اعظم ابوحنيفه (رح) په هکله پيش گويي(وړاندوينه) ده او دمسلم په ذکرشوی روايت کی خوصراحتاداهم راغلی چی نبي عليه السلام دسلمان فارسی په اوږه لاس مبارک کيښوده اووی فرمايل چی که ايمان داسمان پيرونوستوروته وخيژي نوددی فارسيانو له کورنی به داسی څوک پيداشي چی دغه ايمان به حاصل کړي نولدی څخه لکه دلمرروښانه څرګندېږی چی دادامام ابوحنيفه (رح) په هکله بشارت دی ځکه امام ابوحنيفه(رح) اصلادفارس څخه وه: جلال الدين سيوطی (رح) دامام اعظم ابوحنيفه(رح) دفضيلت اوبشارت په هکله دا احاديث صحيح احاديث ګڼلي اوپدی خبل اعتماد خودلې دی. (۳)

البته که دمسلم ذکرشوی روايت ته وګورو نو دمسلم په روايت کی (رجال) لفظ راغلی که د(رجال) لفظ معتبر شي بياهم امام اعظم ابوحنيفه (رح) دنبي عليه السلام پدغه بشارت کی داخل دی ځکه داخويقيني ده چی مرادله ذکرشورواياتوڅخه بشارت دی دفارس خلکوته نه عربوته عمدة القاری دبخاري

۱. صحيح البخاري رقم الحديث ۴۸۹۷

۲. صحيح مسلم رقم الحديث ۲۵۴۶

۳. تبيض الصحيفة فی مناقب الامام ابی حنيفة ص۱۹

ذكرشوي حديث په شرحه كې داسې ليكلي: وقال القرطبي أحسن ما قيل فيهم أنهم أبناء فارس بدليل هذا الحديث لناله رجال من هؤلاء وقد ظهر ذلك بالعيان فإنهم ظهر فيهم الدين وكثر فيهم العلماء. (۱)

اوكه داسې وشي چې په نوموړې حديث دمسلم كې لدې ارشاد دالله (ج) (وآخرين منهم لما يلحقوا بهم) څخه تابعين مرادشي لكه چې داتفسيردعكرمه (رض) څخه نقل شوى. (۲)

نوبيا پدې بشارت كې هم امام اعظم ابوحنيفه (رح) داخل دى څكه چې امام ابوحنيفه (رح) يقيني تابعي وه: بنا په هرتقديرامام ابوحنيفه(رح) پدې بشارت كې داخل دى او كه ددى الهي ارشاد(وآخرين منهم لما يلحقوا بهم) څخه تابعين واخستل شي نوبيا دايقيني ده چې دتابعينو څخه الله (ج) راضي دى نوالله (ج) چې لچاڅخه راضي وي اودهغوى سره څوک عداوت ساتي يقينا دغه خلک دصراط مستقيم څخه بې لارى دي علامه محمدامين شنقيطي په خپل تفسير كې دنوموړې ايات په تفسيركې پدې هكله داسې ليكلي: ولا يخفى أنه تعالى صرح في هذه الآية الكريمة، أنه قد رضي عن السابقين الأولين من المهاجرين والأنصار، والذين اتبعوهم بإحسان، وهو دليل قرآني صريح في أن من يسبهم ويبغضهم، أنه ضال مخالف لله جل وعلا، حيث أبغض من رضي الله عنه؛ ولا شك أن بغض من رضي الله عنه مضادة له جل وعلا، وتمرد وطغيان. (۳)

---

۱. عمدة القاري ص۳۷۲ج۲۸
۲. تفسيرقرطبي ص۹۳ج۱۸
۳. اضواءالبيان فى ايضاح القران بالقران ص۹۳ج۱۰

# (۴) دامام اعظم ابوحنيفه(رح)

## نسبي رشته

دامام اعظم ابوحنيفه(رح) دنسبي رشتی په اړه دری ډوله روايتونه روايت شوي اول: زياتره روايات دامام اعظم ابوحنيفه(رح) دنسبی رشتی په هکله پدی توګه دي: دده خپل نوم نعمان د ثابت زوي د زوطي لمسی دی . زوطی په پيښ د(زا) اوزبردطاءسره ويل کيږي. (۱)

محمدبن اسحاق بکائی دامام اعظم ابوحنيفه (رح) نسب دهغه له لمسی عمربن حمادبن ابی حنيفه(رح) څخه پدی توکه روايت کړی: محمد بن اسحاق البكائي عن عمر بن حماد بن أبي حنيفة قال أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن زوطي فأما زوطي فإنه من أهل كابل ولد ثابت على الاسلام وكان زوطي مملوكا لنبي تيم الله بن ثعلبة فأعتق فولاؤه لنبي تيم الله بن ثعلبة ثم لنبي قفل وكان أبو حنيفة خزازا ودكانه معروف في دار عمرو بن حريث بالكوفة. (۲)

دامام اعظم ابوحنيفه(رح) دلمسي- عمربن حمادله ذکرشوی روايت څخه داخرګنديږي چی دامام اعظم ابوحنيفه (رح) نيکه زوطی په جنګ کی اسيراودغلام په توګه دبنی تيم الله بن ثعلبه کورنی په اسارت کی راغلی وه اوبيا ددوی لخواازادشوی: دويم دامام اعظم ابوحنيفه(رح) بل لمسی اسماعيل بن حمادبن ابی حنيفه(رح) په قسم سره داوايی چی زموږ نيکه زوطی

۱ . اصول الدين عندالامام ابی حنيفة ص٦٩ج ۱المعرف لابن قتبة ص۴۹۵ج ۱الفهرست لابن النديم ص۲۸۴ج ۱التاريخ الكبير للبخاری ص۸۱ج۸: الجرح والتعديل لابن أبي حاتم ۴۴۹/۸؛ طبقات الفقهاء للشيرازي ص۸٦: الطبقات االكبرى لابن سعد ٦/۳٦۸، ۳٦۹؛ تاريخ بغداد ۳۲۳/۱۳-۴۵۴؛ تذكرة الحفاظ ۱٦۸/۱؛ سير أعلام النبلاء ۳۹۰/٦؛ الكامل في التاريخ ۵۸۵/۵؛ وفيات الأعيان ۴۰۵/۵-۴۱۵؛ ميزان الاعتدال ۲٦۵/۴؛ النجوم الزاهرة ۱۲/۲؛ تهذيب التهذيب ۴۴۹/۱۰؛ الطبقات لخليفة بن خياط ص۱٦۷؛ شذرات الذهب ۲۷۷/۱؛ طبقات الحفاظ للسيوطي ص۷۳

۲ . اخبارابی حنيفة للصيمري ص۱۵ج ۱

دهیچاداسارت لاندی ندی راغلی اونه زموږنیکه دچاغلام پاتی شوی هغه دخپلی کورنی خخه داسارت نفی اودخپل نیکه امام اعظم ابوحنیفه (رح) نسبی رشته داسی بیانوي:

قال أحمد ابن عبيد الله بن شاذان المروزي قال حدثنا أبي عن جدي قال سمعت إسماعيل ابن حماد بن أبي حنيفة يقول أنا إسماعيل بن حماد بن النعمان بن ثابت بن النعمان ابن المرزبان من أبناء فارس الأحرار والله ما وقع علينا رق قط ولد جدي في سنة ثمانين وذهب ثابت إلى علي بن أبي طالب رضي الله عنه وهو صغير ودعا له بالبركة فيه وفي ذريته ونحن نرجو من الله ان يكون قد استجاب الله ذلك لعلي بن أبي طالب رضي الله عنه فينا قال والنعمان بن المرزبان أبو ثابت هو الذي أهدى إلى علي بن أبيَ طالب رضي الله عنه الفالوذج في يوم النيروز فقال نوروزنا كل يوم. (۱)

که داامام اعظم ابوحنیفه (رح) هغه نسبی رشتی ته کومه چی دده دوه لمسوعمربن حماداواسماعیل بن حمادلخواذکر شوی زیرشودیرتوپیرلاس ته راځی عمربن حماددامام اعظم ابوحنیفه(رح) دنیکه نوم زوطی ذکرکوی اوهغه دبنی تیم قبیلی له ازادشووغلامانوخخه گني مگربیا بل طرف ته دامام اعظم ابوحنیفه(رح) بل لمسی اسماعیل بن حماددامام اعظم ابوحنیفه(رح) دنیکه نوم نعمان بن مرزبان ذکرکوی اوداوایی چی زموږپه کورنی کی خوک دچاغلام ندی پاتی شوی نوداچی داسماعیل بن حمادبن ابی حنیفه(رح) دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دنیکه نوم هم نعمان وه نه زوطی دغه رایه ابن وردی هم نقل کړی هغه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دنسبی رشتی په اړه داسی ویلی:

وقال إسماعيل بن حماد بن أبي حنيفة: ما مسنا رق قط . روي أن والد أبي حنيفة وهو صغير ذهب إلى علي رضي اللّٰه عنه فدعا له بالبركة فيه وفي ذريته، وقيل: هو النعمان بن ثابت بن النعمان بن المرزبان وأن جده النعمان أهدى لعلي يوم المهرجان فالوذجا، فقال له علي: مهرجونا كل يوم . (۲)

---

۱ . اخبارابی حنیفه ص۱٦ ج ۱ تحقیق منال الائمة الاربعة ص۳ ج ۴

۲ . تاریخ ابن الوردی ص۱۸۷ ج ۱

وبإسناده عن إسماعيل بن حماد بن أبي حنيفة، قال: أنا إسماعيل بن حماد بن النعمان ابن ثابت بن النعمان بن المرزبان من أبناء فارس الأحرار، والله ما وقع علينا رق قط، ولد جدي سنة ثمانين، وذهب ثابت إلى علي بن أبي طالب وهو صغير، فدعا له بالبركة وفي ذريته، ونحن نرجو من الله أن يكون قد استجاب ذلك من علي بن أبي طالب فينا. (١)

داسماعیل بن حمادبن ابی حنیفه(رح) دروایت څخه داڅرګندېږي چې دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دنیکه نوم نعمان وه او زوطی دده نیکه په پنځم پشت کی دی دعلامه کوثری له نظره هم دامعلومېږی چې اسماعیل بن حمادچی دخپل نیکه کومه نسبی رشته ذکرکړی دغه صحت ده. (٢)

دعربو داعادت وه چې دوی به اکثردنیکه نوم په لمسی ایخودلودمثال په توګه. عبدالله بن مطرف بن عبدالله، عبدالله بن مطلب بن عبدالله (٥) عبدالله بن منیب بن عبدالله. (٣) عبدالله بن واقدبن عبدالله (١) عبدالله بن ولیدبن عبدالله(٤) شو، چې پدی توګه سوونومثالونه دتاریخ په پاڼوکی کی موجوددي: عقلا داهم امکان نلری چې زوطی دی په جنګ کی داسیرپه توګه غلام ګرزول شوی وي څکه دامام اعظم ابوحنیفه(رح) جداعلادافغانستان دکابل له مضافاتوڅخه وه اودتاریخ کتابونوپدی تصریح کړی: ، وزوطا من أهل كابل. (٥) اوکه دتاریخ اوراق په دقیقه توګه مطالعه کړونودابه ترلاسه کړو چې کابل دعثمان (رض) دخلافت په دورکی دعبدالرحمن بن سمره (رض) ترمشری لاندی په ۴۲هـ ق کی فتحه شوی الاستیعاب پدی اړه داسی لیکلي:

عبد الرحمن بن سمرةبن حبيب بن عبد شمس بن عبد مناف القرشي العبشمي يكنى أبا سعيد أسلم يوم فتح مكة وصحب النبي صلى الله عليه وسلم وروى عنه؛ ثم غزا خراسان في زمن عثمان؛ وهو الذى افتتح سجستان؛ وكابل؛ وقال خليفة:

---

١. سیراعلام النبلاء ص ۴۹۰ج ۴تاریخ بغدادص۳۲٦ج ۱۳
٢. تانیب الخطیب ص٢٦
٣. تهذیب التهذیب ص۳۵/۴۵
٤. تهذیب التهذیب ص٦٥/٦٩ج٦
٥. تاریخ ابن الوردی ص۱۸۷ج ۱

وفي سنة اثنتين وأربعين وجه عبد الله بن عامر عبد الرحمن بن سمرة إلى سجستان. (١)

نوداخرنگه كيدى شي چى زوطى چى دامام اعظم ابوحنيفه(رح) په خلورم پشت كى نيكه دى دعبدالرحمن بن سمره (رض) په دوركى ژوندى وي اودكابل په جنگ كى دغلام په توگه اسير نيول شوى وي خكه امام اعظم ابوحنيفه دثابت زوى اوثابت دنعمان زوى اونعمان دمرزبان زوى اومرزبان دزوطى زوى اوزوطى دماه زوى دى . البته په كوموموارد وكى چى دثابت نيكه زوطى خودل شوى نودلته دثابت جداعلى ذكرشوى نه خپل حقيقى پلاراوددى ډيرمثالونه موجود دى چى كله ناكله دلمسي نسبت نيكه ته هم كېږي اودنيكه نوم دده دپلارپه خاى يادېږي دمثال په توگه: أسير بن عمرو بن جابر المحاربي: أسير بن جابر فينسب إلى جده وهو أسير ابن عمرو بن جابر المحاربي. (٢)

وگورئ داسيرخپل پلارعمرو دى مگر بيا هم دى خپل نيكه جابرمحاربى ته منسوب شوى نوداچى كابل په (٤٢) هـ ق كى فتحه شوى اوامام اعظم ابوحنيفه(رح) دكابل له فتحى خخه ٢٨يا٣٨كاله وروسه تولدشوى نودابه كوم سليم عقل تسليم كړي چى دكابل په فتحه كى دى زوطى ژوندى وي اوبيا دى دبني تيم بن ثعلبه لخواپه اسارت سره نيول شوى وي . بالفرض والتقديركه په هغه وخت كى ديو انسان عمرپه اوسط ډول (٧٠) كاله تعين كړونودثابت اودده دپلارنعمان اودده دپلارمرزبان درى واړومجموعه عمر(٢١٠) كاله كېږي نودابه كوم منطق وي چى زوطى دى تر(٢١٠) كالوپورى ژوندى وي اوپه جنگ كى داسيرپه توگه ونيول شي . دعلى(رض) په حيات كى ثابت دابوحنيفه(رح) پلارصغيروه اودخپل پلارنعمان سره دعلى (رض) په ملاقات مشرف شوى وه اوعلى(رض) په (٤٠) هـ ق. (٣)

---

١ . الاستيعاب ص٢٥٢ج١

٢ . فتوح البلدان ص٤٨٨ج٢(٣) الاستيعاب ص٣٢ج١

٣ . البداية والنهاية ص٣٢١ج٧

لدی پانی دنیا څخه رحلت کړی اوپدی هرڅوک پوهېږي چی دغه ملاقات په کوفه کی ترسره شوی وه اوهمدانعمان بن مرزبان وه چی علی (رض) ته یی دنوروزپه ورځ پالوده برابرکړی وه. (۱)

نوداسی معلومېږي چی نعمان بن مرزبان دامام اعظم ابوحنیفه نیکه د(۴۰) هـ ق کال په حدودکی په کوفه کی میشت وه نوداکله امکان لري چی دنعمان بن مرزبان نیکه زوطی دی په (۴۲) هـ ق کی په کابل کی ژوندی وي اوپه جنګ کی دی اسیر نیول شوی وي.

بالفرض والتقدیرکه داتسلیم او و منل شي چی زوطی ازادشوی غلام وه دبنی تیم قبیلی لخوانودادامام اعظم ابوحنیه(رح) په نسبی رشته کومه ناوړه اغیزه نکوي څکه داسلام په ټولنیزنظام کی دحقوالی اوبرتری معیارتقوی (پرهیزګاري) خودل شوی اوقومی اوژبنی رشتی یوازی اویوازی دتعارف اسباب ګڼل شوی :

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ. (۲)

وګوری بلال حبشی چی رنګ له نګاه ډیرتوراودابوبکر(رض) لخوایوازادشوی غلام وه مګر په اسلام کی یی دومره لوی مقام ترلاسه کړی وه چی ابوبکرصدیق (رض) خپل خازن اونبي علیه السلام خپل مؤذن ټاکلی وه. (۳)

همدغه بلال(رض) وه چی دامیه بن خلف جمحی له لوری به ورته رنګارنګ تکلیفونه رسیده مګرکله چی په اسلام مشرف شه اودبدر په جنګ کی امیه بن خلف جمحي دبلال (رض) له لوری وه وژل شه نوابوبکرصدیق(رض) بلال (رض) ته وویل: هنیئاً زادك الرحمن خیراً . . . فقد أدركت ثأرك يا بلال(۵)

وګوری زید بن حارثة بن شراحیل بن کعب . هم یوغلام وه مګرکله چی دی داسلام په راوړلومشرف شه اسلام دته دومره عزت وروبخلوچی دنبي علیه السلام

---

۱ . سیراعلام النبلاء ص۳۹۵ج۶

۲ . سورة الحجرات آية ۱۳

۳ . الاستیعاب ص۵۴ج۱

ازادکرده شده غلام اودهغه متبنی زوي يی وګرزولونبي عليه السلام به دخان سره دقريښوپه غونډوکی ګرزولواوهغوی ته به يی فرمايل: هذا ابني وارثاً وموروثاً. (۱)
اصحابو به زيد بن حارث ته دنبي عليه السلام محبوب وايه اونبي عليه السلام بـه خپله فرمايل ماته ډيرګران هغه څوک دی چی الله (ج) پـه هغـه داسـلام قبلولـو انعام کړی اوداالله(ج) رسول ورباندی دازادولو احسـان کـړی وي: وکـان يقـال لزيد بن حارثة حب رسول الله صلی الله عليه وسلم، روی عنـه صـلی الله عليـه وسلم أنه قال: أحب النـاس إلي مـن أنعـم الله عليـه وأنعمـت عليـه (۱) وګـوری سفينه(رض) ته چی يوجليل القدره صحابي وه خپل نوم يی مهران اواسم کونيه يی ابو عبدالرحمن وه دنبي عليه السلام لخوا ازادشـوی غـلام وه يـا دنبـي عليـه السلام دبی بی ام سلمة(رض) لخوا(۱) تقوی اوپرهيزګاری سفينه(رض) ته دومره برتـري وربخلـی وه چـی دغـره لـه زمـرو څخـه بـه يـی دخپلوضرورتونوسرتـه رسولوکاراخستلو يووخت لده څخه په يوه ځنګل کـی خپـل ملګـری بـی درکـه شوی وه څه ګـوری چـی يـوزمری ولاړدی سـفينه (رض) زمـری تـه غـږ کـړ ای اباالحارث زه دنبي عليه السلام ازادشوی غـلام يـم ماڅخـه خپـل ملګـری لادرک شوی هغه زمری دسفينه (رض) خواته راغی اوپه خپله لکی يی هغـه تـه داسـی اشـاره وکـړه لکـه څنګـه چـی يوسـپی خپـل مالـک تـه دوفـاداری اظهـارکوی سفينه(رض) دزمری سره يوځای روان شه اوخپلوملګروته يی وه رسولو. (۲)
وعن ابن المنكدر أن سفينة مولى رسول الله صلى الله عليه وسلم أخطأ الجـيش بأرض الروم أو أسر فانطلق هاربا يلتمس الجيش فإذا هـو بالأسـد . فقـال: يـا أبـا الحارث أنا مولى رسول الله صلى الله عليه وسـلم كـان مـن أمـري كيـت وكيـت فأقبل الأسد له بصبصة حتى قام إلى جنبه كلما سمع صوتا أهـوى إليـه ثـم أقبـل يمشي إلى جنبه حتى بلغ الجيش ثـم رجـع الأسـد . رواه في " شرح السـنة (۳)
داچی داسلام په ټولنيزنظام کی معياردبهتری تقوا خودل شوی نوکله چی دتقوا

---

۱. الاستيعاب ص٥٥/ ١٦١/ج١
۲. الاستيعاب ص١٦١/٢٦١ج١
۳. مشكاة المصابيح رقم الحديث٥٩٤٩باب الكرامات

ماده په غلام کی هم موجودوی دغه غلام دهغه حر (اصیل) شخص ځخه ډیربهتردی چی تقوانلري دنبي علیه السلام له لوری ډیرزیات غلامان ازادشوی وه اودغه ازادشوی غلامان داسلام لوی خادمان گرزیدلی وه چی دتقوی اوپرهیزگاری په اساس ورته ډیرپه درنه کتل کیده دنبي علیه السلام لخواچی خومره غلامان ازادشوی وه پدی هکله بومستقل کتاب په نامه (الفخر المتوالي فیمن انتسب للنبي من الخدم والموالي) لیکل شوی دی: که حقیقت ته نظروګرواولمرپه دوه ګوتوپټ نکړونولکه دروښانه لمربه دالاس ته راوړوچی په دیني مسائلوکی مخ کښ فقهاء په اکثریه توګه ازادشوی غلامان وه اوتجربی داثابته کړی چی علم په اکثریه توګه فقراء لاس ته راوړی امام شافعي (رح) پدی اړه داسی ویلی . وقال الربیع: سمعت الشافعي یقول: (أقدر الناس على طلب العلم الفقراء). (۱)

عطاء خراساني وایی زه رصافه مقام کی هشام بن عبدالملک ملاقات ته ورغلم هشام بن عبدالملک لماځخه پوښتنه وکړه ای عطاء تاته په ښارونوکی فقیه علماء معلوم دی؟عطاء خراسانی وایی ماورته وویل هو هشام بن عبدالملک راته وویل په مدینه منوره کی ډیرفقیه عالم څوک دی ماورته وویل نافع ازادشوی غلام دابن عمر (رض) بیایی راځخه وه پوښتل په مکه معظمه کی ډیرفقیه عالم څوک دی ماورته وویل عطاء بن ابی رباح هغه وویل داعربی دی اوکه ازادشوی غلام ماوویل ازادشوی غلام بیایی وویل په یمن کی فقیه عالم څوک دی ماوویل طاوس بن کیسان هغه وویل عربی دی اوکه ازادشوی غلام ماوویل ازادشوی غلام بیا هغه وویل به یمامه کی لوی فقیه عالم څوک دی ماوویل یحی بن کثیرهغه وویل عربی دی که ازادشوی غلام ماوویل ازادشوی غلام بیاهغه وویل په جزیره کی لوی فقیه څوک دی ماوویل میمون بن مهران هغه وویل عربی دی که ازادشوی غلام ماوویل ازادشوی غلام بیا هغه وویل په خراسان کی لوی فقیه څوک دی ماوویل ضحاک هغه وویل عربی دی که ازادشوی غلام ماوویل ازادشوی غلام بیا هغه وویل په بصره کی لوی فقیه څوک دی ماوویل حسن

۱ . مناقب الشافعي للابری ص۱۰۲ ج۱

اوابن سیرین هغه وویل داعربی دي اوکه ازادشوي غلامان ماوویل ازادشوی غلامان بیاهغه وویل په کوفه کی لوي فقیه څوک دی ماوویل ابراهیم نخعی هغه وویل عربی دی اوکه ازادشوی غلام ماوویل عربی دی هشام بن عبدالملک وویل نژدی وه چی زما زړه چاودیدلی وی تاخوپه هره پوښتنه کی فقه عالم ازادشوی غلام یادولو. (۱)

غرض داچی که دامام اعظم ابوحنیفه په څلورم پشت کی نیکه زوطی ازادشوی غلام هم وی داکوم عاردامام اعظم ابوحنیفه(رح) لپاره ندی څکه مطلوب دانسان له تخلیق څخه دلوی څښتن تعالی بندګی اودهغه درالهږل شووپیغاماتوپیروي ده لکه ذکرشوی فقهاء اګرکه ازادشوی غلامان وه مګرپه خپل وخت کی دتقوا اوفقاهت له نګاه نمونی وی اوپه همدی وجه په تاریخ کی نه هیریدونکي لوړ مراتب لري چی ترقیامت پوری به یی خلک په ښه تعریف سره یادوي:

دریم روایت بیا داسی دی چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) نسبی رشته داسی خودل شوی: الإمام الأعظم أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن كاوس بن هرمز بن مرزبان:

نو بنا پدی روایت دامام اعظم ابوحنیفه(رح) نسبی رشته تر آدم علیه السلام پوری پدی توګه خودل شوی:

الإمام الأعظم أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن كاوس بن هرمز بن مرزبان بن بهرام بن مهركز بن ماحين ابن حسينك بن أذربود بن سروس بن نردمان بن بهرام ابن مهركز بن أردرباد بن أرزحود بن بردفيروز بن سيدوس ابن رفتار بن ايتكرز بن كودبو بن كردبو بن سرواد بن وادين بن سيد وس بن نزد بن تحت بود بن شادان بن هرمزديار بن خاتسا بن دينار بن كيار بن ددين بن سيد وس بن كودود بن ساسان الملك بن بابك الملك بن حاز الملك بن مهراس الملك بن ساسان الملك بن بهمن بن اسفنديار الملك بن كستاسب الملك ابن نهراس الملك بن كتمش الملك بن كي ياسين الملك بن كيابود الملك بن كيقباد

---

۱ . مناقب امام اعظم ابوحنیفه ص٦تالیف موفق بن احمدمکی المتوفی ٥٦٨

الملك بن داد الملك بن ترجمان الملك بن برمان سوه الملك بن منوجهر الكيان الملك وهو الفارس اليهود ابن يعقوب النبي صلى الله عليه وسلم ابن إسحاق ابن إبراهيم ابن آزر وهو تارخ بن نافور بن سروع بن زاغو بن فالخ بن عابر وهو هود النبي صلى الله عليه وسلم بن شالخ بن أرفشحد بن سام بن نوح النبي صلى الله عليه وسلم بن لمك بن متوشلخ بن أخنوخ بن مارد بن مهليل بن قينان ابن أنوش بن شيث بن آدم صلى الله عليه وسلم وعلى سائر الأنبياء أجمعين هكذا رأيت هذا النسب من أوله إلى آخره بخط الحافظ أبي إسحاق إبراهيم الصريفيني رحمه الله تعالى وقد تقدم ضبط بعض هذه الأسماء في نسب سيدنا رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وصحبه وسلم. (١)

موسوعه كويتى هم دابوحنيفه (رح) دنيكه نوم كاوس بن هرمزذكركړى موسوعه كويتى پدى اړه داسى ويلى: أبو حنيفة (٨٠- ١٥٠هـ) هو النعمان بن ثابت بن كاوس بن هرمز . ينتسب إلى تيم بالولاء . الفقيه المجتهد المحقق الإمام، أحد أئمة المذاهب الأربعة، قيل: أصله من أبناء فارس، ولد ونشأ بالكوفة كان يبيع الخز ويطلب العلم ؛ ثم انقطع للدرس والإفتاء. (٢)

د ابوحنيفه (رح) له ذكرشوى نسبى شجرى څخه داڅرګند ېږى چى امام اعظم ابوحنيفه(رح) پلرنى اصل ټاټوبى كابل دى او ابوحنيفه (رح) دنسب له نګاه عجمى دى داچى په ذكرشوى نسبى رشته كى دامام اعظم ابوحنيفه(رح) دنيكه نوم كاوس بن هرمز اودعمربن حمادپه روايت كى زوطى اوداسماعيل بن حمادپه روايت كى نعمان بن مرزبان خودل شوى نوددى خواب دادى چى دده اصل نوم په عجمى كى كاوس وه اوپه زوطى اونعمان سره هم يادېده اوياداچى دده دنيكه خپل نوم كاوس دى اونعمان اوزوطى يى لقبونه دى.

١ . الجواهرالمضية فى طبقات الحنفية ص٢٧ج ١

٢ . الموسوعة الكويتية ص٣٣٦ج ١

# (۵) دامام اعظم ابوحنيفه(رح) اسم كونيه په ابوحنيفه سره

بوتعدادمتعصب اشخاص وايي چې حنيفه دامام اعظم ابوحنيفه لوروه او ابوحنيفه (رح) دلورپه نامه مشهورشوی.
ددغه اشخاصوداخبری له دوه وجهوخالی نده ياخودغه ورونه پوهه لری مگردامام اعظم ابوحنيفه(رح) سره دتعصب په بنا دارنگه پوچ تبليغات کوي اودويمه وجه يې داده چې دغه ورونه اصلادامام اعظم ابوحنيفه (رح) په اړه معلومات نلري بلکه دوی يوازی اويوازی دلوی څښتن تعالی ددی ارشاد مصداق گرزيدلی:
وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلَّا أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ. (۱)
داسی هم نده چې گنی يوازی امام اعظم ابوحنيفه(رح) په ابوحنيفه اسم كونيه سره شهرت لرلو بلكه شل جليل القدره فقهاء وه چې په ابوحنيفه سره يې شهرت لرلو صاحب دقاموس محيط پدی اړه داسی ويلي:
وأبو حَنيفةَ: كُنيَةُ عشرين من الفُقَهاءِ أشْهَرُهم إمامُ الفُقهاءِ النُّعمانُ. (۲)
نودابه كوم سالم منطق وي چې وويل شی دغه شل فقهاءټول دلونوپه نامه شهرت لرلو، نوڅوک چې داخبره کوی چې حنيفه دامام اعظم ابوحنيفه (رح) لوروه داخبره کوم حقيقت نلری ځکه تاريخ دامام اعظم ابوحنيفه(رح) ديوزوی حماد(رح) څخه پرته دبل كوم زوی يالورهيڅ ذکرندی کړی عنايت الله ابلاغ پدی اړه داسی ويلي: هغه روايت چې پکی ويل شوي چې امام اعظم ابوحنيفه (رح) لوردرلوه صحت نلري ځکه تاريخ دحماد(رح) څخه پرته بل کوم زوی يادلورنسبت امام اعظم ابوحنيفه(رح) ته ندی کړی البته کوم روايت چې

۱. سورة البقرة آية ۷۸
۲. القاموس المحيط ص۱۰۳٦ج۱

خطيب بغدادي پدى اړه نقل کړى چى امام اعظم ابوحنيفه (رح) لوردرلوده دغه روايت منقطع دى. (۱)

نوداچى امام اعظم ابوحنيفه(رح) په ابوحنيفه اسم کونيه سره څنګه مشهورشه اول بايد دلفظ دحنيفه هراړخيزه څېړنه وکړواوبيادادى علت ذکرکړوچى امام اعظم ابوحنيفه (رح) پدى اسم کونيه سره څنګه شهرت پيداکړ . حنيفة لفظ مؤنث دحنيف دى لکه شريف چى مذکردشريفة ا وکريم مذکردکريمة راځي.

حنيف په حنفاء اواحناف سره جمع کېږي لکه دشريف جمعه چى شرفاء اواشراف راځي حنيفة جمعه يى حنيفات راځي لکه دشريفة جمع چى شريفات او دکريمة جمع چى کريمات راځي لفظ دحنيف په صيغه دمفردسره په قرآن کى (۱۰) ځايه راغلى مثلاپه راتلونکو الهى ارشاداتوکى:

(۱) وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُوا قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ. (۲)

(۲) مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ: (۱)

(۳) قُلْ صَدَقَ اللَّهُ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ: (۳)

(۴) وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا: (۴)

(۵) إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ.(۴)

(٦) قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ: (۵)

---

۱ . امام اعظم ابوحنيفه وافکاراو ص١٦

۲ . سورة البقرة آية١٣٥/٦٧

۳ . العمران آية ۹۵

٤ . النساء آية ١٢٥

۵ . ۴الانعام آية٧٩/ ١٦۴

(۷) وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ. (۱)
(۸) إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ: (۲)
(۹) ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۳)
(۱۰) فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (۴)

اودوه خایه دالفظ په صیغه دجمع سره ذکرشوی مثلا

(۱) حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ:
(۲) وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ: (۵)

اصلاحنف دانسان یوی ښپی هغه کوږوالی ته ویل کیږي چی ښپه یی داخل طرف ته لږه کږه وي دلغت علماءدالفظ پدی توګه توضیح کړی . الحَنَفُ: الاعوجاج في الرجل إلى داخل(۶)

الحَنَفُ محركةً: الإستقامةُ والإعوجاجُ في الرِّجلِ أو أن يُقبِلَ ا خدَى ا بهامَيْ رِجلَيه على الأخرَى أو أن يَمشِيَ على ظَهرِ قدَمَيه من شِقِّ الخنصَرِ أو مَيلٌ في صَدرِ القَدَمِ(۷)

في القدمين الحنف وهو أن تميل كل واحدة بإبهامها على صاحبتها(۸)
الأحنفُ هو الذي يمشي على ظهر قدمه من شِقِّها الذي يَلي خِنصِرَها... وأنشد لداية الأحنف وكانت تُرَقِّصه وهو طِفل واللهِ لَولا حَنَفٌ برِجلِهِ ما كانَ في فِتيانِكُم

---

۱ . یونس آیة ۱۰۵
۲ . النحل آیة ۱۲۰/۱۲۳
۳ . الروم آیة ۳۰
٤ . الحج آیة ۳۱
۵ . البینة آیة ۵
۶ . المصباح المنیرفی غریب الشرح الکبیر ص۱۵۴ج۱
۷ . القاموس المحیط ص۱۰۳۶ج۱
۸ . الکنزاللغوی ص۲۲۷ج۱

من مثله.(١)

دذكرشوى لغوى تحقيق څخه داخرګنده شوه چى احنف هغه چاته ويل كېږي چى دهغه دخپى په قدم كى كوږوالى اوتمايل وى بيا پدى لغت كى وسعت راغلى اوحنيف هرهغه چاته ويل شوى چى دباطلوڅخه حق ته راګرزيدلى وي اوپه حق يى استقامت اختياركړى وي: والحَنيفُ المُسلِمُ الذي يَتحَنَّفُ عن الأديانِ أي يَمِيلُ إلى الحقِّ.(٢)

(الحَنيفُ) المسلم لأنه مائل إلى الدين المستقيم.(٣)

(الحنيف) المائل من شر إلى خير والصحيح الميل إلى الإسلام الثابت عليه.(٤)

عن أبي زيد انه قال الحنيف المستقيم.(٥)

نوبنا پدى ويلى شو چى دين اسلام ته ملة حنيفى څكه ويلى شي چى داسلام دين يومستقيم دين دى: والحنيفية، ملة الإسلام.

په ډيرو رواياتوكى دين اسلام ته حنيفيت ويل شوى مثلا په راتلونكورواياتو كى: عن سعيد بن العاص أن عثمان بن مظعون: قال: يارسول الله صلى الله عليه و سلم الله أئذن لي في الاختصاء فقال له: يا عثمان إن الله قد أبدلنا بالرهبانية الحنفية السمحة والتكبير على كل شرف فإن كنت منا فاصنع كما نصنع (١) عن أبي أمامة رضي الله عنه: قال: كانت امرأة عثمان بن مظعون امرأة جميلة عطرة تحب اللباس والهيأة لزوجها فزارتها عائشة وهي تفلة قالت: ما حالك هذه؟ قالت: إن نفرا من أصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم منهم علي بن أبي طالب و عبد الله بن رواحة و عثمان بن مظعون قد تخلوا للعبادة وامتنعوا من النساء وأكل اللحم وصاموا النهار وقاموا الليل فكرهت أن أريه من حالي ما يدعوه إلى ما عندي لما يخلي له فلما دخل النبي صلى الله عليه و سلم أخبرته عائشة فأخذ رسول الله صلى الله عليه و سلم نعله فحملها بالسبابة من إصبعه اليسرى ثم انطلق

---

١. لسان العرب ص٥٦ج١

٢. المصباح المنيرفى غريب الشرح الكبيرص١٥٦ج١

٣. المعجم الوسيط ص٢٠٣ج١

٤. تهذيب اللغة ص١٣٦ج٢

٥. المعجم الكبيرللطبرانى رقم الحديث ٧٧١٥/٥٥١٩

سريعا حتى دخل عليهم فسألهم عن حالهم؟ قالوا: أردنا الخير فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم: إنما بعثت بالحنفية السمحة ولم أبعث بالرهبانية البدعة ألا وإن أقواما ابتدعوا الرهبانية فكتبت عليهم فما رعوها حق رعايتها ألا فكلوا اللحم وائتوا النساء وصوموا وأفطروا وصلوا وناموا فإني بذلك أمرت(١)

عن أبي أمامة قال: خرجنا مع النبي صلى الله عليه و سلم في سرية من سراياه فمر برجل بغار فيه شيء من ماء [ فجذبته نفسه أن يقيم في ذلك الغار فيقوت ما فيه من ماء ] ويصيب مما حوله من البقل ويتخلى من الدنيا ثم قال: لو أني أتيت نبي الله صلى الله عليه و سلم فذكرت ذلك له فإن أذن لي فعلت وإلا لم أفعل فأتاه فقال:

يا نبي الله إني مررت بغار فيه ما يقوتني من الماء والبقل فحدثني نفسي بأن أقيم وأتخلى من الدنيا فقال النبي صلى الله عليه و سلم: إني لم أبعث باليهودية ولا النصرانية ولكني بعثت بالحنفية السمحة والذي نفسي بيده لغداة أو روحة في سبيل الله خير من الدنيا وما فيها ولمقام أحدكم في الصف خير من صلاته ستين سنة(١) عن ابن عباس: سئل الله صلى الله عليه و سلم أي الأديان أحب إلى الله؟ قال الحنيفية السمحة.(١)

په ذکرشووروایاتوکی دحنفیت له کلمی څخه داڅرګنده شوه چی حنفیت دملة اسلام صفت دی یعنی نبي علیه السلام اصحابو ته وویل چی زه په یوداسی ملة حنفی سره چی اسان دی لیږل شوی یم نوداویلی شوچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته ابوحنیفه له دوه وجهوویلی شي یوه وجه یی داده چی حنیفه دعراقیانوپه اصطلاح دوات (مشوانی) ته ویل کیږي نوداچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) سره دتل لپاره دوات(مشوانی) دشرعی مسائلودلیکلولپاره موجودوه نوپه ابوحنیفه سره یی شهرت وه موندلو.(٢)

یعنی دده سره به دلیکلو لپاره مشوانی دتل لپاره پرته وه تابه ویل چی داګنی دمشوانی پلاردی نوداچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته دمشوانی پلارویل شوی

---

١. المعجم الكبيرللطبراني رقم الحديث ١١٥٧٢/٨٨٦٨

٢. امام اعظم ابوحنیفه وافکاراو ص عنایت الله ابلاغ

دااسنادمجازی دی اوپه اسلام کی ددی ډېرمثالونه موجوددي دمثال په توګه علي (رض) اسم کونیه ابوتراب وه.(۱)

اوعلی (رض) پدی اسم کونیه سره نبي علیه السلام خپله نامداره کړی وه اونبي علیه السلام ته به دعلی (رض) دااسم کونیه ډېرمحبوب وه.(۲)

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَ رَسُولُ اللهِ ؟ بَيْتَ فَاطِمَةَ فَلَمْ يَجِدْ عَلِيًّا فِي الْبَيْتِ فَقَالَ أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ قَالَتْ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ فَغَاضَبَنِي فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ؟ لِإِنْسَانٍ انْظُرْ أَيْنَ هُوَ فَجَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هُوَ فِي الْمَسْجِدِ رَاقِدٌ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ ؟ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ قَدْ سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ وَأَصَابَهُ تُرَابٌ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ ؟ يَمْسَحُهُ عَنْهُ وَيَقُولُ قُمْ أَبَا تُرَابٍ قُمْ أَبَا تُرَابٍ.(۳)

ابوهريرة(رض) مثلاابوهریره(رض) دغه اسم کونیه ده ته دیوادني مناسبت له وجهی شخصادنبي علیه السلام لخواده ته ایخودل شوی اوهغه داچي ابوهریره (رض) یووخت دخان سره پیشوراوړی وه نونبي علیه السلام هغه په ابوهریره سره نامدارکړ: وروى يونس بن بكير عن ابن إسحاق، قال: حدثني بعض أصحابنا عن أبي هريرة قال: كان اسمي في الجاهلية عبد شمس فسميت في الاسلام عبد الرحمن وإنما كنيت بأبي هريرة لأني وجدت هرة فجعلتها في كمي فقيل لي: ما هذه؟ قلت هرة قيل فأنت أبو هريرة. وقد روينا عنه أنه قال: كنت أحمل هرة يوماً في كمي فرآني رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لي: " ما هذه؟ " فقلت: هرة فقال: " يا أبا هريرة ". وهذا أشبه عندي أن يكون النبي صلى الله عليه وسلم كناه بذلك والله أعلم.(٤)

غرض داچی په اسم کونیه کی داضروی نده چی مسمی په اسم کونیه سره دی حقیقتادمدلول داسم کونیه سره برابروی بلکه اشخاص دیوشی سره دادني ملابست له وجی هم په اسم کونیه سره مسمی کیدی شي اودتاریخ په پاڼو کی

---

۱ . الاصابة فی تمیز الصحابة ص۵۹٦ج۴

۲ . الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ص۳۴۴ج ۱البدایة والنهایة ص۳۰۳ج۳

۳ . صحیح البخاری رقم الحدیث ۳۴۱/ ٦۲۸۰

٤ . الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ۳ص۷۰ ج۲

ددى په سوونومثالونه موجودى دويم ياداچى حنيفه مؤنث دحنيف دى چى جمع يى حنفاء رازى حنيف هغه چاته ويل كيږي چى هغه ددين اواسلام له نگاه يوكامل شخصيت وي تاج العروس پدى اړه داسى ويلي: (الحُنَفَاء) جمع حنيف والمراد به كامل الإسلام.([1])

نوامام اعظم ابوحنيفه (رح) ته ابوحنيفه پدى لحاظ ويل كيږى چى دده دنهايتى حق پرستى اوداسلام په اصولو دزيات ټينگارله امله دى دملت حنفى په اب(پلار) سره نامدارشه ياداچى حنفية هغه خاخ ته هم ويل كيږى چى دخرما ونى سته كى دخاوروځخه بره راوه ټوكيږي اودخرما ونى سره يوځاى غټ شي: (الحنفية) الصنبور نسبة إلى الحنفي(٢) دصنبورمعنا معجم وسيط پدى توگه كيږى: (الصنبور) سعفة تنبت في جذع النخلة لا في الأرض والنخلة تخرج من أصل النخلة الأخرى من غير أن تغرس.([2])

نودلته داهم كيدى شى چى داسلام تشبيه دخرما ونى سره وركړشوى وى نوداچى دغه څلورمذهبونه داجتهادى مسائلوپه اساس داسلام لدغه ونى له اصله راټوكيدلي نوابوحنيفه ته ابوحنيفه پدى بنيادويل كيږي چى دى دحنفي مذهب مؤسس دى لكه پلارچى دځپل اولادلپاره اساس وي نوددين صفت حنيف راځى يعنى (الدين الحنيف) ويلى شي اودملت صفت الحنيفية راځي(الملة الحنيفية) ويلى شي ياداچى تحنف تحرى ته ويل كيږى عرب وايى تحنف فلان اى تحرى طريق الاستقامة، فلانى دمستقيمي لارى دموندلولپاره سوچ اوفكروكړنوامام اعظم ابوحنيفه(رح) ته ابوحنيفه ځكه ويل كيږي چى ده به دتل لپاره په قرآن اوسنتوكى اجتهادكولواوحق ته درسيدولپاره سوچ اوفكركولو نودزيات اجتهادله امله دى په ابوحنيفه سره نامدارشه نوهرهغه څوك چى دملت ابراهيمي چى داسلام دين دى اتباع اوپيروى وكړى هغه ته حنفى ويل كيږي.

---

[1]. تاج العروس من جواهرالقاموس ص١٠٦ج١

[2]. المعجم الوسيط ص٢٠٣/٥٢٤ج١

# (٦) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) پلرنی اصلی ټاټوبی

داچی امام اعظم ابوحنیفه (رح) اصلاًکوم وطن څخه وه؟تاریخ په خپل وخت او زمان سره دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دپلرني اصلی وطن په هکله مختلف نظرونه وړاندی کړي خوصحیح نظرهغه نظر دی چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) اصلاافغانی الاصل دافغانستان وه اوخپل پلرنی اصلی ټاټوبی یی پروان ولایت وه اودده نیکه دپروان ولایت په خواجه سیاران نومی کلی کی تولدشوی وه.(۱)
داچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) افغانی الاصل دپروان ولایت وه دلیل پدی دادی چی وزارت دمعارف د(پروان په نامه لیسه) لیسه د(نعمان په نامه لیسه) وه نوموله اودکابل ابوحنیفه مدرسه چی اول یی د(المدرسة الشرعیة) په نامه شهرت لرلو دمعارف وزارت لخوا د(ابوحنیه مدرسه) په نامه وه نومول شوه دعنایت الله ابلاغ په نظرداچی دپروان لیسه دنعمان په نامه نومول شوی پدی کی دافغانستان معارف وزارت دامام اعظم ابوحنیفه (رح) اصلی پلرنی ټاټوبی په نظرکی نیولی اوداچی دکابل شرعی معهداومدرسه دابوحنیفه مدرسی په نامه نومول شوی نوپدی کی دافغانستان معارف وزارت دامام اعظم ابوحنیفه(رح) علمی منهج اوفقهی درایت په نظرکی نیولی.(۲)
نوداچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په اصل کی افغانی الاصل وه اودده دنیکه اصل ټاټوبی افغانستان وه خطیب بغدادی پدی اړه داسی ویلی: أخبرنا الحسن بن محمد الخلال أخبرنا علي بن عمرو الحريري أن أبا القاسم علي بن محمد بن كاس النخعي أخبرهم قال حدثنا محمد بن علي بن عفان حدثنا محمد بن

۱ . حدیقة الاقالیم ص ۳۶۷/۴۰۰تالیف مرتضی حسین د الامام الاعظم ابوحنیفه المتکلم په حواله ص۱۲قلمی نسخه تالیف عنایت الله ابلاغ
۲ . الامام الاعظم ابوحنیفة المتکلم ص۱۲

إسحاق البكائي عن عمر بن حماد بن أبي حنيفة قال أبو حنيفة النعمان بن ثابت
بن زوطي فاما زوطي فإنه من أهل كابل(١)

# (۷) امام اعظم ابوحنیفه(رح) تابعي وه

داچې امام اعظم ابوحنیفه تابعی دی اوکه نه پدی هلکه دعلماء ترمنځ دېراختلاف موجوددی مګرصحیح نظرهغه نظردی څوک چې امام اعظم م ابوحنیفه(رح) تابعی ګڼي نوداچې امام اعظم ابوحنیفه(رح) ملاقات دخواصحابوسره شوی پدی هکله دعلماء څخه مختلف نظرونه نقل شوي تاریخ ابن وردي دغه ملاقات دڅلوروراتلونکواصحابوسره ثابت ګڼلي.

انس بن مالك، په کوفه کې عبد اللهِ بن أبي أوفى سره، په مدینه کې دسهل بن سعد الساعدي، اودأبو الطفیل عامر بن واثلهسره، ابن وردی پدی اړه داسی ویلي: أدرك أبو حنيفة اربعة من الصحابة وهم: انس بن مالك وعبد اللهِ بن أبي أوفى بالكوفة وسهل بن سعد الساعدي بالمدينة وأبو الطفيل عامر بن واثلة.(۱)

امام صیمري دهغه اصحابو په هکله دکومواصحابوسره چې دامام اعظم ابوحنیفه(رح) ملاقات شوی اوروایات یې تری هم اوریدلي سندا داموضوع داسی توضیح کړی.(۲)

حدثنا أبو بكر هلال بن محمد ابن اخي هلال الرأي قال ثنا أبي أبو عبيد الله محمد بن محمد قال ثنا محمد بن حمدان الطيالسي قال ثنا أحمد بن الصلت قال ثنا محمد بن سماعة عن أبي يوسف عن أبي حنيفة انه قال حججت مع أبي سنة ست وتسعين ولي ست عشرة سنة فإذا أنا بشيخ قد اجتمع الناس عليه فقلت لأبي من هذا الرجل فقال هذا رجل قد صحب محمدا صلى الله عليه وسلم يقال له عبد الله ابن الحارث بن جزء فقلت لأبي أي شيء عنده قال أحاديث سمعها من النبي صلى الله عليه وسلم فقلت قدمني إليه حتى أسمع منه فتقدم بين يدي فجعل يفرج عني الناس حتى دنوت منه فسمعته يقول سمعت رسول الله

---

۱. تاریخ ابن وردی ص۱۸۸ج ۱

۲. تاریخ بغدادص۳۲۵ج۱۳

صلى الله عليه وسلم يقول من تفقه في دين الله كفاه الله همه ورزقه من حيث لا يحتسب([1])

ژباړه: امام ابویوسف(رح) وایي امام اعظم ابوحنیفه (رح) ویلي زه په (۹٦) هـ ق کې (١٦) کلن وم دخپل پلارسره دحج فریضې اداکولوپاره تللی وم موږدیوشیخ سره مخامخ شوچې خلک تری راتاوشوی وه ما دخپل پلارڅخه پوښتنه وکړه داڅوک دی هغه راته وویل داخوعبدالله بن حارث بن جز(رض) دنبي علیه السلام صحابي دی امام اعظم ابوحنیفه(رح) وایي ماخپل پلارته وویل دده سره څه دی هغه راته وویل ده دنبي علیه السلام څخه احادیث اوریدلی دي ماورته وویل مادته ورورڼدی کړی چې زه تری څه واورم زه دده خواته نژدی شوم ما دعبدالله بن حارث(رض) څخه واریده چې ویل یې مادنبي علیه السلام څخه اوریدلی چې فرمایلی یې دي چاچې په دین کې پوهه حاصله کړه الله (ج) به دده دضرورتونودپوره کولولپاره کافي شي اوالله (ج) به دته لداسې ځایه رزق ورکړي چې دده گمان به هم نه کېږي.

(۲) عن أبي يوسف عن أبي حنيفة قال سمعت أنس بن مالك رضي الله عنه يقول سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول الدال على الخير كفاعله والله يحب إغاثة اللهفان: ژباړه: امام ابویوسف (رح) وایي امام اعظم ابوحنیفه(رح) ویلي. ماد انس(رض) څخه اوریدلي چې هغه ویل نبي علیه السلام فرمایلي. چاچې بل ته دنیکۍ لاره وښودله داداسې شولکه ده چې خپله دغه دنیکۍ کار کړی وي اوالله(ج) دهغه چاسره مینه لري څوک چې دضرورتمند رواضرورت پوره کړي.

قال لنا أبو بكر هلال وقد أدرك أبو حنيفة من الصحابة أيضا عبد الله بن أبي أوفى وأبا الطفيل عامر بن واثلة وهما صحابيان: امام صیمري وایي موږته ابوبکرهلال ویلي امام اعظم ابوحنیفه (رح) دعبدالله بن ابی اوفی اوعامربن واثله(رض) سره هم ملاقات شوی اودا دواړه دنبي علیه السلام اصحاب دي.

(۳) أخبرنا ابو القاسم عبد الله بن محمد الحلواني قال ثنا أبو بكر مكرم بن احمد قال ثنا احمد بن محمد قال سمعت أبا نعيم يقول ولد أبو حنيفة سنة ثمانين

[1] اخبارابی حنیفة (رح) ص۱۸ ج۱

وتوفي سنة خمسين ومائة ورأى انس بن مالك سنة خمس وتسعين وسمع منه:
ژباړه: ابونعیم وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په (۸۰) هـ ق کې زېږيدلی دی اوده انس بن مالک(رض) په (۹۵) هـ ق کې لیدلی اوله هغه څخه یې احادیث هم اوریدلی دي.

(۴)أخبرنا أبو حفص عمر بن إبراهيم المقرىء قال ثنا مكرم بن أحمد قال ثنا أحمد ابن محمد ثنا ابن سماعة وبشر بن الوليد عن أبي يوسف عن أبي حنيفة قال كان علماؤنا كلهم يقولون في سجدتي السهو انهما بعد السلام ويتشهد فيهما ويسلم قال حماد بن أبي سليمان هكذا يفتي أنس بن مالك قال أبو حنيفة وسألت أنس ابن مالك فقال هكذا هو([1])

دذکرشووروایاتوڅخه داپه ډاګه شوه چې امام اعظم ابوحنیفه(رح) عبدالله بن حارث بن جز (رض) سره هم ملاقات شوی اوله ده اوانس بن مالک(رض) څخه یې روایات هم روایت کړي: ژباړه امام ابی یوسف(رح) وایی زموږ حنفی علماء به ویل سجده سهوه به لمونځ کونکی دسلام څخه وروسته کوي اوبیا به تشهدوایی اودتشهدویلوڅخه وروسته به دلمانځه څخه دفا رغیدوسلام ګرزوي حمادبن ابی سلیمان وایی انس بن مالک (رض) به هم همداسی فتوه ورکوله امام اعظم ابوحنیفه (رح) وایی ماداانس بن مالک (رض) څخه پدی هکله پوښتنه وکړه هغه راته وویل هو سجده سهوه په همدی طریقه ده.

په کوفه کې آخری صحابي چې په (۸۷) هـ ق کې وفات دی عبدالله بن ابی اوفی(رض) دی دهغه روایت په اساس چې امام اعظم ابوحنیفه(رح) په (۸۰) هـ ق تولدشوی دعبدالله بن ابی اوفی(رض) دوفات په وخت کې دامام ابوحنیفه(رح) عمر (۷) کلن وه اودهغه روایت په اساس چې امام عظم ابوحنیفه(رح) تولدپه (۷۰) هجری شوی نودامام اعظم ابوحنیفه(رح) عمردعبدالله بن ابی اوفی (رض) دوفات په وخت کې (۱۷) کلن وه.([2])

هغه صحابي چې دامام اعظم ابوحنیفه(رح) ملاقات ورسره شوی سهل بن

---

۱ . اخبارابی حنیفة ص۱۹/۱۸ج اللصیمری المتوفی

۲ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ۱/۱۰ للبزازالکردری المتوفی ۸۲۷هـ ق

سعدساعدی (رض) دی سهل بن سعدساعدی (رض) اخری هغه صحابي دی چی په مدینه منوره کی وفات شوی (۱) دانس بن مالک(رض) و فات دتاریخ په هکله تاریخ دانان مختلف دي یوتعدادوایی په (۹۱) کی وفات دی یوتعدادوایی په (۹۲) کی وفات دی یوتعدادوایی په (۹۳) کی وفات دی که دامام عظم ابوحنیفه(رح) تولدپه (۸۰) هجری کی یقینی شی نودامام اعظم ابوحنیفه(رح) به دانس بن مالک (رض) دوفات په وخت کی یولس کلن یادولس کلن یا دیارلس کلن وي اوکه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دتولدنیته(۷۰) هجري یقیني شي نودانس بن مالک (رض) دوفات په وخت کی به امام اعظم ابوحنیفه (رح) (۲۱) یا(۲۲) یا(۲۳) کلن وي دانس بن مالک دوفات دتاریخ په هکله الاستیعاب داسی ویلي: واختلف في وقت وفاته فقيل سنة إحدى وتسعين هذا قول الواقدي وقيل أيضاً سنة اثنتين وتسعين وقيل سنة ثلاث وتسعين قاله خليفة ابن خياط وغيره وقال خليفة مات أنس بن مالك سنة ثلاث وتسعين وهو ابن مائة سنة وثلاث سنين وقيل كانت سنه إذ مات مائة سنة وعشر سنين.([1])

عامربن واثله (رض) په (۱۰۰) هـ ق کی وفات دی (۲) چی دده دوفات په وخت کی امام اعظم ابوحنیفه(رح) (۲۰) یا(۳۰) کلن وه أبو حنيفة الامام، فقيه الملة، عالم العراق، أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن زوطى التيمي، الكوفي، ولد سنة ثمانين في حياة صغار الصحابة، ورأى أنس بن مالك لما قدم عليهم الكوفة ولم يثبت له حرف عن أحد منهم.([2])

هذا الإمام العظيم ولد سنة ۸۰ للهجرة في القرن الاول الهجري راى انس بن مالك وهو من الصحابة.

ان انس بن مالك قد سافر الى العراق وراه ابو حنيفة، وكان الإمام في ذلك الوقت فتيا صغيرا.

ولد اللإمام سنة ۸۰ للهجرة وانس بن مالك توفى سنة ۹۳للهجرة وهو من آخر

---

[1]. الاستيعاب فی معرفة الاصحاب ص۳۵ج۱/ ۲۰۰ج۱

[2]. سيراعلام النبلاء ص۳۹۰/۳۹۱ج٦

الصحابة موتا رضى الله عنهم وأبو حنيفة عمره ۱۳ سنة، فأبوحنيفة راى بقية الصحابة وراى آثار الصحابة وراى تلاميذ ابن مسعود رضي الله عنه "فعبد الله بن مسعود له مدرسة فقيهة في العراق حيث نشأ الإمام أبو حنيفة وترعرع.(۱)

دعلامه ذهبی له ذکرشوی وپناخخه دامعلومیږی چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) انس بن مالک (رض) وغیره اصحاب لیدلي مګرلدغه اصحابوڅخه یی روایا ت ندي روایت کړي داموضوع دعلماء ترمنځ یواختلافی موضوع ده اکثرعلماء دامام اعظم ابوحنیفه (رح) سماع له ذکرشوواصحابوڅخه ثابته ګڼي اویوکم تعدادعلماء دامام اعظم ابوحنیفه (رح) ملاقات دذکرشوواصحابوسره مني مګردذکرشوواصحابوڅخه دده له سماع څخه انکارکوی په هرتقدیرزموږ مقصوددلته دامام اعظم ابوحنیفه (رح) تابعیت ثابتول دی اوتابعي هغه چاته ویل کیږي چی په حالت داسلام کی یوشخص صحابی وه وینی روایت یی تری کړی وي اوکه نوي کړی.

۱ . سيرة الامام ابى حنيفة ص۲ ج الدكتورصباح قاسم الامامى

# (۸) دتابعي لنډه پیژندنه

وړاندی ذکرشوچي تابعی هغه چاته ویل کېږی چې داسلام په حالت کی صحابی لیدلی وي روایت یی تری نقل کړی وی اوکه نوی نقل کړی علماء دتابعي تعریف داسی کړی: أن التابعي هو من لقي الصحابي مؤمناً بالنبي صلى الله تعالى عليه وسلم.(۱)

داچې دتابعیت دثبوت لپاره مجردملاقات کفایت کوي اودتابعیت دثبوت لپاره دتابعی لپاره سماع له صحابی څخه حتمی نده اودعلماءپه نظرهمدغه تعریف دتابعی مختاردی نوکه دعلامه ذهبی دادعوه هم صحت ولري چې امام اعظم ابوحنیفه (رح) دذکرشوواصحابوسره ملاقات کړی مګرسماع یی ورڅخه ثابته نده بیا هم امام اعظم ابوحنیفه(رح) دذکرشوی تعریف په بناتابعی دی بلکه په یوصریحی روایت کی نبي علیه السلام دصحابی لپاره نفس لیدل دنبي علیه السلام اوتابعی لپاره نفس لیدل دصحابي سره کافی ګڼلي نبي علیه السلام پدی اړه داسی ارشادفرمایلی: عن علقمة بن وائل عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: طوبى لمن رآني ومن رأى من رآني ثلاثا (۲) طوبى لمن رآني! ولمن رأى من رآني! ولمن رأى من رأى من رآني. "عبد بن حميد - عن أبي سعيد؛ ابن عساكر- عن واثلة".(۳)

ملاعلی قاری داموضوع داسی توضیح کړی (وهذا) أي التعريف للتابعي، (هو المختار) . قال العراقي: وعليه عمل الأكثرين . وقد أشار النبي صلى الله تعالى عليه وسلم إلى الصحابة والتابعين بقوله: 'طوبى لمن رآني وآمن بي، وطوبى لمن رأى من رآني ' الحديث، فاكتفى فيهما بمجرد الرؤية . قلت: وبه يندرج الإمام الأعظم في سلك التابعين، فإنه قد رأى أنس بن مالك، وغيره من الصحابة

---

۱ . شرح نخبة الفکرص۵۹۵ج اللقاری

۲ . المعجم الکبیرللطبرانی رقم الحدیث۲۹

۳ . کنزالعمال رقم الحدیث ۳۲۴۷۳

على ما ذكره الشيخ الجزري في ' أسماء رجال القراء '، والإمام التُّوربشتي في ' تحفة المسترشدين '، وصاحب ' كشف الكشاف ' في سورة المؤمنين، وصاحب ' مرآة الجنان وغيرهم من العلماء المتبحرين فمن نفى أنه تابعي، فإما من التتبع القاصر أو التعصب الفاتر.(١)

خطیب بغدادی دتابعی لپاره داضروری گڼلی چی تابعی هغه چاته ویل کیږي چی دصحابی سره یی ملاقات شوی وي اودملاقات سره یی دهغه سره څه وخت هم تیرکړی وي په یوازی ملاقات سره یوشخص تابعي نه گرزي اودامام حاکم رایه داده چی شخص په نفس ملاقات دصحابي سره تابعي گڼل کیږي اگرکه دغه شخص دصحابی سره وخت نوي تیرکړی محدثینو دامام حاکم رایه راجحه گڼلی اوامام نواوي هم دامام حاکم نظرته ترجیح ورکړی اوابن صلاح هم دامام حاکم رایه اقربه الی الحق گڼلی اوعلامه عراقی ویلي دغه نظر داکثرومحدثینودی امام سیوطی داموضوع داسی توضیح کړی: واختلف في حده (قيل) أي قال الخطيب (هو من صحب صحابيا) ولا يكتفى فيه بمجرد اللقي. . . . . . (وقيل) هو (من لقيه) وإن لم يصحبه كما قيل في الصحابي وعليه الحاكم قال ابن الصلاح وهو أقرب قال المصنف (وهو الأظهر) قال العراقي وعليه عمل الأكثرين من أهل الحديث.(٢)

---

١ . شرح نخبة الفكرص٥٩٥ج١

٢ . تدريب الراوی ص ٢٩٤

# (۹) امام اعظم ابوحنيفه(رح)
# د جليل القدره علماء په نظرونو کې

امام اعظم ابوحنيفه(رح) دتاريخ په پاڼوکې يوخانګړى مقام لري تاريخ چې دده دعلميت، تقوا، پاکدامنى، زيرکتيا، په هکله کومې ليکنې کړې دغه ليکنې دپوهانوپه آنددسروزروپه تارکې دملغلروپيلل اودبيمناله هارحيثيت لري امام اعظم ابوحنيفه (رح) هغه خلانده پرقيدونکى ستورى دى چې دبې حيا اشخاصو سترګې يې دحقيت له ادراک څخه ناتوانه اوشعاع ته دکتلوڅخه شب کوره دي مګرهغه اشخاص چې دادب اوحيانمونى دى دتل لپاره ددغه خلانده ستورى فيوضاتوته سترګې په لاره اوليواله وي لوي څښتن تعالى دى په هغه چا رحم وکړي څوک چې دحق پرسته علماء په زهرناکه غوښه لکه دشرمخ خبلې داړى څرخوي اوددوى په هکله خپله ګوستاخانه ژبه اوقلم استعمالوي .
علماء هغه څوک دى چې الله (ج) دخپل وحدانيت داثبات لپاره په شهادت کې دملائکوپه صف اوليږ کې حساب کړي لوى څښتن تعالى پدى اړه داسې ارشاد فرمايلى: شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ.([1])
ذکرشوى آية کريمه دعلمار لپاره ديرلوي بشارت دى که الله (ج) په نظرله علماء څخه په بشري ټولنه کې نورڅوک بهتر اوغوره وى نوالله (ج) به دهغوى نوم حتمى پدى مقام دشرافت اوکرامت کې دخپل نوم سره ذکرکړى وى مګروينوچي د بشرى ټولنى څخه يې پدى مقام دشرافت اوکرامت کې يوازى دعلماء ذکر کړى اوددوى يادونه يې په خصوصي توګه دخپل اسم (نوم) سره کړى اوعلماء يې دملائکو سره يوځاى دخپل خان سره يادکړي تفسير قرطبې ددى آية په تفسير کې داسې ليکلي .

---

[1] . سورة العمران آية١٨

الثانية: -في هذه الآية دليل على فضل العلم وشرف العلماء وفضلهم؛ فإنه لو كان أحد أشرف من العلماء لقرنهم الله باسمه واسم ملائكته كما قرن اسم العلماء. وقال في شرف العلم لنبيه صلى الله عليه وسلم: {وقُلْ رَبِّ زِدْني عِلماً}.(۱)
فلو كان شيء أشرف من العلم لأمر الله تعالى نبيه صلى الله عليه وسلم أن يسأله المزيد منه كما أمر أن يستزيده من العلم. وقال صلى الله عليه وسلم: إن العلماء ورثة الأنبياء. وقال: العلماء أمناء الله على خلقه". وهذا شرف للعلماء عظيم، ومحل لهم في الدين خطير. وخرج أبو محمد عبدالغني الحافظ من حديث بركة بن نشيط - وهو عنكل بن حكارك وتفسيره بركة بن نشيط - وكان حافظا.
عن أبي إسحاق عن البراء قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "العلماء ورثة الأنبياء يحبهم أهل السماء ويستغفر لهم الحيتان في البحر إذا ماتوا إلى يوم القيامة" وفي هذا الباب حديث عن أبي الدرداء خرجه أبو داود.(۲)
قرآن عظيم الشان په ډيرومواردوکی په ډيره لويه کچه دعلماء برتري اوغوره والی بيانکړی دمثال په توګه دغه راتلونکی موارد:
أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ.(۳)
إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ.(٤)
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا.(٥)
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ

---

۱ . سورة طه آية ۱۱۴
۲ . تفسيرقرطبى ص ۴۱ج ۴
۳ . سورة الزمرآية ۹
٤ . سورة فاطرآية ۲۸
٥ . سورة النساء آية ٥۹

بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ.(۱)
بلکه قرآن عظیم الشان دا په ډاګه بیانکری چی هرهغه چانه چی په دین کی علم اوبوهه ورکړی شوه دغه شخص ته داسلام له نظره ډیرلوی خیرورکړشو قرآن پدی اړه داسی ارشادفرمایلی:
(وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْراً كَثِيراً)(۲)
اکثرومفسرینودحکمة تفسیر په العلم والفقه سره کړی: داخبره یقینی ده چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) په خپل وخت کی یوبی مثاله فقیه عالم وه اودده له ففاهته شرقااوغربا نړیوال مستفیدشوي وه عبدالله بن مبارک (رح) وایی . که الله (ج) خما امداد دامام اعظم ابوحنیفه (رح) اوسفیان (رح) په ذریعه نوی کړی نوزه اوس دعاموخلکوپشان یوعام انسان وم یعنی امی به وم چی هیڅ قدرقیمت به می نه درلود: احمدبن صباح وایی مادامام شافعي (رح) څخه اوریدلي هغه ویل امام مالک (رح) څخه پوښتنه وشوه ایاتاابوحنیفه لیدلی امام مالک (رح) وویل هوهغه یوداسی سړی دی که لتاسره دی ستنی په هکله خبری وکړي نوپه دلیل به درته داستن دسروزروثابته کړي.
ابومعاویه ضریروایی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) سره محبت ساتل له سنتوڅخه دی . جریروایی ماته مغیره وویل دامام اعظم ابوحنیفه (رح) سره کینه اوفقه زده کړه خکه که ابراهیم نخعی اوس ژوندی وی نوامام اعظم ابوحنیفه (رح) ته به دفقه مسائلودیادولولپاره ناست وي.
عبدالله بن مبارک (رح) وایی په خلکوکی ډیرلوی فقیه امام اعظم ابوحنیفه (رح) دی . امام شافعي (رح) وایی خلک ټول په فقه کی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) داولادحیثیت لري . امام ذهبی وایی مشری په فقه کی امام اعظم ابوحنیفه (رح) ته سپارل شوی اودایوه داسی خبره ده چی هیڅ شک پکی نشته(۱) مجلة البحوث الاسلامیةدامام اعظم ابوحنیفه (رح) دعلمی فقهی کدرپه اړه داسی ویلي امام اعظم ابوحنیفه (رح) فقهي مسائلوکی دته انتهاء وه اوپه فقه

۱ . سورة المجادلة آیة ۱۱
۲ . سورة البقرة: آیة ۲٦۹

کی خلک دده اولادوه: وعني بطلب الآثار، وارتحل في ذلك، وأما الفقه والتدقيق في الرأي وغوامضه، فإليه المنتهى والناس عليه عيال في ذلك.(١)

وروى حيان بن موسى المروزي، قال: سئل ابن المبارك: مالك أفقه، أو أبو حنيفة؟ قال: أبو حنيفة . وقال الخريبي: ما يقع في أبي حنيفة إلا حاسد أو جاهل . وقال يحيى بن سعيد القطان: لا نكذب الله، ما سمعنا أحسن من رأي أبي حنيفة، وقد أخذنا بأكثر أقواله . وقال علي بن عاصم: لو وزن علم الإمام أبي حنيفة بعلم أهل زمانه، لرجح عليهم وقال حفص بن غياث: كلام أبي حنيفة في الفقه أدق من الشعر، لا يعيبه إلا جاهل وروي عن الأعمش أنه سئل عن مسألة، فقال: إنما يحسن هذا النعمان بن ثابت الخزاز، وأظنه بورك له في علمه . وقال جرير: قال لي مغيرة: جالس أبا حنيفة تفقه، فإن إبراهيم النخعي لو كان حيا لجالسه . وقال ابن المبارك: أبو حنيفة أفقه الناس.(٢)

يحی بن معين وايي قراءة قرءة دحمزه دی اوفقه فقه دامام اعظم ابوحنيفه ده اوبه همدی ماخلک ليدلي: وقال يحيى بن معين: القراءة عندي قراءة حمزة، والفقه فقه أبي حنيفة على هذا أدركت الناس.(٣)

---

١ . سيراعلام النبلاء ص٣٩٠الی ٤٠٤ج٦الموسوعة الكويتية ص٣٣٦ج املاحق تراجم الفقهاء الموسوعة الفقهية ص٢١ج ١١مجلة البحوث الاسلامية ص١٩٧ج ٨٠

٢ . مجلة البحوث الاسلامية ص٢٠٦ج ٨٠

٣ . وفيات الاعيان ص٤٠٩ج٥

# (۱۰) دامام اعظم ابوحنیفه استادان

امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته لداسی علماء څخه روایتاً اودرایتاًفیض حاصل دی چی علمیت اوپوهه دهغوی ټول جهان ته لکه دلمر روښانه ده اوپه نړیواله کچه یی له شهرته هیڅوک سترګی نشی پټولی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) بیشماره استادان درلوده چی داحادیثوپه روایت کولو کی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) له استادانو څخه دغه راتلونکی جلیل القدره علماء دي علامه ذهبي دامام اعظم ابوحنیفه(رح) داحادیثوپه روایت کولوکی دده داستادانونومونه داسی ذکرکړي.

وروى عن عطاء بن أبي رباح، وهو أكبر شيخ له وأفضلهم على ما قال. وعن الشعبي، وعن طاووس ولم يصح، وعن جبلة بن سحيم، وعدى بن ثابت، وعكرمة وفي لقيه له نظر، وعبد الرحمن بن هرمز الاعرج، وعمرو بن دينار، وأبي سفيان طلحة بن نافع، ونافع مولى ابن عمر، وقتادة، وقيس بن مسلم، وعون بن عبد الله بن عتبة، والقاسم بن عبدالرحمن بن عبد الله بن مسعود، ومحارب بن دثار، وعبد الله بن دينار، والحكم بن عتيبة، وعلقمة بن مرثد، وعلي بن الاقمر، وعبد العزيز بن رفيع، وعطية العوفي، وحماد بن أبي سليمان وبه تفقه.

وزيادابن علاقة، وسلمة بن كهيل، وعاصم بن كليب، وسماك بن حرب، وعاصم ابن بهدلة، وسعيد بن مسروق، وعبد الملك بن عمير، وأبي جعفر الباقر، وابن شهاب الزهري، ومحمد بن المنكدر، وأبي إسحاق السبيعي، ومنصور ابن المعتمر، ومسلم البطين، ويزيد بن صهيب الفقير، وأبي الزبير، وأبي حصين الاسدي، وعطاء بن السائب، وناصح المحلمي، وهشام بن عروة، وخلق سواهم[1]

---

[1] . سيراعلام النبلاء ۳۹۱ج٦

# (۱۱) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) شاگردان

امام اعظم ابوحنیفه(رح) بیشمیره شاگردان درلوده څکه هره ورځ به دده ددرس په حلقه کې به زرګونوشاګردان کینا ستل اودده له علمي فیوضاتوڅخه به مستفیدکیده بوتعدادهغه شاګردان چې علماء دهغوی په نومونوتصریح کړی اوشخصا دامام اعظم ابوحنیفه (رح) څخه یې احادیث روایت کړي نومونه یې علامه ذهبی پدی توګه ذکرکړي: حدث عنه خلق کثیر، ذکر منهم شیخنا أبو الحجاج في تهذیبه هؤلاء على المعجم: إبراهیم بن طهمان عالم خراسان، وأبیض بن الاغر بن الصباح المنقري، وأسباط بن محمد، وإسحاق الازرق، وأسد بن عمرو البجلي، وإسماعیل بن یحیی الصیرفي، وأیوب بن هانئ، والجارود بن یزیدالنیسابوري، وجعفر بن عون، والحارث بن نبهان، وحیان بن علي العنزي، والحسن بن زیاد اللؤلؤي، والحسن بن فرات القزاز، والحسین بن الحسن ابن عطیة العوفي، وحفص بن عبدالرحمن القاضي، وحکام بن سلم، وأبو مطیع الحکم بن عبد الله، وابنه حماد بن أبي حنیفة، وحمزة الزیات وهو من أقرآنه، وخارجة بن مصعب، وداود الطائي، وزفر بن الهذیل التمیمي الفقیه، وزید بن الحباب، وسابق الرقي، وسعد بن الصلت القاضي، وسعید بن أبي الجهم القا بوسي، وسعید بن سلام العطار، وسلم بن سالم البلخي، وسلیمان ابن عمرو النخعي، وسهل بن مزاحم، وشعیب بن إسحاق، والصباح بن محارب، والصلت بن الحجاج، وأبو عاصم النبیل وعامر بن الفرات، وعائذ ابن حبیب، وعباد بن العوام، وعبد الله بن المبارك، وعبد الله بن یزید المقرئ، وأبو یحیی عبدالحمید الحماني و عبد الرزاق وعبد العزیز بن خالد ترمذي، وعبد الکریم بن محمد الجرجاني، و عبدالمجید بن أبی رواد، وعبد الوارث التنوري، وعبید الله بن الزبیر القرشي، وعبید الله بن عمرو الرقي، وعبید الله بن موسی، وعتاب بن محمد، وعلي بن ظبیان القاضي، وعلي بن عاصم، وعلی بن مسهر القاضي، وعمرو بن محمد العنقزي، وأبو قطن عمرو بن الهیثم، وعیسی بن

يونس، وأبو نعيم، والفضل بن موسى، والقاسم بن الحكم العرني، والقاسم بن معن، وقيس بن الربيع، ومحمد بن أبان العنبري كوفي، ومحمد بن بشر، ومحمد بن الحسن بن أنش، ومحمد ابن الحسن الشيباني، ومحمد بن خالد الوهبي، ومحمد بن عبد الله الانصاري، ومحمد بن الفضل بن عطية، ومحمد بن القاسم الاسدي، ومحمد بن مسروق الكوفي، ومحمد بن يزيد الواسطي، ومروان بن سالم، ومصعب بن المقدام، والمعافى بن عمران، ومكي بن إبراهيم، ونصر بن عبد الكريم البلخي الصيقل، ونصر بن عبدالملك العتكي، وأبو غالب النضر بن عبد الله الازدي، والنضر بن محمد المروزي، والنعمان بن عبد السلام الاصبهاني، ونوح بن دراج القاضي، ونوح بن أبي مريم الجامع، وهشيم، وهوذة، وهياج بن بسطام، ووكيع، ويحيى بن أيوب المصرى، ويحيى بن نصر بن حاجب، ويحيى بن يمان، ويزيد بن زريع، ويزيد بن هارون، ويونس بن بكير، وأبو إسحاق الفزاري، وأبو حمزة السكري، وأبو سعد الصاغانى، وأبو شهاب الحناط، وأبو مقاتل السمرقندي، والقاضي أبويوسف. [1]

---

[1] - سيراعلام النبلاء ص٣٩٢ج٦

# (۱۲) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) علمي سویه

که لمړیه دوه ګوتوپټ نکړواودتعصب له لعنتي انګړخه خارج شواودانصاف په سترګه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دژوندانه لمحات په دقیقه توګه مطالعه کړو نووبه وینوچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) دګردی نړی لپاره یوخلانده لمروه چی علمي وړانګویی دنړی شرق اوغرب روښانه کړی وه داسی هم نده چی یوازی احناف دده دعلمی کدرونوپه هکله ویناوی اولیکنـی کـوی بلکـه دتاریخ پـاڼی پدی ګواه دی چی کلکوشوافعواومالکیانوهم دده دعلمی کدرونوباندی لیکنی کړي اودده علمی سویی تـه هکبـک ګوتـه پـه خولـه حیـران پـاتی دي علامه ابوالقاسم الکانی (رح) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) علمی سویه اواستعدادپداسی الفاظوسره یادکړی: أما أبو حنيفة فلـه في الـدين المراتـب الشـريفة والمناصب المنيفة، سراج في الظلمة وهاج، وبحر بالحكم عجّاج، سيد الفقهـاء في عصـره، وراس العلماء في مصره، له البيان في علم الشـرع والدين، والحـظ الـوافر مـن الورع المتين، والإشارات الدقيقة في حقيقة اليقين، مهد ببيانه قواعد الإسلام، وأحكم بتبيانه شرائع الحلال والحرام، وصار قـدوة الأئمـة الأعـلام، سـبق الكافة منهم إلى تقرير القياس، والكلام([1])

ژباړه: هرچه امام اعظم ابوحنیفه(رح) دی نودته په دین کی ډیرشریـف مراتـب اوغوره منصبونه حاصل وه، امام اعظم ابوحنیفه(رح) پـه تیـاره کـی خلیـدونکی څراغ وه، اوپه حکم کولوکی به لکه دبحردڅپوپـه خیرجـوش وهـونکی وه، په خپل وخت کـی دفقهـاء سرداروه، پـه خپـل ښـارکی دعلـماء سر وه، دشریعت اودین په علوموکی دډیرعجیب بیان څیښتن وه، په کامله تقواکی دډیری لـوی حصی څیښـتن وه، پـه حقیقـت دیقـین کـی دډیروباریکواشاروڅیښـتن وه، دده داسلام قواعد خواره کړي، اوپه خپـل بیـان سره یـی دشریعـت حـلال اوحرام

---

۱ . تحقیق کتاب منازل الائمة الاربعة ص ا ج ۲

محكم كړي، دډېرولويوهستيومقتداگرزيدلى، دډېروعلماءڅخه ده اول قياس اوعلم كلام ته وړانديوالى كړى: علامه ابن كثيردابوحنيفه(رح) علمى سويه اوكدرپدى توگه بيانكړى الإمام أبو حنيفة. . . فقيه العراق، وأحد أئمة الإسلام، والسادة الأعلام، وأحد أركان العلماء، وأحد الأئمة الأربعة ؛ أصحاب المذاهب المتبوعة، وهو أقدمهم وفاة.(١)

ژباړه: ابوحنيفه(رح) دعراق فقيه وه، اوداسلام له امامانوڅخه يوجليل القدره امام وه، اودډېرولويوهستيوسرداروه، اودعلماء له جملى څخه يوركن وه، اودخلورو امامانوڅخه يوامام وه، دغه خلورومذهبونواتباع شوى، امام اعظم ابوحنيفه ددغه خلوروامامانوڅخه اول وفات شوى: دامام ابن تيميه (رح) څخه دامام شافعي(رح) دعقيدى په هكله پوښتنه وشوه امام ابن تيميه (رح) په خواب كى ورته وويل دامام شافعي، امام مالك، سفيان ثوري، امام اوزاعي، عبدالله ابن مبارك، امام احمدبن حنبل، اسحاق بن راهويه رحمهم الله عقيده دهغه علماء په څيرعقيده وه چى خلكو به هغى پسى اقتداكړى وه مثلا فضيل بن عياض، ابوسليمان الدارمي، سهل بن عبدالله تستري، اولدوى څخه غيره چې ددين په اصولوكى دوى سره متفق وه اوددوى ترمنځ كوم اختلاف په اصولوكى نه وه اودامام اعظم ابوحنيفه عقيده هم ددوى دعقيدى پشان وه اوددوى ټولوعقيده هغه عقيده وه كومه عقيده چى داصحابواوتابعينووه اوددوى عقيده هغه عقيده وه په كومه عقيده چى قرآن اودنبي عليه السلام سنتوتصريح كړى ابن تيميه (رح) څخه پدى اړه پوښتنه وشوه اوهغه په خواب كى داسى وويل وقد سئل شيخ الإسلام ابن تيمية عن اعتقاد الشافعي فأجاب - رحمه الله - بقوله: اعتقاد الشافعي - رضي الله عنه -، واعتقاد سلف الإسلام، كمالك، والثوري، والأوزاعي، وابن المبارك، وأحمد بن حنبل، وإسحاق بن راهويه، هو اعتقاد المشايخ المقتدى بهم، كالفضيل بن عياض، وأبي سليمان الدارمي، وسهل بن عبد الله التستري، وغيرهم، فإنه ليس بين هؤلاء الأئمة وأمثالهم نزاع في أصول الدين، وكذلك أبو حنيفة - رحمه الله -، فإن الاعتقاد

١. البداية والنهاية ص١١٣ج١٠

الثابت عنه في التوحيد والقدر ونحو ذلك، موافق لاعتقاد هؤلاء، واعتقاد هؤلاء هو ما كان عليه الصحابة والتابعون لهم بإحسان، وهو ما نطق به الكتاب والسنة اهـ.(١)

عبدالله بن مبارک (رح) دامام اعظم ابوحنيفه(رح) علمي سويه اودتل لپاره حق گويي په خپلواشعاروکی داسي بيانکړي: رأيت أبا حنيفة كل يوم *يزيد نباهة و يزيد خيرا *و ينطق بالصواب و يصطفيه *إذا ماقال أهل الجور جورا.(٢)

ژباړه: ماامام ابوحنيفه (رح) هره ورځ ليده چي دده زيرکتيا اوهوښيارتيا اونيک کارونه په زياتيده اودتل لپاره په يي حق بيان کاوه اوحق به يي غوره کولوکله به چي ظالمانودظلم خبره کوله . روح بن عباد وايي زه دابن جريج (رح) سره ناست وم چي دته دامام اعظم ابوحنيفه (رح) دوفات کيدو خبرراغي ابن جريج يوسوړ اسويلي وکړ اوبيا يي وويل دعلم يوه لويه خزانه له دنياځخه لاړه: عبدالله ابن مبارک (رح) وايي زه شام ته لاړم هلته دامام اوزاعي (رح) سره په بيروت کي مخامخ شوم امام اوزاعي(رح) ماته وويل اي عبدالله بن مبارکه داابوحنيفه نامي مبتدع په کوفه کي څوک دي ابن مبارک وايي زه خپل کورته لاړم اوهلته مي دامام اعظم ابوحنيفه (رح) له کتابو نوڅخه يوه اندازه مهم مسائل راغونډکړه په دويمه ورزځ دامام امام اوزاعي خواته راغلم امام اوزاعي (رح) په خپل مسجدکي اذان کولوکله چي له اذان ځخه فارغ شولماځخه يي هغه کتاب واخسته اودهغه په مطالعه کولويي شروع وکړه دهري مسئلي په سرکي داسي ليکل شوي وه ويلي دي نعمان بن ثابت امام اوزاعي (رح) داذان ځخه وروسته په ځاى ولاړه وه اودغه مسائل يي لوستل دلمانځه داداکولوځخه وروسته بيادغه کتاب راوخسته اومسائل يي مطالعه کړه بيايي لماځخه پوښتنه وکړه اي عبدالله بن مبارک(رح) دانعمان بن ثابت (رح) څوک دي ماوويل داپه عراق کي يوشيخ دي چي زه ورسره مخامخ شوى يم امام اوزاعي راته وويل

١ . تحقيق كتاب منازل الائمة الاربعة ص٢ج اللامام ابوالقاسم الالكاني مجموع الفتاوى ٢٥٦/٥، منهاج السنة ١٠٦/٢، وكتاب الإيمان ص٣٥٠/٣٥١

٢ . روائع ابى حنيفة ص١ج ١سلام المازنى

داخوډیرشریف اوجید(کره) شیخ دی لده څخه ډیره دعلم زدکړه وکړه عبدالله بن مبارک (رح) وایی ماورته وویل داهغه شیخ دی چه تازه دهغه څخه منعه کولم.(1)

عن إبراهيم بن الزبرقان قال كنت يوما عند مسعر فمر بنا أبو حنيفة فسلم ووقف عليه ثم مضى فقال بعض القوم لمسعر ما أكثر خصوم أبي حنيفة فاستوى مسعرا منتصبا ثم قال إليك فما رأيته خاصم أحدا قط إلا فلج عليه : ابراهيم بن زبرقان وایی زه دمسعربن کدام سره ناست وم پدی وخت کی ابوحنیفه(رح) راغی اوپه مسعربن کدام باندی یی سلام واچولو اودهغه سره لږساعت ودریده اوبیا لاړ مامسعربن کدام ته وویل امام اعظم ابوحنیفه (رح) دښمنان ډیرزیات دي مسعربن کدام ودریده او وی ویل ځان وساته په ابوحنیفه(رح) پسی دبدویلوڅخه دایوداسی شخص دی دهرچا سره چی دعلم په مسئله کی بحث کړی حتمی یی په هغه غلبه حاصل کړی.(1)

عبدالله بن ابی جعفروایی خما پلارابوجعفرویلي ماله امام اعظم ابوحنیفه(رح) څخه په دین کی ډیرپوهه اوډیر پرهیزگاره ندی لیدلی.(1)

امام ابویوسف(رح) وایی ماداحادیثو په تفسیرکی دفقهی مسائلو د استنباط اودباریکونکتومعلومولو په خاطربل څوک له امام ابوحنیفه (رح) څخه پوهه ندی لیدلی.(1)

عبدالله بن مبارک (رح) وایی عبدالعزیزبن رواد ډیرعابددخلکودی اوفضیل بن عیاض ډیرپرهیزگاره دخلکو دی اوسفیان ثوری (رح) ډیرعالم دخلکودی اوامام اعظم ابوحنیفه(رح) ډیرفقیه دخلکو دی مادده پشان بل څوک په فقه کی ماهره (پوهه) ندی لیدلی: (1) محمدبن بشروایی زه به امام اعظم ابوحنیفه (رح) اوسفیان ثوري(رح) ته ددرس لپاره تللم نوکله چی به امام ابوحنیفه(رح) حضورته لاړم هغه به راته وویل دکوم ځایه راغلی مابه ورته وویل دسفیان ثوري(رح) له خواڅخه راغلم نوهغه به راته وویل ته دداسی هستی له خواڅخه راغلی یی که اوس علقمه اواسود حاضروي نوهغوی به هم سفیان ثوری ته

---

1. تاریخ بغدا ص۳۳۸ج۱۳خطیب بغدادي

محتاج وي محمدبن بشروایی کله چی به زه سفیان ثوری (رح) حضورته لاړم نوهغه به راته وویل له کوم ځایه راغلی مابه ورته وویل دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دخواځخه راغلم ا مام سفیان ثوری(رح) به وویل ای محمدبن بشره ته دداسی هستی لخواراغلی یی چی هغه دځمکی په اوسیدونکوکی ډیرفقیه شخص دی.(۱)

مکی بن ابراهیم وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په خپل وخت کی ترټولولوی اوپوهه عالم وه . یحی بن سعید قطان وایی موږ په الله(ج) دروغ نه وایوموږ ندی اوریدلی چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) څخه به بل څوک دخه نظرخپښتن وی موږ دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په زیاتره اقوالوعمل کړی.(۲)

امام شافعی (رح) وایی څماپه علم دامام اعظم ابوحنیفه (رح) څخه بل څوک فقیه نشته که څوک اراده لري چی فقه زده کړي نوځان دی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) اودهغه دشاگردانوسره لازم کړي(۱) خلف بن ایوب وایی علم دالله (ج) له لوری نبي علیه السلام ته ورکړ شوی اودنبي علیه السلام له لوری دهغه اصحابوته ورکړشوی اوداصحابوڅخه تابعینو ته ورکړشوی او دتابعینو څخه امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته اودهغه شاگردانوته نودهغه چاچی خوخه شي پدی دی راضي شي اودهغه چاچی خوخه شی په غوصه شی نوغوصه دی شي.(۱)

---

۱ . تاریخ بغدادص۳۳۹/ ۳۴۰/۳۴۲ج۱۳

۲ . تاریخ بغدادص ۳۴/۳۴۵/۳۴٦/۳۳٦ج۱۳

# (۱۳) په قرآن او سنتو (دینی مسائلو) کی د امام اعظم ابوحنیفه(رح) زیرکتیا او پوهه

یو تعداد پوچ دماغه ورونه وایی چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) د قرآن اوسنتوڅخه بی خبره وه دغه پوچ دماغه ورونه اصلادقرآن اوسنتوڅخه ناخبره پاتی دي څکه دوی پدی نه پوهیږي چی فقیه چاته ویل کیږي اودفقیه تعریف څه دی او وړاندی ذکرشوچی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) فقاهت ټولی دنیا تسلیم کړی وه اوهغه څوک چی په قرآن اوسنتومکمل علم ونلري هغه فقیه نشي جوړیدی فقیه به حتمی په قرآن اوسنتو علم ولري امام ضحاک وایی: عن أبي عبد الله الخراساني عن الضحاك (ولكن كونوا ربانيين بما كنتم تعلمون الكتاب) قال حق على كل من قرأ القرآن أن يكون فقيها.([1])

امام حمدان بن سهل (رح) ویلی که زه چیرته قاضی وټاکل شوم نوهغه څوک به بندیان کړم څوک چی یوازی حدیث طلبوي اوفقه ورسره نه وایی اوهغه څوک به هم بندی کړم چی څوک یوازی فقه وایی اواحادیث پریدی.([2])

وګوری امام قتاده (رح) دقرآن په تفسیرکی څومره شهرت لري مګرکله چی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) سره مخامخ شوبیادامام قتاده (رح) پوهه په قرآن کی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دپوهی په مقابل کی په نش حسابیده مثلاامام قتاده (رح) یوه ورځ کوفه کی ابوبرده کورته ورغی هغه یوه ورځ راوه وتلوډیرخلک ورته راجمعه شو امام قتاده دالله (ج) په نوم قسم وکړ او وی ویل نن که هرڅوک لماڅخه دحلالو اوحراموپه هکله پوښتنه وکړی زه به دقرآن اوسنتوپه رڼاکی څواب ورکړم . امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورپاڅیده اورته وی ویل ای ابوالخطابه ته دهغه زنانه په هکله څه نظرلری چی خاوندیی ډیرکلونه له

---

۱ . سنن ا لدارمی رقم الحدیث ۳۳۸

۲ . المیزان الکبری ص٦٩ج ا لشعرانی

کوره غایب شوی نودده ښځې داګمان وکړچې خما خاوندبه مړوي نودبل سړی سره یې نکاح وکړه ددی ځخه وروسته ددغی ښځې اولنی خاوندکورته راغی نوددغه ښځي مهرپه هکله ته څه نظرلری امام اعظم ابوحنیفه (رح) خپلوملګروته وه ویل که امام قتاده ددی مسئلی په هکله په حدیث استدلال وه نیوه نوده به دروغ ویلی وي اوکه په خپله رایه یې نظرورکړنوحتمی به خطاکېږي . امام قتاده وویل تالره دی هلاکت وی داسی مسئله چیرته واقع شوی چې ته یې پوښتنه کوی. امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورته وویل نه نده واقع شوی. قتاده ورته وویل چی نده واقع شوی بیا دداسی مسئلی پوښتنه لماځخه ولی کوی.

امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورته وویل موږ دهغه بلاء لپاره تیاری کووچی راغلی نوی کله چې راشی نوموږته به دوړاندی دخلاصی لاره معلومه وي . امام قتاده(رح) وویل زه تاسوته دحلالو اوحراموپه اړه څه نشم ویلی لماځخه دقرآن په تفسیرکی پوښتنه وکړی. امام اعظم ابوحنیفه (رح) وریاخیده او قتاده ته یې وه ویل سلیمان علیه السلام ته دبلقیس تخت چاراوړی وه؟ هغه ته دڅه علم وه؟

امام قتاده ورته وویل هغه اصف بن برخیا وه اوهغه سره داسم اعظم علم وه.

امام اعظم ابوحنیفه (رح) ورته وویل سلیمان علیه السلام سره داسم اعظم علم وه اوکه نه؟امام قتاده(رح) ورته وویل نه . امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورته وویل ایاداجوازلري چې دیوپیغمبرپه وخت کی داسی یوڅوک وی چې د پیغمبر څخه دی دهغه علم زیات وي؟

قتاده(رح) وویل لماځخه دقرآن په تفسیرکی پوښتنه مه کوی لماځخه دهغه مسائلوپوښتنه وکړی چې دعلماءترمنځ اختلافی وي . امام اعظم ابوحنیفه(رح) وریاخیده اوپوښتنه یې تری وکړه ای قتاده ایا ته مؤمن یې؟

امام قتاده ورته وویل زه امیدلرم چې مؤمن یم . امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورته وویل دامیدلفظ څنګه استعمالوی . قتاده (رح) ورته وویل څکه ابراهیم علیه السلام داسی ویلی وه زه امیدلرم الله به ماته دقیامت په ورځ ښښنه وکړي.

امام اعظم ابوحنیفه (رح) ورته وویل ولی داسی نه وایی کوم چې ابراهیم علیه السلام دالله (ج) دپوښتنی په ځواب کی ویلی وه: ای ابراهیم علیه السلام تاالایمان ندی راوړی ابراهیم علیه السلام وویل هوماایمان راوړی: نوای امام

قتاده تاداسی ولی ونه ویل هوزه مؤمن یم امام قتاده په غوصه شه اوله مجلسه پاخیده اوکورته داخل شه.(۱)

فضل بن غانم وایی امام ابویوسف (رح) یووخت سخت مریض شه امام اعظم ابوحنیفه(رح) خوخله پوښتنې ته ورغی په اخری خل یی امام ابویوسف(رح) ته وویل ای ابویوسف خماخودا ارده وه چی ته به لماخخه وروسته د مسلمانانو لپاره خما جانشین شی خدای نکړه که وفات شی نوستا په وفات کیدوسره به ډیرلوي علم له منځه لاړشي دامام ابوحنیفه(رح) دی وینا امام ابویوسف (رح) لړپه خپل علمیت مغرورکړځه ورخی وروسته امام ابویوسف(رح) ته الله(ج) صحت ورکړاوامام اعظم ابوحنیفه(رح) مجلس ته په راتللوکی یی کمی راوستلو امام ابوحنیفه(رح) له خپلوشاګردانووه پوښتل چی امام ابویوسف(رح) ولی نه راخي دامام اعظم ابوحنیفه (رح) داخبره چی په خلکوکی خپره شوه دخلکوبهیرامام ابویوسف(رح) په طرف مات شو اوامام ابویوسف(رح) خان لپاره دفقهي مسائلولپاره دناستی یوځای برابرکړدامام ابوحنیفه(رح) شاګردانوامام ابوحنیفه(رح) ته وویل ستاهغی وینا په وجی هغه اوس خانته یوه درسګاه پرانستی ده امام اعظم ابوحنیفه(رح) دامام ابویوسف (رح) یونزدی ملګری راوغوښتلواوورته وی ویل ورشه دامام ابویوسف(رح) څخه داپوښتنه وکړه چی یوسړي دوبي (کالی منخونکی) ته دمنځلولپاره کالي ورکړه چی داراته په یوه روپۍ وه منځه څه وخت وروسته دکالیوځیښتن دوبي ته ورغی اوورته وی ویل خماکالی راکړه دوبي دهغه له کالیوڅخه انکاروکړاوورته وی ویل تاماته هیڅ کالی ندی راوړی څه وخت وروسته بیا دکالیوځیښتن دوبی ته ورغی دوبی هغه ته خپل کالي ورکړه ایادغه دوبی دخپلی اجوری مستحق ګرزي اوکه نه که امام ابویوسف (رح) وویل چی مستحق دا جوری ګرزی ورته ووایه چی خطاشوی اوکه یی وویل چی نه ګرزي ورته ووایه خطاشوی کله چی هغه شخص دامام ابویوسف (رح) څخه پوښتنه وکړه امام ابو یوسف(رح) په خواب کی ورته وویل داجوت حقداردی سوال کونکی ورته وویل خطاشوی امام ابویوسف(رح)

---

۱. تاریخ بغدادص۳۴۸/۳۴۹ج۱۳

لږسوچ وکړاوبیا یې وویل داجوری حقدارنه گرزي سوال کونکی ورته وویل خطاشوی امام ابویوسف (رح) سمدست پاځیده اودامام اعظم ابوحنیفه(رح) حضورته لاړکله چې امام ابوحنیفه(رح) امام ابویوسف(رح) ولیده ورته وی ویل داسې ښکاری لکه چې ددوبی مسئلی اړکړی چې دلته راغلی امام ابویوسف (رح) ورته وویل وو امام اعظم ابوحنیفه (رح) ورته وویل که دوبی دغه کالی دانکارڅخه وړاندی وینځلی وه نودخپلی مزدوری حقداردی څکه دانکارڅخه وړا ندی دغه کالي دوبی دخپل مالک لپاره وینځلی دی اوکه دانکارڅخه یې وروسته وینځلی وه نودمزدوری حقدارندی څکه دانکارڅخه وروسته دوبی غاصب دی اود انکار څخه وروسته دغه کالي دوبی خپل خان لپاره وینځلی دی بیا امام ابوحنیفه(رح) وویل خوک چې داگمان کوی چې خمادعلم زده کړه پوره شوه نودغه شخص دی په خپل خان وژاړي . عبدالله بن مبارک (رح) دامام اعظم ابوحنیفه (رح) علمی سویه اودهغه شخصیت مدحه په خپلواشعاروکی داسی توضیح کوي:

رأیـت أبـا حنیفـة کـل یـوم
یزیـد نبالـة ویزیـد خـیرا
وینطـق بالصـواب ویصـطفیه
إذا مـا قـال أهـل الجـور جـورا
یقـایس مـن یقایسـه بلـب
فمـن ذا یجعلـون لـه نظـیرا
کفانـا فقـد حـماد وکانـت
مصـیبتنا بـه أمـرا کبـیرا
فـرد شـماتة العـداء عنـا
وأبـدی بعـده علـما کثـیرا
رأیـت أبـا حنیفـة حـین یـؤتی
ویطلـب علمـه بحـرا غزیـرا
إذا مـا المشـکلات تـدافعتها
رجـال العلـم کـان بهـا بصـیرا

ژباړه: ماامام اعظم ابوحنیفه(رح) هره ورځ لیده چې عزت اوشرافت به یې ورځ په ورځ زیاتیده . دده به دتل لپاره حق بیانولواوحق به یې دظالمانو دظلم په مقابل کې غوره کولو. دده علمیت اوشان اندازه به لګوله یوچا په ډیرسوچ اوفکرسره داسې څوک چیرته وه چې دده نظیراومثل یې پیداکړی وی اودامام ابوحنیفه سره یې مقایسه کړی وی.

حماد(رح) چې کله وفات شه نوموړ لپاره دهغه مړینه یولوي مصیبت وه مګرامام اعظم ابوحنیفه موړلپاره دهغه ځخه کافي شه. دحماد(رح) په مړینه دهغه دښمنان خوشحاله شومګرامام ابوحنیفه (رح) دحماد(رح) له مړینې وروسته داسې علم خورکړ چې دحماد(رح) ددښمنانو خوشحالي یې دخاوروسره خاورې کړه.

امام ابوحنیفه (رح) مالیدلی کله به چې دته څوک دعلم حاصلولو لپاره راغله نوتابه وویل چې دغه شخص دبحرځخه علم حاصلوي . دیحی بن معین (رح) په حضورکې به چې چادامام اعظم ابوحنیفه (رح) بدی بیانکړه نویحی بن معین(رح) به دامام اعظم ابوحنیفه(رح) علمیت اوشخصیت په خپل شعرکې دارنګه راخلاصه کړ:

حسـدوا الفتـى إذ لم ينـالوا سـعيه
فـالقوم أضـداد لـه وخصـوم
كضـرائر الحسـناء قلـن لوجهها
حسـدا وبغيـا إنـه لـدميم *[1]

ژباړه: دی کینه ګروکله چې دغه نوجوان درجې اومرتبې ته ونه رسیده . نودده اضداداودښمان جوړشو. لکه دوه یادیرې ښې چې په خپلو منخوکې دخپل میړه بدرنګی بیانوي.

ابراهیم بن عکرمه مخزومي (رح) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په اړه و یلي. ما په خپل وخت کې له امام اعظم ابوحنیفه(رح) څخه لوی عالم، ډیرپرهیزګاره،

---

۱ . اخبارابی حنیفة ص۶۵للصیمری

ډیرعبادت کونکی بل څوک ندی لیدلی.(۱)

عبدالله بن مبارک(رح) وایی زه کوفی ته لاړم هلته می له خلکو وه پوښتل ستاسو په ښارونوکی ډیرپوهه عالم څوک دی دوی ټولو په یوه خوله وویل امام اعظم ابوحنیفه (رح) بیا می تری وه پوښتل ډیرپرهیزګاره څوک دی دوی ټولووویل ابوحنیفه(رح) بیامی تری دهرنیک اوخه عمل پوښتنه کوله دوی به راته ویل داټول خه خویونه په ابوحنیفه(رح) کی موجوددی ماتری پوښتنه وکړه ډیرزاهدڅوک دی دوی ووه ویل ابوحنیفه(رح) بیا تری وه پوښتل ډیرعابدله خلکواوډیرپه علم مشغول له خلکوڅوک دی دوی وویل ابوحنیفه (رح) مابه چی له دوی څخه دهرنیکوکارونواوخواخلا قوپوښتنی کولی دوی به راته ویل داټول نیک کارونه یوازی په امام اعظم ابوحنیفه (رح) کی موجوددي(۱)

---

۱ . المیزان الکبری ص۸۷ج۱

# (۱۴) امام اعظم ابوحنيفه(رح) په خپل وخت کې دبې مثاله کامل عقل ا و پوهې څيښتن وه

(۱) . محمدبن عبدالملک دقيقي وايي ما ديزيد بن هارون څخه اوريدلي دي هغه ويلي ماډيرخلک ليدلي مګرما دامام اعظم ابوحنيفه(رح) څخه بل څوک ډيرعقلمند، ډيربهتر، ډيرپرهيزګاره ندی ليدلی. (۱)

(۲) . محمدبن شجاع وايي مادعلي بن عاصم څخه اوريدلي هغه ويلي که چيرته دامام اعظم ابوحنيفه (رح) نيم عقل دځمکې دټولوخلکودعقلونوسره وتلل شي نودامام اعظم ابوحنيفه(رح) نيم عقل به ددوی په عقلونودرون شي.(۲)

(۳) . احمدبن يونس وايي مادوکيع څخه اوريدلي هغه ويلي امام اعظم ابوحنيفه، سفيان ثوري، مسعر، مالک بن مغول، جعفربن زياداحمر، اوحسن بن صالح اونورډيراشراف دکوفې په کوفه کې يوی وليمې ډوډی ته رابلل شوی وه چې دغه دوليمې ډوډی ديوداسې چالخوابرابرشوی وه چې خپلودوه خامنوته يې ديو سړی دوه لورګانی نکاح کړې وې دغه اشراف ټول ناست ووچې دهلکانوپلارراغی اويې ويل موږخوديولوی مصيبت سره اخته شوچې دويلوهم ندی امام اعظم ابوحنيفه(رح) ورته وويل څه مصيبت دی هغه سړی وويل خما زامن ديوبل ښځوته نژدې شوی يعنی هريوبه خطايي سره خپلې ورنداری ته نژدې شوی امام اعظم ابوحنيفه(رح) ورته وويل اياکوروالي يې سرته رسولی هغه وويل ووسفيان ثوری وويل پروانکوي ددی مسئلې حل اسان دی معاويه(رض) داسې موضوع علی (رض) ته ليږلی وه علی (رض) فيصله داسې کړې وه چې هريوبه دبل دښځې مهرورکوي اوهره ښځه به خپل ميړه ته ورځي

---

۱ . الميزان الكبرى ص۸۷ج۱

۲ . اخبارابي حنيفة ص۴۳ج۱

خلک چُپ ناست وواودسفیان ثوري خبري یی اوریدلی مسعربن کدام امام اعظم ابوحنیفه (رح) ته وکتل او ورته ویی ویل ابوحنیفه (رح) ته خوهم یوځه ووایه سفیان ثوری وویل امام اعظم ابوحنیفه (رح) هم خما دخبری څخه بله خبره نشی کولی امام ابوحنیفه(رح) وویل هغه هلکان دواړه تاسودلته راولی هغه هلکان دواړه راوستل شو امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل ایا تاسو هر یو دا خوخه گنی چی دهغه ښځوسره وخت تیرکړی دکوموسره چی یوځای شوی یی هغوی وویل ووبیا امام ابوحنیفه(رح) دوی ته وویل تاسوخپلی ښځی طلاقی کړی دوی هم هغسی وکړه بیا امام ابوحنیفه(رح) دنکاح خطبه وویله اوددوی نکاح یی دهغه ښځوسره وتړله دکوموسره چی دوی نزدی شوی وو بیا امام ابوحنیفه(رح) وویل موړلپاره ددی نوی واده نوره مړی تیاره کړی خلک دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دی فتوی ته په تعجب شوپه دغه وخت کی مسعربن کدام پاڅیده اودامام اعظم ابوحنیفه(رح) خوله یی خکل کړه او ویی ویل ای خلکوتاسومادداسی هستی سره دمحبت په ساتلوسره ملامت کوی سفیان ثوري چُپ ناست وه اوهیڅ یی نه ویل.(۱)

(۴) شریک وایی په کوفه کی دبنی هاشم کورنی دیومشرزوی وفات شوی وه موړسره پدغه جنازه کی سفیان ثوری، ابن شبرمه، ابن ابی لیلی، امام ابوحنیفه، ابوالاحوص، مندل، اوحبان حاضرووددغه جنازی سره دکوفی ډیرلوی مشران هم روان وو په لاره کی جنازه ودرول شوه خلکوپوښتنه وکړه چی جنازه ولی ودرول شوه خلکو وویل دمړه هلک مورچی دهاشمی کورنی یوه شریفه اومعززه زنانه ده خپل مړزوی ته راغلی اوسریی بربربندکړی دهغی خاوندورته وایی واپس شه اوکورته لاړه شه اوهغه له تلوځخه انکارکوي او وایی ترهغه وخت پوری به زه کورته واپس نشم ځوپوری چی زما دزوی جنازه تانوی کړي پدغه وخت کی دده خاوند(میړه) قسم وکړچی کته لدی ځایه کورته واپس نه شوی نوته دی په ماطلاقه یی هغی زنانه هم قسم وکړکه زه دجنازی لمانځه څخه وړاندی کورته واپس لاړم خما ټول مریان(غلامان) دی ازادوي ټول خلک دی کارته حیران شو دمړی پلارامام اعظم ابوحنیفه(رح) ته غږکړای ابوحنیفه(رح) موړلدی مشکل څخه خلاص کړه امام ابوحنیفه(رح) دښځی څخه پوښتنه وکړه

تاځنګه قسم کړی هغی ورته بیان وکړبیایی دهغی له خاوندڅخه پوښتنه وکړه تاځنګه قسم کړی هغه هم ورته ځپل بیان وکړبیا امام ابوحنیفه امروکړدادمړی کټ کیدوی دمړی کټ په ځمکه کیښودل شه امام ابوحنیفه(رح) دمړه هلک پلارته امروکړوړاندی شه به خپل زوی جنازه وکړه هغه مخکی شه اودخپل زوی جنازه یی وکړه بیا امام ابوحنیفه (رح) امروکړاوس جنازه قبرته یوسی امام اعظم ابوحنیفه(رح) هغی زنانه اودهغی خاوند(میړه) ته وویل تاسودواړه د قسم له کفاری څخه خلاص شوی ابن شبرمه په دغه وخت کی وویل ای ابوحنیفه(رح) ښځوتراوسه پوری ستاپه شان هوښیاراوپوهه بچی ندی زیږولی.(١)

(۵) امام وکیع وایی موږ دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره ناست وو یوه زنانه راغله اوامام ابوحنیفه(رح) ته یی وویل ای ابوحنیفه ځما ورور وفات شوی اودهغه څخه متروکه مال (٦٠٠) شپږسوه درهمه پاتی شوی داود طائي دغه متروکه مال زموږ ترمنځ تقسیم کړ اوماته یی یوه روپۍ راکړه امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل دغه تقسیم صحیح دی ستا یوه روپۍ کیږي بیا امام ابوحنیفه(رح) هغی زنانه ته وویل ستادورورله مرګ څخه وروسته دهغه دوه لوڼه اویوه موراویوه ښځه ته یوه خور اودولس ورونه ندی پاتی شوی هغه زنانه ورته وویل هو همداسی ده بیا امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل ددوو لوڼوثلثان کیږي دوه ثلثه په شپږ سوه کی خلورسوه کیږي دمورسدس کیږی اوسدس په شپږسوه کی سل دی سل دمورشوی دښځی ثُمن کیږي ثمن په شپږسوه کی پنځه اویادي پنځه اویا دښځی شوی پاتی شوی پنځه ویشت پدی کی خلیرویشت ددولس ورونوشوی اویوه زنانه په نیم وروړحساب ده په میراث کی په پنځه ویشتوکی یوه روپی ستاشوه.(٢)

ذکرشوی واقعه دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په کامله زیرکتیااوکاملی عقلمندی‌لکه دلمریوروښانه دلیل دی ځکه په نوموړی واقعه کی زنانه امام ابوحنیفه(رح) ته یوازی دومره قدری ویلی زما وروروفات دی اوماته شپږسوه متروکه مال کی

١. اخبارابی حنیفة ص٣٠ج١/٣١ج١
٢. اخبارابی حنیفة ص٣٤ج١

فقط یو درهم راکړشوی امـام اعظـم ابوحنیفـه(رح) بلاتاملـه د هغـه ټـول ورثـه اودهغوی حصی معلومی کړی اوزنانه ته یی قناعت ورکړ.

(٦) امام ابویوسف(رح) وایی یوسړی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ته وویـل ماقسم وکړچی زه به د خپلی ښځی سره خبری نه کوم ترڅوچی ده اول لماسره خبری نوی کړي اوخماښځی هم قسم وکړچی زماپـه لاس کـی چـی څـومره مـال دی دادی ټول صدقه وي چی زه به دخپل میړه سره خـبری نـه کـوم ترڅـوچی ده لماسره خبری نوي کړي امام اعظم ابوحنیفه(رح) له هغـه سـړی څخـه پوښـتنه وکړه ایاتاددی مسئلي حل په هکله دبل چاڅخه پوښتنه کړی؟ هغه ورتـه وویـل وو سفیان ثوري(رح) راته ویلی تاسوکی هریوچی دبل سره خبری وکړی حانث شه (دقسم کفاره پری لازم شوه) امام ابوحنیفه(رح) هغه سـړی تـه وویـل ورشه دخپلی ښځی سره دی خبری وکړه اوهیڅ پـه تاسـودواړوکفاره نشـته کلـه چـی سفیان ثوري(رح) دامام ابوحنیفه (رح) لدی فتوی څخه خبرشه ډیرپه غوصه په امام ابوحنیفه (رح) پسی راغی اوورته وی ویل تادافتوه په کـوم دلیـل ورکـړی امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل گوره کله چی سړی قسم وکړچی ای ښځی زه به تاسره خبری ونه کړم ترڅوچی تاماسره خبری نوی کړی نوکله چی ښځی هم قسم وکړنودمیړه قسم سرته ورسیده څکه چی دښځی خبری دمیړه دقسم څخه وروسته موجودشوی نواوس چی میړه دښځی سره خـبری وکـړی دښـځی قسم هم سرته ورسیده څکه چی دښځی غوښتنه همـداوه سـفیان ثـوری (رح) چی پـدی بـاریکی پوهـه شـه نـووی ویـل ای ابوحنیفـه تاتـه الله (ج) دداسـی علوموپرانستنه کړی چی موږ له هغی څخه ناخبره یو.(۱)

(۷) علی بن مسهروایی موږدامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره ناست وو عبدالله بن مبارک(رح) راغی امام ابوحنیفه(رح) ته یی وویل ای ابوحنیفه (رح) تـه دهغه سړی په هکله څه وایی چی په کټـوی کـی غوښـه پخولـه پـه هـواکی بومارغه تیریده ناگهانه په دغه کټوی کی بریوتلوته ددغی غوښی اوشوروا دخـوراک په هکله څه نظرلری؟امام اعظم ابوحنیفه (رح) دناسـتوعلماء څخـه پـو ښتنه وکړه تاسوڅه نظرلری؟هغوی ورته وویل ابن عباس (رض) څخه روایت دی چی دغه شوروادی وه غورزول شي اوغوښه دی وه وینځل شي او و دی خوړل شی امام

ابوحنیفه ورته وویل خبره هم دارنګه ده مګردلته یوشرط شته اوهغه داچې که دامارغه په دغه کتوی کی دخوټکیدوپه حالت کی غورزیدلی وه نوبیا دشوروا اوغوښی دواړوخوراندی پکارځکه پدی صورت کی دمارغه دغوښی رطوطبت دکتوی دشوروا سره یوځای شوی اودکتوی غوښی داخل ته جذب شوی اوکه مارغه پداسی حال کی په کتوی کی پریوتلی وي چی دکتوی جوش وردیدلی وه نوبیا مسئله هم هغه ده کوم چی دابن عباس په روایت کی راغلی یعنی شوروادی توی کړی اوغوښه دی پریمنځی اوودی خوري عبدالله ابن مبارک(رح) چی دامام ابوحنیفه دانظرواوریده نو وی ویل دامذهب دی: غرض دعبدالله بن مبارک (رح) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) ددغه نظرتائیدوه.(۱)

(۸) حسن بن زیاد(رح) وایی یوسړی په یوځای کی مال خخ کړی وه بیا تری خای هیرشوی وه نوامام صاحب ته راغی اوهغه ته یی داقصه وکړه امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل داخوکومه فقهی مسئله ده چی زه یی حل راوباسم مګرزه تالپاره یوتدبیربرابروم ته داسی وکړه چی ټوله شپه نفل لمونځ وکړه امیددی چی دغه مشکل دی حل شي اودغه خای درته معلوم شي دغه سړی دشپی نفلونه شروع کړه دشپی څلورمه حصه نفل یی لا نه وه پوره کړی چی د مال دخخیدوځای ورته معلوم شه سحرامام ابوحنیفه (رح) ته راغی اوهغه ته یی وویل ما دشپی څه حصه کی نفل وکړه دهغه مال خای می پیداکړامام صاحب ورته وویل زه پدی پوهیدم چی شیطان په تاداپیرزوکیږی چی دمال خای درته وه خایی اوپه تایی دانه پیرزوکیږی چی ته دی ټوله شپه دالله عبادت وکړی نوالله دی انصاف روزی کړه تاولی دباقی شپه دالله عبادت دالله دشکراداکولو لپاره سرته نه رسوله (۱)

(۹) محمدبن حسن وایی دیوسړی کورته غله داخل شوی وه اودهغه دکورساماتوه یی غلاکړی وه.

غلودکورمالک ته قسم ورکړی وه چی ته ووایه په مادی ښځه پدری طلاقوسره طلاقه وي که ماچاته وویل دی خلکولماڅخه غلاکړی په رڼا ورځ به دکورمالک

---

۱. اخبارابی حنیفة ص۳۷ج ۳۸/۱ج ۳۹/۱ج ۱

غَله لیده چې دهغه دکورسامانونه به یې خرخول اوده به ورته څه نشو ویلی نودغه سړی امام اعظم ابوحنیفه (رح) ته راغی اوهغه ته یې وویل داسی یوکارراسره شوی اوددی څه چاره ده امام اعظم ابوحنیفه (رح) ورته وویل ته داسی وکړه چې دخپلې محلی امام اومؤذن اوهغه غَله اونور روغوال خلک ګډ وړ راوله داتول به یوی کوټې ته داخل شي یویو به راوه وځي تانه به پوښتنه کېږی داستاغَل دی؟کوم یونفرچې ستاغل نوی ته به وې نه اوکوم نفرچې ستاغَل وه په هغه به چُپ پاتي کېږی هغه سړی امام ابوحنیفه(رح) ته هغه خلک راوستل امام ابوحنیفه(رح) هغوی ته وویل ستاسودټولوداخوخه ده ددی سړی غَلاشوی مال یې پیداشي هغوی ټولوپه یوه اوازوویل وو بیا هغه طریقه سرته ورسیده کومه چې هغه سړي ته خودل شوی وه او دهغه ټول مال دغلوڅخه ترلاسه شه.([1])

(١٠) علی بن عثام وایي امام اعظم ابوحنیفه (رح) یوه ورځ په بغدادکی په مدینة السلام کی تیریده پدغه وخت کی په مدینة السلام کی امیرحسین بن زید وه اودادعلوي قبیلې مشهور شیعه وه دده یوغلام (مریی) وه ده خپل مریی ته وویل ورشه ددغه شیخ (امام ابوحنیفه(رح) دسورلۍ واګی ونیسه اوتپوس تری وکړه چې دنبي علیه السلام څخه وروسته غوره شخص څوک دی که درته وی ویل چې ابوبکر(رض) نو پوزه پری ماته کړه هغه مریی دامام ابوحنیفه(رح) څخه هغه پوښتنه وکړه امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل عباس بن عبدالمطلب غوره دی.([2])

امام ابوحنیفه(رح) دلته په جواب کی دنهایتی زیرکتیاڅخه کاراخستی ځکه که امام اعظم ابوحنیفه (رح) داسی ویلی وی چې ابوبکر(رض) نودخپلی بی عزتی سره مخامخ کیده اوکه داسی یې ویلی وی چې علي(رض) نودادنفس الامرخلاف وه اوامام ابوحنیفه(رح) پدی پوهیده چې عباس (رض) هم دنبي علیه السلام په اصحابوکی ډیرلوړمقام لري اونبي علیه السلام دده په هکله

---

١. اخبارابی حنیفة ص٤٠ج١

٢. مناقب الامام الاعظم ابوحنیفة ص١٠٦ اللامام موفق بن احمدمکی المتوفی ٥٦٨

ارشادفرمايلی أنت آخر المهاجرين كما أنني آخر الأنبياء عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إن الله اتخذني خليلا كما اتخذ إبراهيم خليلا ومنزلي ومنزل إبراهيم تجاهين في الجنة ومنزل العباس بن عبد المطلب بيننا مؤمن بين خليلين.(١)

(١١) داامام اعظم ابوحنيفه (رح) په وخت کی ديوی ښخی دوه غبرگونی بچيان پيداشوچی ددواړوشاگانی سره نختی وی دزېږيدوسره متصل يومړشه اوبل ژوندی وه دکوفی علماء فتوه ورکړه چی ژوندی ماشوم دی هم دمړه ماشوم سره يوځای دفن شي امام اعظم ابوحنيفه(رح) وويل چی نه بلکه داسی دی وشي چی په خاوره کی دی دومره کنده وويستل شي چی دامړماشوم يکی ترنختی ځای پوری په خاوروکی پټ شي اودخاوروپه سردی ژوندی ماشوم ته شيده ورکول کی ترڅو چی هغه مړماشوم په خاوروکی خاوری شي دماشوم وارثانو داترتيب وکړپه ډيرلږ وخت کی هغه مړ ماشوم خاوری شه اودژوندی ماشوم علاج معالجه وشوه اوژندی پاتی شه بيا به هغه هغه هلک ته خلکودامام اعظم ابوحنيفه(رح) ازادشوی غلام ويلی شو.(١)

(١٢) امام ابوحنيفه(رح) اوابن ابی ليلی(رح) دواړه دخليفه ابو جعفر منصور حضور ته تللی وه دخليفه منصورپه مجلس کی ابن ابی ليلی (رح) داامام اعظم ابوحنيفه(رح) څخه پوښتنه وکړه چی يوسړی په بل سړی جامه خرڅه کړه مگردعقد په دوران کی ورته وويل زه ددی جامی دهرقسم عيب څخه بری الذمه يم اختسونکی هم وه منله اياداعقد دبيع صحيح دی امام ابوحنيفه (رح) ورته وويل صحيح دی ابن ابی ليلی ورته وويل صحيح ندی ترڅوچی په عيب ورته لاس کی ندی او ورته ويی نه ښايی امام ابوحنيفه(رح) بارباروويل صحيح دی اوابن ابی ليلی به بارباروويل چی عيب يی ورته پلاس نه وی خودلی عقدصحيح ندی امام اعظم ابوحنيفه (رح) چی په تنگ شه نوورته يی وی ويل که دبنی هاشم کورنی اوعبدالمطلب کورنی يوه زنانه په يوچاغلام (مربی) خرڅ کړي اوددغه غلام د ذکرپه سربرگې مرض وي نودغه خرڅونکی زنانه به

---

١ . اسدالغابة٥٧٦ج ١

ددغه غلام(مربی) د ذ کرپه سرلاس ږدی اوخرڅونکی ته به یی ښایی اوورته وایی به چی داعیب پکی موجوددی ابن ابی لیلی وویل وو داکاربه کوي خلیفه منصور چی دابن ابی لیلی داخبره واریده په غوصه شواوهغه یی سپک کړاوامام ابوحنیفه (رح) په ابن ابی لیلی (رح) په دلیل کی غالبه شو.(١)

(١٣) امام ابوحنیفه(رح) سره په یومجلس کی یو تعد اد علماء ناست وو امام ابوحنیفه (رح) لدوی څخه پدی توګه پوښتنه وکړه یوځوسړي ناست وو پدی وخت کی یومارپه یوسړی بره وختلوهغه سړي دامارلخان څخه ګذارکړاوپه بل سړی پریوتلو هغه هم ګذارکړاوپه بل سړی پریوتلومارډریم سړی وه چیچلو اومړشه ددغه مړه سړی دیت په چالازم دی بعضوویل په اول سړی لازم دی بعضوویل په دویم لازم دی بالاخره دوي ټولوامام ابوحنیفه (رح) ته وویل ستاڅه نظردی امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل کله چی اولنی سړی مارلځان څخه ګذارکړاودویم سړی یی ونه چیچلواولنی دضمان(تاوان) څخه خلاص شو کله دویم سړی له ځان څخه مارګذارکړنوکه دریم سړی یی دمارپه لګیدوسره سمدست وچیچلو دویم سړی به دیت ور کوي اوکه دریم سړی څخه ماروه غورزیده اولږ وخت تیرشه اوبیا یی دریم سړی وه چیچلوپه دویم سړی هم څه نشته ټولوعلماءپه یواوازوویل ابوحنیفه مسئله همداسی ده تاچی کومه وویله.(١)

---

١ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص١٦٧

# (۱۵) امام اعظم ابوحنیفه(رح) فقهي مسائل په قرآن او سنتو او اجماع بنا کړي

یو تعداد پوچ دماغه ورونه داخبره کوي اووایي چې امام ابوحنیفه(رح) چې کوم فقهي مسائل دنیاوالوته وړاندی کړی اکثریې دقرآن اوسنتوڅخه خلاف دی داتبلیغات هغه څوک کوي چي دحنفي فقهي له حقائقوڅخه ناخبره پاتي شوي اود درایت اوروایت څخه بې برخې وي اودفقهي مسائلوپه باریکاتوهیڅ پوهه نلري شوافع سره لدی چې په شافعیت کې ډیرکلک دریخ لري مگرداحنافوپه هکله چې کله یوبې ادبه خپله گوستاخانه ژبه وه کاروي نوبیاشوافع هم چَپ نه پاتې کېږي اودحق چغه پورته کوي امام شعراني دحنفي فقه په هکله دپوچ دماغه ورونودشکوکوازاله پدی توگه کړی: (الفصل الاول: فی شهادة الائمة له بغزارة العلم وبیان أن جمیع اقواله وافعاله وعقائده مشیدة بالکتات والسنة).(۱)

امام اعظم ابوحنیفه(رح) چې په اجتهادی مسائلوکی په قرآن اوسنتوکی دکومی بارکی څخه کاراخستلی دغسې باریکی نه هرڅوک لټولی شي اونه پری هرڅوپوهېږي البته هرهغه څوک چې دظاهري علم سره دباطني علم څخه بهرمندوي بیا نوداسې اشخاص دامام اعظم ابوحنیفه(رح) فقهي مسائلوپه باریکاتوپوهېږي دامام شعراني استادعلی الخواص (رح) پدی اړه داسې ویلي امام شعراني وایي: وسمعته مرةأخری یقول مدارک الامام ابی حنیفة دقیقة لایکادیطلع علیها الاهل الکشف من اکابرالاولیاء.(۱)

ایا دغه شنډ ذهنه وروردلوي څښتن تعالی ددی وعیداتوڅخه وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا.(۲)

---

۱. المیزان الکبری الشعرانیة ص۷۷ج ۷٦/۱ج ۱

۲. سورة ق آیة ۱۸

مَا يَلفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ.([1])

ناخبره پاتې دي اوپادو ی پدی نه پوهيږي چې موږ به یوه ورځ دخپلودی پوچوتبلیغاتوپه اساس دلوي څښتن تعالی ددکرشوي وعیداتومصداق وګرزودغه ورونه باید په خپلوګریوانونوګی سربنکته اوخپلوځانونه ځواب په وو سره ورکړي: په فقهي مسائلوکی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دڅیړنی طرزاوطریقه داوه چې هغه دجیدوعلماء یوه لویه شوراجوړه کړې وه اوکله به چې یوفقهي مسئله دوی ته وړاندې شوه امام ابوحنیفه(رح) به لدغه علماء څخه دهغې حل دقرآن اوسنتو اواجماع په رڼا کې وه غوښته آن تردی چې په یوه یوه موضوع به دغی دعلماء شورایوه میاشت بحث هم کولو کله به چې مسئله ددوی په نظرخه محققه شوه نوامام ابویوسف (رح) به په اصولوکی داخل کړه.([2])

کله چې به دهغې حل په قرآن اوسنتواواجماع کې پیدانشونوبیابه یې قیاس ته رجوع وکړه امام اعظم ابوحنیفه(رح) هیڅکله داسې ندی کړی چې قرآن سنت اواجماع یې پریښې وي اوقیاس یې پدی دری واړومقدم کړی وی حال داچې ابوجعفرشیزاماري سندا دامام ابوحنیفه(رح) څخه روایت کوی چې امام ابوحنیفه(رح) ویلي: هغه څوک چې داخبره کوي چې موږ قیاس به نص مقدم ګڼو خطا دی په الله(ج) قسم وي داخبره دروغ ده حال داچې قیاس ته چې ضرورت پیداکیږي دنص نه روسته پیداکیږي: امام اعظم ابوحنیفه(رح) داهم ویلي موږ اول دیسوی مسئلي لپاره دلیل په قرآن اوسنتوکی لټوو بیاداصحابونظرګوروچې اصحابوددغې مسئلي په هکله څه حکم کړی کله چې پدی کې هم حل پیدانشي بیادډیرسخت ضرورت په اساس دمقیس اومقیس علیه په مابین کې دیوعلت جامعه په ذریعه قیاس کوو : امام اعظم ابوحنیفه(رح) داهم ویلی موږ اول دمسئلې حل په کتاب الله کې ګوروکله چې دمسئلي حل په قرآن کې پیدانشي بیا دهغې حل په سنتوکی لټووکله چې په

---

۱ . سورة الاسراء آية ٣٦

۲ . مناقب الامام الاعظم ابي حنيفة ص ٥٠

سنتوکی هم پیدا نشي بیا د هغی حل داصحابوپه اجماع کی لتووکله چی داصحابوپه اجماع کی هم حل پیدانشي بیا دضرورت په اساس مسکوت عنه دعلت جامعه پواسطه په منصوص علیه باندی قیاس کړو.(۱)

ابومطیع بلخی وایی زه یوه ورخ دامام ابوحنیفه (رح) سره دکوفی په جامع مسجدکی ناست وم چی پدی وخت کی سفیان ثوري، مقاتل بن حیان، حمادبن سلمه، جعفرصادق اونور فقهاء راغله اودامام ابوحنیفه(رح) سره یی خبری اتری کولی په خبروکی یی امام ابوحنیفه(رح) ته وویل ای ابوحنیفه(رح) ته په دین کی ډیرقیاس کی اواول قیاس ابلیس کړی وه امام ابوحنیفه(رح) دوی سره مناظره دسحرڅخه ترزواله پوری وکړه اوخپل مذهب یی دوی ته ددلائلوپه رڼا کی وړاندی کړاوبیا یی ورته وویل زه اول په هره مسئله کی په کتاب الله عمل کوم بیا دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په سنتوبیا داصحابو اجماع په یوه مسئله باندی وړاندی ګنړم په هغه مسئله چی ددوی ترمنځ پکی اختلاف وي بیا ددی ټولومراحلوله طی کولوڅخه وروسته قیاس ته زم دوی چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) داخبره واریده ټول پاڅیده اودامام ابوحنیفه(رح) لاسونه یی ښکل کړه اوامام ابوحنیفه(رح) ته یی وویل ته دعلماءسرداریی موږته دهغه بدګمانی عفوه وکړه کومه بدګمانی چی موږستا په هکله لرله اوموږته معلومات نه وه امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل الله(ج) دی موږاوتاسوټولوته بښنه وکړي.(۱)

خلیفه ابوجعفرمنصورامام ابوحنیفه(رح) ته یولیک استولی وه اوپه هغه کی ورته لیکلی وه . ای ابوحنیفه (رح) ماته ستامتعلق داسی رارسیدلي چی ته قیاس په حدیث وړاندی ګڼی . امام ابوحنیفه (رح) په ځواب کی ورته وویل ای امیرالمؤمنین تاته چی زما په هکله دغه خبره دررسیدلی ده حقیقت دارنګه ندی زه په هره مسئله کی اول په کتاب الله عمل کوم بیا دنبي علیه السلام په سنتو بیا دابوبکر، عمر، عثمان، علی رضی الله عنهم په فیصلواوبیا د نورو اصحابو په فیصلو او کله چی د دوی ترمنځ په یوه مسئله کی اختلاف وي نوزه

---

۱. المیزان الکبری الشعرانیة ص۷۹ج ۸۰/۱ج ۱

بیا لدی څخه یوازې دقیاس په ذریعه غوره کـوم (۱) امـام شـعرانی ویلـی چـی امام ابوحنیفه (رح) یوازې په دینی غیر منصوصی مسائلوکی قیـاس نـدی کـړی بلکه امام شافعی (رح) ویلي کله چی موږ په یوه مسئله کی دقرآن اوسـنتوڅخه دلیل پیدانکړونوبیاد مسئلی حل دقیاس په ذریعه لټوو امام شافعي (رح) پـدی اړه داسی ویلي: اذالم نجدفي المسألة دليلا قسناهاعلى غيرها.(۱)

امام شعرانی وایی نوڅوک چی په امام ابوحنیفه(رح) اعتراض کوي چی ده پـه قیاس عمل کړی بیا خودااعتراض په ټولواماماتودی امام شعرانی داسـی ویلـی: فمن اعترض على الامام ابى حنيفة في عمله بالقياس لزمه الاعتراض على الأئمة كلهم لانهم كلهم يشاركونه في العمل بالقياس عندفقدهم النصوص والاجماع.(۱)

خلیفه منصوردخپلی ښځی سره څـه اخـتلاف منـخ تـه راغـی دوی دواړه پـدی متفق شوچی زموږ په مابین کی به امام ابوحنیفه (رح) فیصله وکړي دوی دواړه امام ابوحنیفه(رح) ته ورغله خلیفـه منصـور وویـل ای ابوحنیفـه(رح) دیوسړی لپاره څوښځوسره نکاح جوازلري؟ امـام ابوحنیفـه(رح) ورتـه وویـل څلورخلیفـه منصـورخپلی ښـځی تـه وویـل تاواوریـده امـام ابوحنیفـه(رح) ورتـه وویـل ای امیرالمـؤمنین څلورښـځی دهغـه چاپـاره جـائزدی چی ددوی تـرمنځ عـدل (انصاف) کولی شی اوهغه څوک چی دیوی نه زیاتوښځوترمنځ عـدل (انصـاف) نشی کول اویاورسره داویره وي چی عدل(انصاف) به راځخه ونشي نوبیـا بـه پـه یوه ښځه بسنه کوي څکه الله (ج) فرمایي:

[وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا](۲)

بیا امام ابوحنیفه(رح) خلیفه منصورته وویـل مـوږ لپـاره پکـارده چـی دالله (ج) دفرمان احترام وکړواوهغـه تـه عملـی بڼـه ورکـړو خلیفـه منصـورچپ شـه امام ابوحنیفه(رح) پاڅیده اوکورته لاړدخلیفه منصورښځی امام ابوحنیفه(رح) ته څه مال اوجامی دتحفی په توګه ولېږلی امـام ابوحنیفـه (رح) هغـه بیرتـه ورولېـږل

---

۱ . الميزان الكبرى الشعرانية ص٠٨ ج ۱

۲ . سورة النساء آية۳

اوورته وی ویل موږدغه فیصله ستااوستادخاوندخلیفه منصورپه مابین کی پدی خاطرکړی چی زه دخپل دین څخه دفاع وکړم اوموږ داکارددنیا لپاره ندی کړی.(۱)

دتیربحث څخه داثابته شوه چی امام اعظم ابوحنیفه (رح) دتل لپاره په فقهی مسائلوکی اول په کتاب الله ا وسنت رسول الله اواجماع دلیل نیولی مګرکله چی ددوی لاس ته دیوی فقهی مسئلی په هکله دکتاب الله اوسنت رسوالله اواجماع څخه دلیل ندی ورغلی نوبیا دډیرمجبوریت په اساس یی دمسئلی حل دقیاس پذریعه لټولی دی: امام شعرانی پدی اړه داسی ویلي: فعلم من جمیع ماقررناه ان الامام لایقیس ابدامع وجودالنص کمایزعمه بعض المتعصبین علیه وانما یقیس عندفقدالنص.(۱)

داچی امام اعظم ابوحنیفه (رح) استدلال په دینـي مسائلوکی اول کتاب الله دویم سنت رسوالله دریم اجماع څلورم قیاس وه یوشاعرداترتیب په خپل شعرکی دارنګه راخلاصه کړی:

ان الامـــام اباحنیفـــة لم یـــذق
عینیـــه قـــط لـــذاذة الاغفـــاء
وعلـــی کتـــاب الله مذهبـــه بنـــي
لله ثـــم الســـنة الغـــراء
ثـــم اجـــتماع المســلمین فـــانهم
نظروابنورالحـــق في الظلـــماء
ثـــم القیـــاس علـــی الاصـــول فانـــه
زهرنمـــا في الملـــة الزهـــراء
مـــاذاجواب عـــداه ان یقـــل
لهـــم اهذاصـــاحب الاراء
راموالقیاس علی النصوص فمااهتدوا
وتخبطـــوا کتخـــبط العشـــواء

۱. روائع ابی حنیفة ص۴ج۱

ذمـــوا القیـــاس واهلـــه لمـــا رأوا
ان المقـــائس حرفـــة الفقهـــاء
اکبـــادهم طویـــت علـــی ســـودائهم
وضـــلوعهم نشرـــت عـــلي الشـــحناء
داووا بمعجـــون النجـــاح فانـــه
مســـتنزف للمـــرة الســـوداء(٢)

عبدالله بن مبارک(رح) وایی امام ابوحنیفه(رح) حج ته لاړکله چې مدینې منورې ته ورسیده محمدبن علی بن حسین بن علی(رض) مخې ته ورغی اوامام ابوحنیفه (رح) ته یې وویل ته هغه شخص یې چې څما دنیکه دین اواحادیث دی په قیاس بدل کړي امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل زه په الله (ج) سره لداسې کارڅخه پناغواړم بیا ورته محمدبن علی(رح) وویل بلکه تابدل کړي امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل دلته کینه ته په ماډیرلوی احترام لرې لکه څنګه چې ستا نیکه نبي علیه السلام په خپل ژوندانه په اصحابوفوقیت لرلو بیا امام ابوحنیفه(رح) هغه ته وویل زه لتاڅخه ددرې خبروپوښتنه کوم ته دهغې ځواب راکړه اوله پوښتنه داده په میراث کې دنارینه ځوبرخې دي اودزنانه څو محمدبن علي(رح) ورته وویل دنارینه دوه برخې دي اوزنانه یوه برخه . امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل داستا دنیکه نبي علیه السلام وینا ده که ماستا دنیکه وینا په قیاس بدلولی نومابه ویلی وی چې ښځه کمزوری ده ښځې ته بایدوه برخې ورکړشي اونارینه ته یوه برخه.

دویم یې ورته وویل لمونځ ډیرفضیلت لري که روژه محمدبن علي(رح) ورته وویل لمونځ ډیرفضیلت لري بیا ورته امام ابوحنیفه(رح) وویل داستا دنیکه نبي علیه السلام وینا ده که ما ستا دنیکه دین په قیاس بدلولی نوما به ویلی وی چې حائضه اونفاسه ښځه چې کله دبیماری څخه پاکه شی باید دلمانځه قضاراوړي نه دروژې بیا امام اعظم ابوحنیفه(رح) له هغه څخه پوښتنه وکړه چې بول ډیرنجس دی اوکه منې محمدبن علی ورته وویل بول ډیرنجس دی امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل که ما ستا دنیکه دین په قیاس بدلولی نوغسل به می په بولولازم کرزولی وی او په منی باندی یوازی اودس مګرزه په الله (ج) سره پناه

غواړه لدی څخه چې ستا دنيکه دين په قياس بدل کړم بيا ابوجعفرمحمدبن علي ورپاخيده اوورترغاړه وتلو اوډير احترام يې دامام اعظم ابوحنيفه (رح) وکړاودهغه مخ يې ښکل کړ.(۴)

غرض داچې امام اعظم ابوحنيفه(رح) پدی پوهه شه چې محمدبن علی(رح) چاغلط پوهه کړی نوامام اعظم ابوحنيفه(رح) هغه پداسې طريقه پوهه کړچې محمدبن علی(رح) پدی متيقن شه چې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) استدلال په ديني مسائلواول کتاب الله اوسنت رسوالله دی البته کله چې ديوی مسئلی حل په کتاب الله اوسنت رسول الله کی موجودنوی بيا دضرورت په اساس قياس ته ځي ځکه زنانه چې کله دماهانه بيماری اونفاس څخه پاکه شي نودشرعی صريحی نص په اساس به دروژوقضاراوړي نه لمونځونواګرکه قياس ددی غوښتونکی دی چې دلمانځه قضاراوړي نه دروژو همدانګه په ميراث کی قياس ددی غوښتونکی دی چې ښځی ته بايددوه برخی ورکړشي اونارينه ته يوه ځکه زنانه نسبت نارينه ته ډيره کمزوری ده مګرصريحی نص پدی دی چې نارينه ته به دوه برخی ورکول کېږي همدارنګه موضوع دبولواومنی چې قياس يوڅه وايی اونص بل څه.

# (١٦) قیاس دقرآن په هنداره کی

څوک چې دمطلق قیاس څخه انکارکوي دغه ورونه اصلادقرآن څخه ناخبره پاتي دي اودقرآن په علوموهیڅ معلومات نلري دقیاس ثبوت په کتاب الله راغلی چی انکارتری محض جهل دی مور غواړوداموضوع په کتاب الله مد لل ثابته کړوخودلوستونکوتنده پری مانه شي.(١)
إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ.(٢)
که نوموړی آیة کریمه ته لږ په دقت زیرشو نو وبه وینوچی نوموړی الهي ارشاد دقیاس په ثبوت لکه دلمرروښانه دلیل دی څکه په نوموړی آیة کریمه کی عیسی علیه السلام مقیس دی اوادم علیه السلام مقیس علیه اوعلت جامعه په مابین دمقیس اومقیس علیه کی پدایښت ددواړودی من غیر اب یعنی نوموړی آیة کریمه کی رد دی په هغه چاچی څوک دعیسی علیه السلام په هکله دتثلیث یا د بنوت یا د الوهیت عقیده لری نوالله (ج) دغه باطلو ډلو باندی رد وکړ چی که تاسووایی چی عیسی علیه السلام پلارنلری نو دی نعوذبالله اله یاابن الله یاثالث ثلاثه دی نوپه نوموړی الهی ارشاد کې عیسی علیه السلام په ادم علیه السلام قیاس شوپدی توګه چی که خبره داسی وي لکه څرنګه چی تاسووایی نوبیاخوآدم علیه السلام هم پلارنلري حال داچی تاسودهغه په الوهیت عقیده نلری نوپکارداده چی دعیسی علیه السلام په الوهیت هم عقیده ونلری داچی نوموړی الهی ارشاد قیاس ثبوت لپاره یوروښانه دلیل دی تفسیرقرطبی پدی هکله داسی ویلي:
(١) قوله تعالی: {إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ}
دلیل علی صحة القیاس. والتشبیه واقع علی أن عیسی خلق من غیر أب کآدم،

---

١ . المیزان الکبری الشعرانیة ص٨٠ج١

٢ . مناقب الامام الأعظم ابی حنیفة ص١٠٠(٣) سورة العمران آیة ٥٩(٤) منقب الامام الاعظم ابی حنیفة ١٦٨ج١

لا علی أنه خلق من تراب. والشيء قد يشبه بالشيء وإن كان بينهما فرق كبير بعد أن يجتمعا في وصف واحد.([1])

تفسیر مظهری دنوموړی آیات په تفسیرکی داسی لیکلي: حجية القياس لأن الله سبحانه نبه على الحكم بجواز خلق عيسى من غير اب قياسا على خلق آدم.([2])

(۲) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا.([3])

بعضی ورونه دسورة النساء دی آیت په ظاهردلیل نیسي اووایی چی پدی آیت کی دمعضلوحل یوازی کتاب الله اوسنت رسول الله خودل شوی نه قیاس دغه ورونه دنوموړی آیت په ظاهرتللي اود هغه حقائقوه څخه چی نوموړی آیت په هغی دلالت کوي په تیاره کی پاتی دي که نوموړی آیت ته په دقیقه توګه متوجه شونودابه لاس ته راوړوچی نوموړی آیت کریمه دشریعت څلورو واړه دلائلوته شامل دی یعنی کتاب الله ، سنت رسول الله، اجماع، اوقیاس څکه داطیعوا الله اواطیعوا الرسول څخه کتاب الله اوسنت رسول الله معلوم شو او(فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ) مقابل چی عدم تنازع (اتفاق) دی اجماع شوه او(فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ) نه مرادرد دغیرمنصوص شه منصوص علیه ته دعلت جامعه په اساس دا قیاس شه . څکه کله چی دیوی موضوع حل په قرآن اوسنتوکی موجودوي هلته خودتنازع(اختلاف) هیڅ تصور نشی کیدی اونه په تنازع دغه صورت کی کوم اثرمرتب کیږي تنازع هغه وخت کی دیوی موضوع دحل په هکله منځ ته راځي چی حل یی په ظاهره توګه په کتاب الله اوسنت رسول الله کی لاس ته رانشي اوکله چی تنازع راشي اودخیرالقرون په دورکی دهغی په حل اتفاق وشي دغه اجماع شوه البته که داسی هم ونه شوه او د موضوع د مثل حل منصوصی موجودوه نوپدی صورت کی دعلت جامعه په

---

۱ . تفسیرقرطبی ص۱۰۲ج۴
۲ . تفسیرمظهري ص۵۱۴ج۱
۳ . سورة النساء آية ۵۹

اساس غیرمنصوصی موضوع په مماثله منصوصی موضوع قیاس کېږي چی دنوموړی الهي ارشاد(فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ) امردلالت کوي داچی نوموړی الهي ارشاد دشریعت په څلورو واړو دلائلو دلالت کوي علامه الوسی په خپل تفسیرروح المعاني کی پدی اړه داسی ویلي: واستدل بالآية منأنكر القياس وذلك لأن الله تعالى أوجب الرد إلى الكتاب والسنة دون القياس والحق أن الآية دليل على إثبات القياس بل هي متضمنة لجميع الأدلة الشرعية فإن المراد بإطاعة الله العمل بالكتاب وبإطاعة الرسول العمل بالسنة وبالرد إليهما القياس لأن رد المختلف فيه الغير المعلوم من النص إلى المنصوص عليه إنما يكون بالتمثيل والبناء عليه وليس القياس شيئا وراء ذلك وقد علم من قوله سبحانه: إن تنازعتم أنه عند عدم النزاع يعمل بما اتفق عليه وهو الإجماع.(۱)

(۳) وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ.(۲)

په نوموړی آیت کریمه دانسان دوباره پدایښت (وروسته له مرگ څخه) قیاس شوی په اولني تخلیق دانسان باندی له نطفی څخه تفسیرقرطبي دنوموړی آیت په تفسیرکی داسی لیکلي: ففي هذا دليل على صحة القياس ؛ لأن الله جل وعز احتج على منكري البعث بالنشأة الأولى.

{قال من يحي العظام وهي رميم} أي بالية.(۳)

(۴){ وَاللَّهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَاباً فَسُقْنَاهُ إِلَى بَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا كَذَلِكَ النُّشُورُ }.(۴)

که نوموړی آیة کریمه ته په دقیقه توگه وگورونودابه ترلاسه کړوچی په نوموړی الهي ارشادکی دانسان ژوندی کیدل دمرگ څخه وروسته په هغه وچه ځمکه قیاس شوي کومه ځمکه چی دبارانه په ذریعه شنه اوژوندی شي . یوصحابي دنبي علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چی انسانان به څنگه ژوندی کېږي نبي علیه السلام ورته ارشاد وفرمایه داسی به ژوندی کېږی لکه څنگه چی مړه ځمکه په

۱ . تفسيرروح المعاني ص۶۶/۶۷ج۵

۲ . سورة يس آية۷۸

۳ . تفسيرقرطبي ص ۵۸ج۱۵

۴ . سورة فاطرآية ۹

بارانه ژوندی کېږي: عن مجاهد بن جبر عن ابن عباس أخبرنا أبو رَزين العقيلي قال قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لأشربن أنا وأنت يا أبا رزين من لبن لم يتغير طعمه" قال قلت: كيف يحيي الله الموتى؟ قال: "أما مررت بأرض لك مجدبة ثم مررت بها مخصبة ثم مررت بها مجدبة ثم مررت بها مخصبة" قلت: بلى. قال: "كذلك النشور" قال قلت:

كيف لي أن أعلم أني مؤمن؟ قال: "ليس أحد من هذه الأمة - قال ابن أبي قيس: أو قال من أمتي - عمل حسنة وعلم أنها حسنة وأن الله جازيه بها خيرا أو عمل سيئة وعلم أنها سيئة وأن الله جازيه بها شرا أو يغفرها إلا مؤمن".(۱)

(۵) {وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْراً بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ حَتَّى إِذَا أَقَلَّتْ سَحَاباً ثِقَالاً سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَنْزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ}.(۲)

په نوموړې آية کریمه کې هم دانسان ژوندی کېدل له مرګ څخه وروسته بارانه په ذریعه دځمکې په شنه کېدوقیاس شوی: که موږ پدې موضوع تفصيلي بحث کووپدې یومستقل ضخیم کتاب لیکل کېږي مګردلوستونکولپاره په ذکرشوی مختصره لیکنه اکتفاء کوو امید دی چې تنده یې پرې ماته شوي وي.

# (۱۷) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سخاوت

داخبره يقيني ده چې حاتم طايي په سخاکي شهرت لري مگرنبي عليه السلام سره په سخاوت کې هيڅوک سيالي نشي کولی صاحب دقصيدې بردې دنبي السلام بلندمقامي او بې مثاله سخاوت په خپلودوه شعرونوکې داسې راخلاصه کړی:

فان فضل رسول الله ليس له حد
فيعرب عنه ناطق بفم
كالزهرفي ترف والبدرفي شرف
والبحرفي كرم والدهرفي همم

دعثمان (رض) له سخاوته هم څوک سترگې نشي پټولی مگردتاريخ په پاڼوکې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) سخاوت هم يوځانگړی مقام نيولی آن تردې چې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) حاسدين هم دده په سخاوت سترگې نشي پټولی که دامام اعظم ابوحنيفه(رح) يوازې دسخاوت په صفت ليکنه وشي نودکاغذسپينې بيشماره ورقې به پرې ډکې شي اودده دسخاوت روايات اوحکايات به سرته ونه رسېږي مگردلته موږ مشت نمونه خرواريوڅومثالونه وړاندې کوواميددی چې دلوستونکوتنده پرې ماته شي.(۱)

قيس بن ربيع وايي امام اعظم ابوحنيفه(رح) به دخپل تجارت ديوکال گټه راجمعه کوله اوپه هغې به يې دمحدثينولپاره دهغې دکوردضرورتونوسامانونه جامې اوخواراکې توکې اخستل اوهغوی ته به لېږل اوکومه نقده گټه چې به پاتې شوه هغه به يې ورته نقدې ورکړې اوهغوی ته به يې وويل پدې باندې خپل ضرورت رفعه کړي اودالله (ج) شکراداکړې ځکه دادالله(ج) فضل دی چې ستاسودخدمت توفيق يې ماته راکړی.(۲)

---

۱ . تفسيرقرطبي ص۱۹۵ج۱

۲ . اخبارابى حنيفة ص٦۱ج۱

(۲) اسماعیل بن حمادوایی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) زوی حماد (رح) چی کله دخپل استادڅخه سورة فاتحه حفظ (یاده) کړه امام اعظم ابوحنیفه (رح) هغه استادته (۵۰۰) پنځه سوه درهمه دتحفې په توګه ورکړه. (۱)

(۳) حسن بن زیاد (رح) وایی امام اعظم ابوحنیفه (رح) دخپلوملګروپه مجلس کې بوڼفرولیده چې زړې جامې یې اغوستلې وې امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل ته ورو ستړه لږ حصارشه کله چې نورنفرلاړل هغه سړی ته امام ابوحنیفه (رح) وویل ورشه هغه جانمازپورته کړه دهغه لاندې چې څه دي هغه واخله اوخپل حال پرې برابرکړه هغه سړي چې جانمازاوچت کړدجانمازلاندې زردرهمه پراته وه هغه سړي وویل صاحبه زه خوسالداره یم امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل ایاتاته دنبي علیه السلام داحدیث ندی رسیدلی چې نبي علیه السلام فرمایلي الله (ج) دهغه انسان سره محبت ساتي چاباندې چې دالله (ج) دنعمت اثرښکاره شي نوتالپاره خوداپکاروه چې دخپلې مالدارۍ په اساس تاخپل حال ته تغیرورکړی وی چې ستا ملګری ستا پدې حال خپه شوی نوی.

(۴) امام ابویوسف (رح) وایی امام ابوحنیفه (رح) به چې څوک پیژندل ډیر زیاته نیکي به یې ورسره کوله امام ابوحنیفه (رح) به هغه ته پنځوس اوپنځوسودرهموڅخه زیات درهم وربخل نوچابه چې دامام ابوحنیفه (رح) دامداد شکریه دخلکوپه مخکې اداکړه امام ابوحنیفه (رح) به پرې ډیرسخت خپه شو او وه به ویل ته خما شکریه اداکې اوداخودالله (ج) رزق دی چې الله (ج) تاته درلیږلی خکه نبي علیه السلام فرمایلي تاسوته چې زه څه درکوم یایي لتاسوڅخه منعه کوم زه یوخازن یم زه ددې حقدارهغه څوک ګڼم ماته چې چا لپاره ددغه مال دورکولو امرشوی وي. (۱)

(۵) علي بن حکیم وایی ما دشریک څخه اوریدلی هغه به ویل امام ابوحنیفه (رح) یوداسې شخصیت وه چې ډیرچپ کیناسته اوډیرفکربه یې کاوه اوپه فقهي مسائلوکې دډیردقیق نظرخښتن وه په علم اوعمل اوبحث کې دډیرباریک استخراج خاوند وه چاچې به لده څخه دعلم زدکړه کوله نوهغه ته به یې په صبرتوصیه کوله اوکه دده کوم شاګربه فقیروه دهغه دنیاوي مالي ضرورتونه به پوره کول تردې چې علم به یې حاصل کړنوبیابه یې ورته وویل ته اوس دحلالو

اوحراموپه پیژندلوسره لوی مالداری ته ورسیدی امام ابوحنیفه(رح) دډیرلوي عقل څښتن وه دخلکوسره به یې ډیری کمې خبری کولی.(۱)

(٦) امام ابویوسف(رح) وایی علماءویلي الله(ج) امام ابوحنیفه(رح) الله(ج) په فقه علم عمل سخاء اواخلاقودقرآن خائسته کړی.(۱')

(۷) مسعربن کدام وایی امام ابوحنیفه(رح) به چې خپل اولادولپاره څه اخستل د هغې په اندازه به یې دعلماء په شیوخو خرڅه کوله اوکله به یې چې خپلواولادولپاره جامې اخستلې نودهغې په اندازه جامې به یې شیوخودعلماء لپاره اخستلې اوکله به یې چې دتازه میوی اوتازه خُرما اخستلو اراده خپلو اولادولپاره وکړه نواول به یې دعلماء مشائخو لپاره واخستله اوبیا به یې خپلواولادو لپاره اوکله به یې چې یوشي دصدقې لپاره اخستلو نوڅه اوبهترین شي به یې اخستلو.(۱)

(۸) علي بن جعد وایی حجاج امام ابوحنیفه (رح) ته زرجوړې پَڼې په تحفه کې ورلېږلې وي څه ورځې وروسته امام ابوحنیفه(رح) اراده دپَڼو اخستلو وکړه نویوچاتری پوښتنه وکړه تاته خو زرجوړې پڼې په تحفه کې درکړشوی وي هغه دی څه کړې امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل هغه یوه جوړه هم څما کورته نده داخل شوي هغه ټولې ماخپلوملګرونه هبه (وه بخلی).(۱)

(۹) سفیان بن عیینه(رح) وایی امام ابوحنیفه(رح) به ډیرلمونځونه کول اوډیربه روژه کیده اوډیری صدقې به یې ورکولې په تجارت کې به یې چې څومره فائده لاس ته راوړله هغه به یې ټوله صدقه کوله اوهیڅ شي به یې دهغې څخه نه پریښوده سفیان بن عیینه (رح) وایی امام ابوحنیفه (رح) ماته هم ډیری تحفې رالېږلې.(۱)

---

۱ . اخبارابی حنیفة ص٦١ ج ٦٢/١ ج ۱

# (١٨) دامام اعظم ابوحنيفه(رح) زهد اوتقوا

(١) عبدالوهاب بن همام وايي ما چې خومره علماء په كوفه كې ليدلي دوی تولوبه ويل مورپه كوفه كې دامام ابوحنيفه (رح) څخه بل څوک ډيرفقيه اوپرهيزگاره ندی ليدلی.(١)

(٢) خليفه منصوربه امام ابوحنيفه(رح) ته ډيری تحفې اومالونه لېږل مگرامام ابوحنيفه(رح) به نه قبلول . خليفه منصوريووخت امام ابوحنيفه(رح) ته وويل ته زما تحفې ولې نه قبلوی؟امام ابوحنيفه(رح) ورته وويل: اميرالمؤمنين ماته ستاسودخپل مال څخه تحفه نده راغلې چې مانده قبول كړی كه ستاسو دشخصی مال څخه ماته كومه تحفه راغله زه به يې خامخاقبلوم اوكومه تحفه چې ته يې ماته رالېږې دغه دبيت المال مال دی اوزه ددغې حقدارنه يم.(٢)

(٣) يزيد بن هارون وايي ما د زرو شيوخوڅخه علم حاصل كړی ما پدوی كې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) پشان ډيرپرهيزگاره اوډيرساتونكی دخپلې ژبې بل څوک ندی ليدلی.(٢)

(٤) عبدالله بن مبارک (رح) وايي زه كوفې ته لاړم په كوفه كې مې له خلكو وه پوښتل چې دكوفې په علماء كې ډيرپرهيزگاره عالم څوک دی دوی راته وويل ابوحنيفه(رح).(٣)

(٥) حفص بن عبدالرحمن دامام ابوحنيفه(رح) سره په تجارت كې شريک وه يو وخت امام ابوحنيفه(رح) حفص بن عبدالرحمن ته څه سامان وركړچې خرڅ يې كړي امام ابوحنيفه (رح) حفص بن عبدالرحمن ته وويل دغه فلانی سامان كې دغه عيب دی كله چې تا دغه سامان په چا خرڅولو نوعيب ورته ښكاره كړه حفص بن عبدالرحمن هغه سامان خرڅ كړاوديره گټه يې پكې وكړه

---

١ . اخبارابی حنيفة ص٦٢/٦٣/٤٤ج١

١ . روائع ابی حنيفة ص٤ج١

٣ . اخبارابی حنيفة ص٤٥ج١

مګراخستونکی ته دعيب خودل تری هيرشوی وه کله چی حفص بن عبدالرحمن امام ابوحنيفه (رح) ته دخرخ شوی سامانونوروپی راوړی امام ابوحنيفه (رح) تری پوښتنه وکړه اياهغه عيب دی اخستونکی ته ښودلی وه؟حفص بن عبدارحمن ورته ووېل نه څما څخه هيرشوی وه او اوس راته هغه اخستونکی هم ندی معلوم چی عيب ناکه سامان چا اخستی دی کله چی امام ابوحنيفه (رح) پدی پوهه شونوټولی روپی یی سره دګټی صدقه کړی.(١)

(٦) سهل بن مزاحم وايي موږ به دامام اعظم ابوحنيفه (رح) کورته داخليدلوموږ به دده په کورکی په څمکه غيرله پوزکي(انډيري) څخه بل څه هوارشوی شی ندی ليدلی.(١)

(٧) فيض بن محمدرقي وايي زه دامام ابوحنيفه(رح) سره په بغدادکی مخامخ شوم ما امام ابوحنيفه(رح) ته ووېل زه کوفی ته څم که ستاسوڅه ضرورت وي زبه يی سرته ورسوم امام صاحب راته ووېل کله چی ته کوفی ته لاړی زما زوی حماد(رح) ته وايه چی زما خرڅه په مياشت کی دوه درهمه ده زه په دغه دوه درهمه کله ستوان اخلم اوکله ډوډی هغه خرڅه دخلاصيدوپه حالت کی ده نوته مهربانی وکړه زما مياشتنی خرڅه زرراولېږه.(١)

(٨) ابوالاحوص وايي زما دی په الله(ج) قسم وی که امام صاحب ته به داسی وويل شي چی ته دری ورځی وروسته وفات کېږی نودامام ابوحنيفه (رح) په نيک عمل کی به دمخکيني عمل څخه هيڅ زياتوالی نه راتلو.(١)

يعنی يو انسان چی کله دمرګ واوری نونيک عمل ته زور ورکړی نوداچی امام ابوحنيفه(رح) به تل لپاره په نيکی بوخت وه نودداسی خبروپه اوريدوبه دامام ابوحنيفه (رح) په نيک عمل کی کوم بدلون نه راتللو.

(٩) احمدبن اسماعيل بغدادي وايي يوه ورځ ديزيد بن هارون څخه پوښتنه وشوه چی يوسړی کله ددی وړتيا لري چی په دينی مسائلوکی فتوه ورکړي؟يزيدبن هارون ورته په څواب کی ووېل کله چی يوسړی دامام ابوحنيفه(رح) مرتبی ته ورسېږي څکه ما دامام ابوحنيفه(رح) څخه بل څوک

---

١. اخبارابی حنيفه ص٥٦ ج١/٤٦ ج١/٤٧ ج١

فقیه اوپرهیزگاره ندی لیدلی امام ابوحنیفه(رح) دیوکورمخی ته په سخته گرمی کی لمر ته ناست وه ماورته وویل ای ابوحنیفه (رح) ددی کورددیوال سیوری ته ولی نه کینی؟امام ابو حنیفه(رح) راته وویل ددی کورخیښتن څما قرضداری دی نوزه نه غواړم چی دده دکورددیوال له سیوری څخه استفاده وکړم هسی نه چی دده ددیوال له سیوری څخه گټه اخستل څما دقرض څخه گټه اخستل حساب نشي.(۱)

(۱۰) یحی بن قطان وایی څما دی په الله قسم وي زه دامام ابوحنیفه (رح) سره ډیر کیناستلی یم اوله هغه څخه می ډیرڅه اوریدلی دي کله به چی موږدده سره مخامخ شونوموږ بـه دهغـه لـه خیـری څخـه دامعلومـه کـړه چـی امـام ابوحنیفه(رح) په رښتیاتوگه له الله (ج) څخه ډیروربږي.(۱)

(۱۱) امام ابوحنیفه(رح) چی په کوم ځای کی وفات شوی پـه هغـه ځـای کـی (۷۰۰۰) څله قرآن ختم کړی.(۲)

۱ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص ۱۹۱ج ۱موفق بن احمدمکي

۲ . سیراعلام البلاء ص۳۹۴ج٦ مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ۲۳۵ج ۱

# (۱۹) د تقوی مفهوم اوحقیقت

د تقوی کلمه په ژبه ډیره اسانه اداکېږي مګردتقوٰی حقیقت عملی کول ډیرستونزمن اوسخت کاردی ځکه خپل روزمره ژوند دلوي څښتن تعالی اودهغه درسول داوامرواونواهیوسره عیار ول اوخپل قول اوفعل دشریعت داصولوسره سرته رسول کوم آسان کارندی اوهمدا استقامت فی الدین ګڼل کېږي اواستقامت فی الدین دانسان په ژوندانه کی هغه سخته مرحله ده چی ترسره کول یې دهرانسان کارهم ندی: [إِلَّا مَن رَّحِمَ اللَّهُ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ](۱)

نوداچی استقامت فی الدین دانسان په ژوندانه کی یوه سخته مرحله ده نبي علیه السلام به فرمایل زه سورة هودسپین ګیری کړم ځکه په سورة هودکی لوی څښتن تعالی فرمایی [فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ](۲)

عن عثمان بن حاضر الأزدي قال: دخلت على ابن عباس فقلت أوصني! فقال: نعم! عليك بتقوى الله والاستقامة، اتبع ولا تبتدع.(۳)

دعثمان بن حاضرازدی څخه روایت دی هغه وایی ما ابن عباس (رض) ته وویل ماته وصیت وکړه . هغه راته وویل ای عثمان بن حاضرتقوٰی په ځان کی پیداکړه اوبیا استقامت اختیارکړه دشرعی اوامرواونواهیو اتباع وکړه اوپه دین کی دشریعت خلاف کارونه مه ایجاده وه . قرآن عظیم الشان دتقوٰی موضوع ډیره په شد مد سره ذکرکړی او ولس خایه یی په تقوٰی باندی امرکړی [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ](۴)

---

۱ . سورة الدخان آية ۴۲

۲ . سورة هود آية ۱۱۲

۳ . سنن دارمی رقم الحديث ۱۴۱

٤ . العمران آية ۱۰۲

په نوموړې آية كريمه كې په واقعي تقوى سره امرشوى اودواقعي تقوى تفسيرنبي عليه السلام پدى توگه كړى: عن مرة عن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم حق تقاته أن يطاع فلا يعصى وأن يذكر فلا ينسى وأن يشكر فلا يكفر.(۱)

يعنى واقعي تقوا ديته ويل كيږي چې يوانسان دالله (ج) اطاعت په دوامداره توگه وكړى اونافرمانى يې ونكړي اودتل لپاره الله (ج) يادكړي اوهيريې نكړي اودالله(ج) شكراداكړي وناشكرى يې ونكړي.

اما دسالكينواواهل تصوف په نظردواقعي تقوامفهوم اوحقيقت ډيرپيچلى دى دوى چې كوم دواقعي تقوا تعريف كړى دغه تعريف به په بشرى ټولنه كې دگوتوپه شمارافرادوباندى صادق شي دوى دتقوا تعريف داسى كړى: هو طرح الهوى ونبذ السوى والفوز بالمحبوب الأعلى.(۲)

تقوا عبارت دى له خواهشات غورزولو اوغيرالله پريخودلو اوالله (ج) رضاحاصلولو باندى كامیابه كيدل: غرض داچې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) فقاهت، سخاوت ، ذكاوت، زهداوتقوا لكه دلمرروښانه خبره وه علامه ذهبى دامام ابوحنيفه(رح) په هكله داسى ويلي قلت:

الامامة في الفقه ودقائقه مسلمة إلى هذا الامام. وهذا أمر لا شك فيه. وليس يصح في الاذهان شئ * إذا احتاج النهار إلى دليل وسيرته تحتمل أن تفرد في مجلدين، رضي الله عنه، ورحمه. توفي شهيدا مسقيا في سنة خمسين ومئة.(۳)

دعلامه ذهبى (رح) ذكرشوى وينا په حقيقت بنا ده اوكومه مبالغه نده تقوابهترين لباس دى اوبى تقوا انسان بربنډدى: اذالمرء لم يلبس ثيابا من التقى: يتقلب عريانا وانكان كسالئ: دامام اعظم ابوحنيفه(رح) لخوا ۱۲۷۰۰۰۰اجتهادى مسائل تدوين شوي.(٤)

اوپدغه اجتهادى مسائلوكى ده ددومره احتياط څخه كاراخستلو چې ده به اول

---

۱ . تفسيرقرطبى ص۱۵۴ج۴
۲ . روح المعانى ۱۸٦ج۱
۳ . سيراعلام النبلاء ص۳۹۴ج٦
٤ . معارف السنن ص۲٦۲ج۳

ددغـه اجتهـادی مسـائلوتائیدلپاره دفقهـی علـماء دشـوراخخه تائیداخسـتلو او وروسته به یی تدوین ته سپارل امام اعظم ابوحنیفـه اول هغـه څـوک وه چـی دفقهی مسائلودتدوین لپاره یـی دجیـدو علـماء شورا جوړه کـړی وه اودلـوی څیښتن تعالی دی ارشادته [وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ].(۱)

اونبي عليه السلام دی زرینی وینا ته(عن علي قال قلت: يا رسول الله إن نزل بنا أمر ليس فيه بيان أمر ولا نهي فما تأمرنا قال تشاورون الفقهاء والعابدين ولا تمضوا فيه رأي خاصة).(۲)

عملی بنه ورکړی وه مولانایوسف بنوری (رح) دذکرشوی روایت پـه اړه ویـلي: ورجاله موثقون من اهل الصحيح.(۳)

---

۱ . سورة شوراآیة۳۸

۲ . المعجم الاوسط للطبرانی رقم الحديث ۱٦۱۸المعجم الكبير رقم الحديث ۱۲۰۴۲

۳ . معارف السنن ص۳۹۴ج۳

# (۲۰) امام اعظم ابوحنیفه(رح) به دتهجدو لمانځه او قرآن تلاوت ډیر زیات اهتمام ساتلو

وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا.(۱)
يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (۱) قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا (۲) نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا (۳) أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا (۴) إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا (۵) إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا (٦) إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا (۷) وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا (۸).(۲)

تهجدیونفلی لمونځ دی چی اداکول یی ډیرغوره کاردی نبي علیه السلام به تل لپاره دتهجدولمونځ اداکولوچی په احادیثو کی ورته قیام اللیل ویل کېږي صحابه کراموتابعینواوهمدارنگه ډیرومسلمانانوبه دتهجدلمانځه ډیرزیات اهتمام ساتلو اونن صبایی هم مخلص مسلمانان ډیراهتمام ساتي الله (ج) دی هرمسمان لپاره دتهجدلمانځه اداکولو توفیق ورکړي امین ډیرعبارت کول کوم ناروا کارندی بلکه په ډیرعبادت سره بنده الله (ج) ته قرب(نزدیکت) حاصلوي مولاناعبدالحی لکنهو(رح) پدی هکله یوه رساله لیکلی په نامه د(اقامة الحجة علي الاکثارفی التعبد لیست ببدعة) هغه پدی رساله کی ډیرداسی مثالونه ذکرکړی چی یوتعدادصحابه اوتابعین داسی وه چی دشپی به یی په سونو رکعتونه تهجد کول اوقرآن به یی پکی ختمولوامام اعظم ابوحنیفه(رح) به هم دتهجدولمانځه ډیرزیات اهتمام کولواوقرآن به یی په تهجدوکی ختمولوآن تردی پوری چی بعضی ایاتونه به باربارپه یورکعت کی وه لوستل اوورسره به یی وه ژړل تردی چی سحربه شه.

(۱) امام ذهبی وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) په یورکعت کی هم ټول قرآن ختم کړی.(۲)

---

۱ . الاسراء آیة ۷۹ (۲) المزمل

(٢) قاسم بن معن وايي امام اعظم ابوحنيفه يوه شپه په تهجدو ودريده اودا آية (بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ(٣) باربارتكراركړاوژړل يي اوترسحره پورې يې الله (ج) ته تضرع اوعاجزي كوله.(١)

(٣) يحى ابن معين وايي امام اعظم ابوحنيفه به دروژې په مياشت كې شپينه خله قرآن ختمولو.(٣)

(۴) ابوالجويريه وايي مادامام اعظم ابوحنيفه(رح) سره شپږمياشتې وخت تيركړى ده په دغه موده كې دشپې دخوب لپاره ډډه ونه لګوله ټوله شپه به په لمانځه ولاړوه.(٢)

(۵) سفيان بن عيينه(رح) وايي زموږپه وخت كې مكې مكرمې ته داسي څوک ندي راغلي چې هغه دي دامام اعظم ابوحنيفه(رح) څخه ډيرلمونځ كړى وي.(١)

(٦) يحى بن ايوب زاهدوايي امام اعظم ابوحنيفه(رح) به دشپې نه اوده كيده.(١)

(٧) منصوربن هاشم وايي زه دعبدالله بن مبارک(رح) سره په قادسيه كې وم چې يوسړى دكوفې څخه راغى دعبدالله بن مبارک (رح) په حضوركې دامام اعظم ابوحنيفه(رح) غيبت شروع كړعبدالله بن مبارک(رح) ورته وويل الله دې تباه كړه ته دداسي چاغيبت كوې چې هغه پنځه څلويښت كاله پنځه لمونځونه په يوه اوداسه كړي اوهغه به دشپې په دوه ركعته لمانځه كې قرآن ختمولواومادافقه دامام اعظم ابوحنيفه(رح) څخه ياده كړې.(١)

(٨) مسعربن كدام وايي زه يوه شپه مسجدته لاړم په مسجدكې يوسړى په لمانځه ولاړوه چې دقرآن تلاوت يې په ما ډيرخوږولګيده ماغوږكيښوده اوه سپارې يې وه لوستلي ماوويل اوس به ركوع ته لاړشي ركوع ته ښكته نشه څپل قرآءة كې لس سپارې ختمې كړې بيا نيم قرآن ان تردې چې په يوركعت كې ټول قرآن

---

١ . النجوم الزاهرة في ملوک مصروالقاهرة ص١٣ ج ٢مناقب الامام الاعظم ابي حنيفة ص ٢٣٠ ج ١ (٣) القمرآية ۴٦

٢ . مناقب ابي حنيفة ص ٢٣٠ ج اللموفق بن احمدمكي

یی ختم کړ چی ما وکتل هغه امام اعظم ابوحنیفه(رح) وه.(۱)

(۹) خارجه بن مصعب وایی په کعبه کی څلورو امامانوقرآن ختم کړی عثمان بن عفان (رض) تمیم داری (رض) سعیدبن جبیر(رض) اوامام اعظم ابوحنیفه (رح).(۱)

(۱۰) ابوزاهده وایی ما دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره په مسجدکی دماخستن لمونځ وکړخلک ټول لاړل امام ابوحنیفه (رح) په ماپوهه نه وه چی زه په مسجدکی پاتی یم اوزه پدی اراده پاتی شوم چی زه دامام ابوحنیفه(رح) څخه دیوی مسئلی پوښتنه کوم امام ابوحنیفه(رح) په لمانځه وه دریده اوقرآن یی شروع کړکله چی دی آیة(فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ (۲) ته ورسیده نودآایة یی باربارتکراره ولوتردی چی سحرشه اوزه ده لپاره په انتظارناست وم.(۱)

(۱۱) عبدالحمید حمانی وایی ماد ابوحنیفه (رح) سره شپږمیاشتی وخت تیرکړ ابوحنیفه (رح) به هره شپه په تهجدوکی قرآن ختمولو اودماخستن په اوداسه یی دسحرلونځ اداکولو.(۱)

(۱۲) مسعربن کدام وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) دشپی لمانځه لپاره ډیرقیمتی جامی برابرکړی وی چی قیمت یی یوزرپنځه سوه درهمه وه کله به چی شپه شوه اوخلک به اوده شونودغه لباس به یی واغوستلو اوعطر به یی ولګول اومسجدته به لاړواوپه نفلوبه ودریده یوچاتری پوښتنه وکړه ای ابوحنیفه (رح) دغه جامی خوخلک هغه وخت اغوندی کله چی دبادشاهانو سره ملاقات کوی اویادلویانوسره په غونډه کی شرکت کوی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ورته وویل الله (ج) ته ځان ښائسته کول غوره دی مخلوق ته له ځان ښائسته کولوڅخه.(۱)

امام اعظم ابوحنیفه(رح) تهجدلمونځ به په دومره توجه سره اداکول چی ټوله شپه به یی په لمانځه کی ژړل آن تردی چی دمسجدګاونډیانوبه دده ژړااوریده اوډیرزیات به پری خپه شوکه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دتهجدلمانځه اودهغه دقرآن تلاوت په اړه هراړخیزه لیکنه کوونویوازی داموضوع دبیشماره

---

۱. مناقب ابی حنیفة ص۱۳۲/۱۳۳(۲) الطور آیة ۲۷

اوراقولیکنی ته اړتیالری بلکه موږدده دتهجدلمانځه اودده دقرآن دتلاوت په اړه ددغه یوځوکرخوپه لیکنه اکتفاوکړه امیددی چې دلوستونکوننده پری ماته شوی وی وګوری. کله چې یوشخص په هغه ځای کی چی روح تری وتلی اوه زره ځله قرآن ختم کړی وی نوستاسوخه ګمان دی چی دغه شخص به دخپل ژوندانه په نورو ورځو کی ترمرګه پوری څوځله قرآن ختم کړی وي.

# (۲۱) امام اعظم ابوحنيفه(رح) ډيرحليم (برد باره) اوډيرمحکم يقين څيښتن وه

حلم (بردباري) په انسانوکي هغه نيک صفت دی چي درلودونکی يی په انسانی ټولنه کی محبوبيت ترلاسه کوی اوحلم دالله (ج) دصفاتو څخه يوصفت دی چاته چي دحلم صفت ورکړ شه هغه دی پدی يقين وکړی چي دغه شخص دالله(ج) له نزدی دوستانوڅخه دی قرآن عظيم الشان په صراحت سره داويلی چي الله(ج) ابراهيم عليه السلام اودهغه زوی اسحق عليه السلام يااسماعيل عليه السلام بنادرواياتو په اختلاف ددی نيک صفت حقدارگرزولی وه قرآن عظيم الشان پدی اړه داسی څرگندونه کړی:

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ (۱۱۴) .(۱)

فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ.(۲)

که دامام اعظم ابوحنيفه (رح) ژوندهراړخيزه په دقيقه توگه مطالعه کړيشی نووبه ليدل شی چي امام ابوحنيفه(رح) خپل روزمره ژونددی صفت سره عيارکړی وه او خان يی ددی صفت په مصداق گرزولوکی دابراهيم عليه السلام لاره تعقيب کړی وه: يقين هم هغه باوری صفت دی چي درلودنکی ددی صفت انسان ديوحکم ايمان په درلودلو معتقد گرزوی . امام اعظم ابوحنيفه(رح) دلوی څيښتن تعالی په تقديردومره کلک معتقد اومتيقن وه چي دژونده اړدوکی به ورته هرڅه وړاندی راغله هغی ته به لکه دغره محکم ولاړ وه.(۳)

شقيق بن ابراهيم زاهدبلخي وايي موږ يوه ورځ دامام اعظم ابوحنيفه(رح) سره

---

۱. التوبة آية ۱۱۴

۲. مناقب ابی حنيفة ص۱۳۹ج ۱

۳. الصافات آية ۱۰۱

پـه مسـجدکی ناسـت ووناګهانـه دمسـجدله چـت څخـه یومارداماـم اعظـم ابوحنیفه(رح) به سرراښکته شومور تولو چغه کړی امام ابوحنیفه دمارڅخه ځان بچ کړه مورتول وه تختیدلواوامام ابوحنیفه(رح) هیڅ دخپل ځایه ونه خوریـده اونه یـی پـه رنـګ کـی کـوم تغیرراغـی مارداماـم ابوحنیفـه (رح) پـه غبـرږ کـی راپریوتلوامام ابوحنیفه(رح) ماردخپل لمن څخه څنډوهلواوهیڅ دخپل ځایه ونه خوریده نوزه پدی پوهه شوم چی ابوحنیفه(رح) دډیرکلـک یقـین څیشتن دی.(۱)

(۲) حبیب دامام مالک (رح) کاتب وایی امام ابوحنیفه(رح) مدینی منوری تـه راغی امام مالک(رح) ورسره په یوتعدادمسائلوکی منـاظره وکـړه کلـه چـی امـام ابوحنیفه(رح) لاړ امام مالک (رح) وویل امام ابوحنیفـه(رح) څـومره ډیـرحلیم انسان دی.(۱)

(۳) ابومعاذ وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ډیرحلیم اوډیری تقوا اووقارڅیښتن وه (۱)

(۴) عصام بن یوسف وایی زه دامام اعظم ابوحنیفه(رح) درس مجلس تـه راغلـم اوکیناستم پدی وخت کی یوسړی راغی اوامام ابوحنیفه(رح) ته یی کنځل وکړه امام اعظم ابوحنیفه(رح) هغه ته هیڅ ونه کتل اوخپل درس ته یی دوام ورکړکله چی درس ختم شه امام ابوحنیفـه (رح) پاڅیـده اوخپـل کورتـه روان شـه هغـه سړی ورپسی شاته روان شه اوکنځل یی ورته کول کله چی امام ابوحنیفه دخپل کوردروازی ته ورسیده هلته ودریده اوهغه سړی ته یی وویل دلته خپل زړه په کنځلوتش کړه چی نوردی په زړه ارمان پاتی نشی ځکـه زه نورکوتـه ننـوزم هغـه سړی په خپل دغه بدعمل پښیمانه شه اوامام ابوحنیفه ته یـی وویـل ماتـه عفـوه وکړه.([1])

---

۱ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص ۲۶۷/۲۶۸/۲۶۹

# (۲۲) د امام اعظم ابوحنیفه(رح) سره دجاهلواوناپوهه افرادوحسد

تاریخ اوزماني داثابته کړې چې پوهان دتل لپاره په ټولنه کې دخپل شان په مقابل کې دوه ډوله خلک لري یوتعدادهغه خلک دي چې ددوی دنیک کردارپه وجه ددوی صفت کوي اوخپله هم داخوښه ګڼي چې دوی هم په خپل روزمره ژوندانه کې ددغه پوهانواونیکانولارتعقیب کړي بلکه دوی دپوهانواونیکانوسره خپله ملګرتیا خانونولپاره یوافتخارګڼي مګربیا بل طرف ته یوتعدادناپوهه اشخاص داسي هم شته چې دپوهانوعلمي استعداددی سبب ګرزیدلی چې دغه ناپوه اوجاهلان ددوی له حاسدینواومنتقیدینوله ډلي څخه وګرزي: وګورئ نبي علیه السلام چې کله الله (ج) دنبوت لپاره انتخاب کړاوهغه یې دخپل دی لوی اوعظیم الشان فضل اونعمت حقداروګرزولو نودیهودوله لوری نبي علیه السلام محسود وګرزیده نوددی په ځای چې دهغه ملاتړوکړي برعکس دنبي علیه السلام سره یې دښمنی شروع کړه اودهغه له حاسدینو څخه وګرزیده قرآن پدی اړه داسي څرګندونه کړي: أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمًا.(۱)
حسد په انساني ټولنه کې یوه ناوړه پدیده ده حسدهغه بدمرغه باطني ناروغي ده چې دجهان داکتران یې له علاجه ناعلاجه پاتي دي حسدهغه بدبخته باطني عمل دی چې بنیادیې په اسمان کې اول له ابلیس علیه اللعنة له لوری ایخودل شوی اوپه ځمکه کې اول دقابل له لوری ایخودل شوی: امام اعظم ابوحنیفه (رح) که په خپل وخت اوزمان کې بیشماره محبین لرل مګرحاسدین یې هم لږ اوکم نه وه اوزماني په خپل غیږ کې دده خلاف یوتعدادکینه ګراوحاسدین هم روزلی وه دامام اعظم ابوحنیفه (رح) سره چې چاحسد لرلو

۱. النساء آیة ۵۴

یایی لري ددغه حسد اصلی لاملونه دوه خبری دی اول داچی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) منتقدین اوحاسدین له خه دانش(پوهی) څخه برخمن دی مگرداچی دوی دعلم دانش په میدان کی خپل نیلی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) له نیلی څخه نشی مخکی کولی نوداکارددی لامل گرزیدلی چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) ددوی محسود وگرزي دویم داچی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) حاسدین له علم دانش څخه عاری اومطلق جاهلان دی نودخپل جهل په اساس یی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره حسدلرلی دی:

لــذاك يحســدنا مــنْ لــيسَ يعرفُنــا
ولــيس ثَــم فــلا عــينٌ ولا حســد

لدي امله موږ سره هغه خوک حسدساتی چی زموږ له شانه ناخبره وی دوی چی په کومه وجه لموږ سره کینه ساتی پدغه کی هیځ کینه کول نشته.(۱)

إصــبرْ عــلى حَسَــدِ الحَسُــودِ
فــإنّ صــبركَ قاتلــه
فالنّــارُ تأكُــلُ بَعضَــها
إنْ لم تجــدْ مــا تأكلــه.(۲)

ته دکینه گروپه کینه صبرکوه څکه ستاصبردوی وژني څکه اورته چی نورخوراک پیدانشی نوبیا په خپل منځ کي يوبل خوري:

مُخــامِرِي حَسَــدِ مــا ضَرّ غَــيرَهُمُ
كأنمــا هــوَ في أبــدانهم مــرضُ(۲)

زما سره په کینه ساتلواخته شوی بل چاته کوم ضررنشی رسولی دا دوی ماسره کینه ساتی داکینه ددوی به بدن کی یومرض دی؟

وإذا سَــلِمتَ ونلــتَ أيــسرَ بُغيــةِ
منهَــا جعلــتَ لــك البريَّــة حُسَّــدَ

کله چی ته مکمل شی اوخپل مقصدته ورسیږي نوته به دخپل خان لپاره ددنیا

---

۱ . دواوین الشعرالعربی علی مرالعصورص۱۹ج۲٦/۵ج۴۴۷/۱۱ج ۱۱

خلک کینه گروگرزی.([1])

تحقـیرکم والأذی مـنکم لهـم حسـد
بـل ذاك بغـض وتقبـیح بکـم ظهـرا

داچي تاسوددوی تحقیرکوی اوضرورسوی داستاسو لخوا دوی سره کینه ساتل دی بلکه داستاسولخوا دوی تقبیح کول اودوی سره بغض دی چی دادواړه ستاسولخوا ظاهرشوي.([2])

(۱) عبدالله بن داودوایي داامام اعظم ابوحنیفه(رح) پسی چی څوک خبری کوی هغه یاخوداامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره دهغه دعلم له وجی کینه ساتی اویاخومطلق جاهل وي داامام اعظم ابوحنیفه(رح) له قدره ناخبره وي.(۱)

(۲) سفیان ثوري(رح) وایی امام ابوحنیفه(رح) سره دخپل علم په وجه کینه کړی شوی.(۱)

(۳) ثابت زاهد وایی دسفیان ثوري (رح) څخه به چی کله دیوی باریکی مسئلی په هکله پوښتنه وشوه سفیان ثوری(رح) به وویل دی مسئلی په ځواب امام اعظم ابوحنیفه(رح) ډیرخه پوهیږی موږ دهغه په علم غبطه کووبیابه سفیان ثوري (رح) داامام اعظم ابوحنیفه(رح) دشاګردان څخه دهغی مسئلی ځواب یادکړنو وروسته له هغی به یی هغه سوال کونکی ته فتوه ورکړه.(۱)

(۴) خادسمتي وایی موږبه په بصره کی دعلم د زدکړی لپاره بتی ته کیناستلو کله چی کوفی ته راغلواوداامام اعظم ابوحنیفه(رح) مجلس کی دعلم زدکړی لپاره کیناستلونوداامام اعظم ابوحنیفه(رح) دعلم په مقابل کی راته دنوروعلم داسی ښکاره شه لکه دبحرپه مقابل کی واړه لختي اوهرڅاچی به امام اعظم ابوحنیفه (رح) نوم یادولو نو ویل به یی موږ داسی عالم چیرته ندی لیدلی ځکه چی دته دعلم دهرفن په تدریسولوکی کوم تکلیف نشته امام ابوحنیفه(رح) سره به خلکودهغه دعلم له وجی کینه ساتله.(۱)

(۵) مسعربن کدام (رح) ویلی په کوفه کی له دوه کسانو سره کینه خلک ساتی

---

[1]. دیوان اسامه بن منقذص۴۹۳ج۱

[2]. دیوان عبدالغنی النابلسی ص۷۵۷ج۱

دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سره دهغه دعلمیت په وجه اوحسن بن صالح سره دهغه دتقوا په وجه.(۱)

(٦) عبدالله بن مبارک (رح) وایي ماحسن بن عماره لیدلی چې دامام ابوحنیفه(رح) سورلی دآس واکی یې نیولی وی اوداسی یې ویل زما دی په الله (ج) قسم وي ای ابوحنیفه(رح) موږپه فقه کی ډیرپوهه اوډیرصابره اوپه خواب ورکولوکی ډیرحاضرخوابه لتاخخه بل څوک ندي لیدلي اوستا خلاف به هیڅوک څه ونه وایي مگرهغه څوک چې لتاسره حسدلري.(۱)

(۷) امام شافعي (رح) وایي یوه ورځ دکوفی دعلماء فقاهت یادونه وشوه نومحمدبن حسن شیباني (رح) داسی وویل:

محســـــدون شر النـــــاس منزلـــــة
من عاش في الناس يوما غير محسود

کینه گرخلک دډیربدعاقبت خاوندان دي اوایا داسی هم څوک شته چې په انساني ټولنه کی دی داسی ورځ تیره کی چې ده سره دی حسدنوی شوی.(۱)

(۸) مکرم وایي دعبدالوهاب بن محمدپه وړاندی یوه ورځ ددی یادونه وشوه چې دامام ابوحنیفه(رح) حاسدین ډیرزیات دي نوعبدالوهاب بن محمدوویل.

رأيـــت رجـــالا يحســـدون مجاهـــدا
وذو اليســـر لا تلقـــاه إلا محســـدا

ماډیرخلک لیدلي چې دمجاهدینو سره حسدلري اوهغه چا باندی چې الله (ج) دپراخی فضل کړی وي دهغوی سره هم خلک حسدکوي.(۱)

(۹) حبان وایي دیحی بن معین په وړاندی به چې چا امام اعظم ابوحنیفه بدوویل نویحی بن معین به وویل:

حســـدوا الفتـــى إذ لم ينـــالوا ســـعيه
فـــالقوم أضـــداد لـــه وخصـــوم

***

---

۱. اخبارابی حنیفة ص٦٥ ج ۱

کــــضرائر الحســــناء قلــــن لوجههـــا
حســــدا وبغيـــا إنــــه لـــدميم(١)

کله چې يوځوک دچاسره لوړودرجوحاصلولوکی مقابله ونکړی شی نوطبعا بيا دغه خلک دهغه ضداودښمنان جوړشي.

(١٠) عبدالله بن محمدهمدانی وايی يوسړی ابن شبرمه ته په يوه موضوع کی دعوه وړاندی کړی وه اوله هغه څخه يی دهغـی حـل غوښتلی وه ابـن شـبرمه دهغه سړی په ضررخپله فيصله وکړه هغه سړی دابن شبرمه دغه فيصله امام اعظم ابوحنيفه(رح) ته وړاندی کړه امام اعظم ابوحنيفه (رح) وويل ابن شـبرمه پـدی فيصله کی خطا شوی اوبيا امام ابوحنيفه(رح) هغه سړی لپاره دهغی مسئلی حل په يوکاغذ کی وليکه اوهغه سړی ته يی وويل چی ابن شبرمه لپاره پکارداوه چی فيصله يی داسی کړی وی هغه سړی دامام اعظم ابوحنيفه (رح) هغه ليکلی خط ابن شبرمه ته راوړچی ابن ابی ليلی هـم موجـودوه کلـه چـی هغـوی دافيصـله وليده نوډيره زياته يی خوخه شوه بيا يی لدغه سړی څخه پوښتنه وکړه دافيصله درته چاليکلی؟هغه سړی ورته وويل امام ابوحنيفـه(رح) ابـن شـبرمه اوابـن ابـی ليلی چی کله دامام ابوحنيفه (رح) نوم واريده نوسمدست يی دهغـه پـه غيبـت شروع وکړه داخبره امام ابوحنيفه(رح) ته ورسـيده امـام ابوحنيفـه(رح) داسـی وويل:

إن يحســـدوني فـــإني غـــير لانمهـــم
قبلي من الناس أهل الفضل قـد حسـدوا
فـــدام بي وبهـــم مـــا بي ومـــا بهـــم
ومـــات أكثرنـــا غيظـــا بمـــا يجـــد).(١)

(١١) معلی بن منصوروايی امام محمد(رح) چی به کلـه خبرشـه چـی فلانـی پـه امام ابوحنيفه پسی خبری کوی نوامام محمد(رح) به داشعرو لوستلو:

محســــــدون شر النـــــاس منزلـــــة
من عاش في الناس يوما غير محسود.(١)

١. اخبارابی حنيفة ص٦٥/٦٦ج١

غرض داچې امام اعظم ابوحنیفه (رح) په خپل وخت کې په علمی لحاظ له هرچا ښخه میدان ګټلی وه نوطبعایی حاسدین اودښمنان هم لرل خوعبدالله ابن مبارک (رح) بیا دامام اعظم ابوحنیفه(رح) حاسدین بیوقوفه ګڼلي امام ابوحنیفه(رح) دمخالفینودلائل یی پدی هکله ضعیف اوبی بنیاده ښودلي اوامام اعظم ابوحنیفه(رح) یی دفقه اواحادیثو په علوموکی دیوبیمثاله شخصیت په توګه منلی عبدالله بن مبارک (رح) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) شخصیت په خپلواشعاروکی دنیاوالو ته داسی معرفی کړی:

لقــــد زان الــــبلاد ومـــــن علیهـــا
أمــــام المســـلمین أبـــــو حنیفـــة
بآثـــــار وفقـــــه في حـــــديث
آیـــات الزبـــور عـــلی الصـــحیفة
فـــما في المـــشرقین لـــه نظـــیر
ولا بـــــالمغربین ولا بکوفـــــة
رأیـــت العـــایبین لـــه ســـفاها
خـــلاف الحـــق مـع حجـــج ضـعیفة.(۱)

(۱۲) حفص بن غیاث وایی په فقه کی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) خبری دوینته ښخه هم باریکی دی پده چی څوک عیب لګوي هغه جاهل دی.(۲)

# (۲۳) امام اعظم ابوحنيفه(رح) به ډيرپاک لباس اغستلو اوعطروخوشبويي به يي خوخه وله

هرانسان طبعاخه لباس نظافت اوخوشبوى خوخوي مگرداچي علماء دانبياءوارثان دي اوعام خلک ددوى دکړو وړو پيروي کوي دوى بايد دتل لپاره په انساني جامعه کي باتهذيبه اوسي اوصورةًاوسيرتاًبايدنظيف اومعطروى شريعت پدى ډيرتاکيدکړى چي هرانسان بايد صورةً خپل نظافت مراعات کړي.(۱)

سورة مدثر چي دقرآن داوائلوسورتونوڅخه دى پدغه سورة کي نبي عليه السلام ته دلباس په نظافت امرشوى:

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (۱) قُمْ فَأَنْذِرْ (۲) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (۳) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (۴)

له همدى امله شريعت سپين لباس دانسان لپاره غوره گڼلي ځکه سپين لباس دنظافت له لحاظه خه بريښي: عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (عليكم بالبياض من الثياب ليلبسها أحياؤكم وكفنوا فيها موتاكم فإنها من خير ثيابكم.(۲)

عن سمرة بن جندب قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (البسوا البياض فإنها أطهر وأطيب وكفنوا فيها موتاكم.(۳)

خوشبويي لګول هم شرعايومستحب امردى اونبي عليه السلام به خپله خه خوشبويي استعمالوله: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا.(٤)

---

۱. الفهرست لابن نديم ص۲۸۴ج ۱

۲. سيراعلام النبلاء ص۳۹۰

۳. مختصرالشمائل المحمدية ص۴۹ج اللامام الترمذى

٤. السنن الكبرى للبيهقى الرقم۴۱٦۴

عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: إِنَّ مِنَ الْحَقِّ عَلَى الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، السِّوَاكَ، وَأَنْ يَلْبَسَ مِنْ صَالِحِ ثِيَابِهِ، وَأَنْ يَتَطَيَّبَ بِطِيبٍ إِنْ كَانَ: (۵) وړاندی ذکرشوچی امام اعظم ابوحنیفه(رح) به دتهجدولمانخه لپاره هغه جوړه اغوستله چی قیمت یی (۱۵۰۰) درهمه وه اوکله چی به یی تهجداداکول نوبهترینه خوشبویی به یی ولګوله.

(۱) نضربن محمدوایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) دډیرښائسته مخ څیښتن وه او دشریفوخلکودلباس پشان لباس به یی اغوستلواودعطروخوشبویی به تری تلله.(۱)

(۲) امام ابویوسف(رح) وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) درمیانه قد لرلو د ډیر خائسته صورت څیښتن وه کله به یی چی خبری کولی په خبروکی به یی ډیر تاثیر وه خبری به یی ډیری خوږی وی دده په زړه کی به چی کومه خبره وه هغه به یی په ډیرخه اندازسره بیانوله.(۲)

(۳) دامام ابوحنیفه(رح) زوی حماد(رح) وایی څما پلارډیرخائسته وه غنم رنګه رنګ یی لرلوډیرخائسته هیئت یی لرلوعطربه یی ډیراستعمالول ډیرهیبتی وه خبری به یی نه کولی مګرکله به چی تری چاتپوس وکړنوځواب ورکلو په وخت کی به یی خبری کولی اوپه بی مقصده خبرواوکارونوکی به یی حصه نه اخستله.(۲)

(۴) عبدالله بن مبارک (رح) وایی ماهیڅ یومجلس کی دامام ابوحنیفه (رح) پشان دوقاراوحلم څیښتن بل څوک ندی لیدلی.(۲)

(۵) مثنی بن رجاء وایی امام اعظم ابوحنیفه(رح) به چی په خپلواولادونوځومره خرچه کوله دهغی په اندازه به یی په غریبانو هم صدقه کوله.(۲)

# (۲۴) امام اعظم ابوحنيفه(رح) ته دهغه دحاسد ينو له لوري دسيسي جوړيدل اودهغي شنډيدل

ابن ابي ليلى هم دهغه حاسدينو په لړې کې راځي چاچې دامام اعظم ابوحنيفه سره حسدلرلوابن أبي ليلى دده خپل نوم محمداودعبدالرحمن زوى وه په ابن ابى ليلى سره يې شهرت لرلو ابوعبدالرحمن انصاري كوفي يې اسم كنيه وه څه دپاسه اويايمه هجري کې تولدشوى وه اوپه كوفه کې دېروخت مفتي اوقاضي وه په فقهي مسائلوکې به يې دامام اعظم ابوحنيفه (رح) سره سيالي كوله.(۱)

داچې ده په علمي لحاظ دامام ابوحنيفه(رح) څخه ميدان نشوګټلى نودهغه سره به يې عداوت ساتلو. علماء ابن ابى ليلى ډېرضعيف راوي ګڼلى دحافظې له نګاه ډېركمزورى وه اوډيرزيات به خطاکيده.(۲)

دى چې كله په كوفه كې قاضي شه نودامام اعظم ابوحنيفه(رح) مخالفينوسره يې لاس يوكړ اوكوښښ يې كولوچې امام اعظم ابوحنيفه(رح) ته دسيسه جوړه كړي اوهغه په خلكوكې منفوركړي.(۳)

يووخت دابن ابى ليلى په شمول دامام ابوحنيفه (رح) مخالفينوغونډه وكړه اويوى زنانه ته يې څه مراعات وركړاوهغه يې ديته وه هڅوله چې په يوه طريقه امام ابوحنيفه (رح) بدنام كړي يووخت امام اعظم ابوحنيفه (رح) سحردوخته دسحرلمانځه لپاره مسجدته روان وه څه ګوري چې يوه ښځه په لاركې ولاړه ده امام ابوحنيفه (رح) ته يې وويل اى ابوحنيفه(رح) څماسره امدادوكړه څما خاوندپه دغه كوركې دزنكدن په حالت كې دى ته مهرباني وكړه لماسره لاړشه

۱. مصنف ابن ابى شيبة الرقم ۵۵۸۵

۲. سيراعلام النبلاء ص۳۹۰الى ۴۰۴ج٦

۳. سيراعلام النبلاء ص۳۱۰ج٦ص۳۱۱ج٦

اوهغه ته دشهادت کلمه تلقین کړه اوزه تاته قسم درکوم چې ته حتمي لماسره لاړشه اوزما میړه ته دتوبې کولواو وصیت کولوتلقین وکړه امام ابوحنیفه(رح) ددغه زنانه عرض واوریده او ورسره لاړ کله چې امام ابوحنیفه ددغې زنانه کورته داخل شه څه ګوري چې هلته یوه ډله دخلکوناسته ده اوهیڅ مریض وجودنلري دغه خلک راپاخیده اوامام اعظم ابوحنیفه(رح) یې ونیولواو ورته وویل ای ابوحنیفه (رح) دابنځه یوزناکاره ښځه ده اودلته خودی ښځې ته زناکاراوبدکاره خلک رازي امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل ماته خودامعلومات نشه دی ښځې خوماته داسې وویل دغه بدعمله خلکوامام ابوحنیفه(رح) وه نیولواوابن ابی لیلی ته یې بوتللو دغه خلک اوهغه زنانه هم ورسره وه اوهغې زنانه ته یې ویل کله چې لتاڅخه قاضي پوښتنه وکړه نوته ورته داسې داسې ووایې یعنې امام ابوحنیفه(رح) به بدنام کړې کله چې دوی ابن ابی لیلی ته وړاندې شوابن ابی لیلی ورته وویل داخبره سحر ته پریږدی سحربه پدې خبره غورکووکله چې خلک راغونډشي ابن ابی لیلی هیڅ هغه ښځه ونه لیدله اونه یې ورسره خبرې وکړې ابن ابی لیلی امام ابوحنیفه(رح) اوهغه ښځه دواړه حبس کړه اوامام ابوحنیفه (رح) ته یې دتوبیخ نه ډکې خبرې وکړې امام ابوحنیفه (رح) هغه ته هیڅ ونه ویل اوپاخیده اولمونځ یې شروع کړاو الله (ج) ته سوال وکړالله (ج) دهغې ښځې په زړه کې په خپل عمل پښیمانتیا وغورزوله اوامام ابوحنیفه(رح) ته یې وویل ماته دابن ابی لیلی ملګروڅه مراعات راکړې وه اوماته یې وویل چې ته په امام ابوحنیفه(رح) داسې داسې تهمت ولګوه اوس زه پدې کارډیره پښیمانه یم امام ابوحنیفه(رح) هغې ښځې ته وویل الله (ج) ته لدې بدعمله توبه وباسه بیا هغې ښځې امام ابوحنیفه (رح) ته وویل اياته په کومه طریقه مالدی خایه ایستلی شې؟ امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل وو بیا امام ابوحنیفه(رح) خپلې بی بی دحمادمورته څواب ولیږه چې دلته راشه هغه راغله امام ابوحنیفه (رح) خپلې میرمنې ته وویل ته خپلې جامې دغه ښځې ته ورکړه چې هغه یې واغوندي اودهغې جامې ته واغونده هغې ښځې دامام ابوحنیفه(رح) د میرمنې جامې واغوستلې اوبهرته لاړه دبهره داردا‌ګمان شه چې داهغه ښځه ده کومه چې اوس دبهرڅخه داخل شوې وه کله چې ابن ابی لیلی

خپل دقضا دفترته راغی چی په ګڼ تعدادخلک یی هم حاضرکړی وه امریی وکړچی امام ابوحنیفه(رح) اوهغه ښځه حاضرکړی. امام ابوحنیفه (رح) اودده میرمن دواړه دابن ابی لیلی دفترته حاضرکړیشوابن ابی لیلی امام ابوحنیفه(رح) ته وویل ستا دومره علم ته وګوره اودی کارته دی وګوره امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل داسی کوم بدکارخوماندی کړی ابن ابی لیلی ورته وویل چی تابدکارندی کړی نودازنانه ولاړه ده داخوک ده امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل دی زنانه څخه خپله پوښتنه وکړه چی داخوک ده ابن ابی لیلی دامام ابوحنیفه(رح) میرمن ته وویل داسړی څوک دی دامام ابوحنیفه(رح) میرمن وویل دازماخیښتن دی ابن ابی لیلی پدی خبره غوصه شه او وی ویل داخلک خوستا په هکله بل څه وایی دامام ابوحنیفه(رح) میرمن ورته وویل زه نوره دهیڅ نه خبرنه یم زه دومره معلومات لرم چی دازما زوج(خاوند) دی زما دزوی حمادپلاردی بیا ابن ابی لیلی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) میرمن ته وویل ستا سره پدی څه دلیل دی چی ته دامام ابوحنیفه(رح) میرمن یی هغی زنانه ورته وویل زما ورونه به داګواهی وکړي په دغه وخت کی دده ورونه هم حاضروه ابن ابی لیلی له هنوڅخه پوښتنه وکړه چی دازنانه څوک ده هنوی ورته وویل دازموخورده اوددی امام ابوحنیه(رح) میرمن ده ابن ابی لیلی ته چی څرګنده شوه چی دایقینی دامام ابوحنیفه(رح) میرمن ده نوسمدست یی امام ابوحنیفه(رح) ته عذروړاندی کړاوعفوه یی تری وغوښتله اوامام ابوحنیفه(رح) یی راپاڅولواوخپل څنګ ته یی کینلواونرمی نرمی خبری ورته شروع کړی اودابه یی ورته ویل امام ابوحنیفه(رح) ته دڅیرلوی شان خیښتن یی زه په خپل ګمان کی خطاشوی یم.(۱)

# (۲۵) امام ابویوسف(رح) به دځان لپاره دامام ابوحنیفه (رح) په عقیده ا فتخارکولو

امام ابی یوسف (رح) چی دامام ابوحنیفه(رح) دممتازوشاگردانو څخه دی اودحنفی مذهب په خپرولوکی یی بی ساری نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړي اودخلیفه هارون الرشید به دورکی دهارون الرشید لخوا قاضی القضات ټاکل شوی وه کله امام ابویوسف په ۱۸۲هجری قمری کی وفات شه دده به ځای دده زوی محمدبن ابی یوسف قاضی وټاکل شه اوکله چی دی وفات شه دقضا په منصب دده جانشین محمدبن سماعه وټاکل شه امام ابی یوسف (رح) خپل استاد امام ابوحنیفه(رح) ته ډیرزیات معتقد وه چی دده اخلاص خپل استاداوشیخ ته دده لدی اشعارو څخه لکه دلمرروښانه څرگندیږي:

حسبی من الخیرات ما اعددته
یوم القیامة في رضي الرحمن
دین النبي محمدخیرالوزی
ثم اعتقادي مذهب النعمان(۱)

کافی دی زمالپاره هغه څه چی مادنیکوکارونوڅخه تیارکړی دالله (ج) درضالپاره ورځی دقیامت کی چی هغه دنبي علیه السلام دین دی اوبیا زما عقیده اواتباع ده دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په مذهب (۲)

---

۱ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفه للموفق بن احمدمکي ص۱۷/۱۸/۱۹ج۲
۲ . تبییض الصحیفة فی مناقب الامام ابی حنیفة ص۱۷

# (۲٦) امام شافعي (رح) د بعضی مشکلاتو دحل لپاره الله (ج) ته په امام اعظم ابوحنیفه(رح) وسیله نیوله

امام شافعي (رح) خپله یوجلیل القدره محدث اوفقیه عالم وه چی بالواسطه دامام اعظم ابوحنیفه(رح) له شاګردان څخه شمیرل کیږي امام شافعي (رح) دری ځله عراق ته سفرکړی اول ځل ۱۸۲هجری دخپل عمرپه ۳۰کلنی کی چی پدغه سفرکی امام اشافعی (رح) ته دامام محمد(رح) داستادی شرافت هم حاصل شه.(۲)

دویم سفردامام شافعي عراق ته په ۱۹۵هجری کی وه چی پدی سفرکی امام احمدبن حنبل (رح) ته دامام شافعي (رح) داستادی شرافت حاصل شه.(۲)

دریم سفردامام شافعي (رح) عراق ته په ۱۹۸هجری کی ترسره شوی دی سفرڅخه روسته مصرته لاړ اوهلته یی (کتاب الام) ولیکه چی دده کتاب الام دربیع بن سلیمان مصری په روایت روایت شوي اوهلته په مصرکی ۲۰۴هجری کی وفات اودفن دی.(۱)

دامام شافعي (رح) قبرپه قاهره کی مشهورقبردی اوډیرخلک یی مزارته ورځی چی زه هم ۱۳۹۱دمیزان په میاشت کی دده دقبرپه زیارت مشرف شوی یم امام شافعي (رح) دقبرښي دیوال باندی دامام شافعي (رح) سوانح اودده داستادانونومونه لیکل شوی الله (ج) دی دده دزیارت دملاقات توفیق هرمسلمان ته ورنصیب کړي امین.

عن علي بن ميمون قال سمعت الشافعي يقول اني لأتبرك بأبي حنيفة وأجيء إلى قبره في كل يوم يعني زائرا فإذا عرضت لي حاجة صليت ركعتين وجئت إلى

---

۱. البداية والنهاية ص۲۷۵ج۱۰

قبره وسألت الله تعالى الحاجة عنده فما تبعد عني حتى تقضى.(۱)
علي بن میمون وایی مادامام شافعي(رح) څخه اوریدلی هغه ویل چی زه تبرک حاصلوم په امام ابوحنیفه (رح) سره کله چی زما ضرورت پیداشي نودوه رکعته لمونځ وکړم اودده قبرته راشم اود ده دقبرپه خوا کی الله (ج) ته سوال وکړم زه لالری وتی نه یم چی الله(ج) خما ضرورت پوره کړي شیخ الاسلام علامه شمس الدین محمدیوسف صالحی دمشقی شافعی هم داذکرکړی چی امام شافعی (رح) به دخپلومشکلاتودحل کولولپاره په امام اعظم ابوحنیفه (رح) سره توسل نیولوعلامه شمس الدین محمدیوسف پدی اړه داسی ویلي: لم تزل العلماء وذوالحاجات یزورون قبرالامام ابی حنیفة(رح) ویتوسلون الی الله تعالی عنده فی قضاء حوائجهم یرون نجح ذالک منهم الشافعی (رح) لما کان ببغداد.(۱)
صاحب دعقودالجمان داهم ذکرکړي چی امام شافعي (رح) کله عراق ته لاړ هلته یی دامام ابوحنیفه (رح) دقبرپه خوا کی دسحرلمونځ وکړنودسحرپه لمانځه کی یی قنوت نازله ونه لوستل اونه یی په جهربسم الله وویله نوچاتری پوښتنه وکړه تاولی دسحرپه لمانځه کی قنوت نازله پریخودل اوبسم الله دی هم په جهره ونه ویله امام شافعي (رح) ورته وویل ددی قبردخاونداحترام له وجی (۱) څکه امام ابوحنیفه (رح) ددی قائل ندی عبدالله بن مبارک (رح) بغدادته لاړ نوخلکوته وویل ماته دامام ابوحنیفه(رح) قبر راوه خایی خلکودته دامام ابوحنیفه(رح) قبرور وخودلوعبدالله بن مبارک (رح) دهغه قبرته لاړ اودقبرپه خواکی وه دریده اووی ویل الله (ج) دی پتا رحم وکړي ای ابوحنیفه(رح) ابراهیم نخعی (رح) وفات شه دخپل ځان څخه وروسته یی جانشین پریخوده حمادبن ابی سلیمان وفات شه هغه هم خپل جانشین ځان څخه وروسته پریخوده اوته وفات شوی تاخپل ځان څخه وروسته جانشین پری نه خود بیا عبدالله بن مبارک (رح) ډیرزیات وه ژړل.(۲)

۱ . تاریخ بغدادص۱۲۳ج ۱مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص ۱۹۹ج۲للموفق احمدالمکی اخبارابی حنیفة ص۹۵للصیمري
۲ . عقود الجمان فی مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة النعمان ص۲۸۷/۲۸۸

شمس الدین محمدیوسف صاحب دعقودالجمان سره لدی چی شافعی مذهبه دی مگرداچی لمرپه دوه گوتونه پټېږی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دسوانحوپه هکله مستقل کتاب لیکلی بلکه دامام اعظم ابوحنیفه دفضائلوپه هکله چی کوم کتابونه لیکل شوي اکثرددغه کتابونولیکونکي شافعي مذهبه دي نولدی څخه داځرګندیږي چی امام ابوحنیفه (رح) داصحابوله دورڅخه وروسته یکتا ملغلره وه چی مثل یی نه درلوده خپل خوبه دی هروخت صفتونه کوي کامل انسان هغه دی چی مخالف یی وه مني اوصفت یی وکړي.

# (۲۷) دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دعِلم سلسله

موږ دفقه حنفي سندپه خپل کتاب (مخزن الدلائل فی توضیح المسائل) کی ذکرکړی یوتعدادورونه دافکرکوی اووایی چی دحنفی فقه مسائل کوم اصل اوبنیادنلري داخبری ددغه ورونوتش خیالات دی اوبی مفهومه پوچ تبلیغات دي خلف بن ایوب وایی ددین علم دالله (ج) دطرف نه نبي علیه السلام ته انتقال شوی اودنبي علیه السلام څخه دهغه اصحابوته نقل شوی اوداصحابوڅخه تابعینوته اودتابعینوڅخه امام ابوحنیفه(رح) ته اودامام ابوحنیفه(رح) څخه دده شاګردانوته نودچاچی خوخه وی راضی دی شي اودچاچی خوخه وی غوصه دی شي: یعنی که څوک پدی تقسیم دالله (ج) خوشحاله وي اوکه خپه وي دده خفګان اوخوشحالتیادالله (ج) پدی تقسیم کی تغیراوتبدیل نشی راوستلی خطیب بغدادي داروایت سندا داسی روایت کړی: أخبرنا الحسن بن أبي بكر أخبرنا القاضي أبو نصر احمد بن نصر بن محمد بن أشكاب البخاري قال سمعت محمد بن خلف بن رجاء يقول سمعت محمد بن سلمة يقول قال خلف بن أيوب صار العلم من الله عز و جل إلى محمد صلى الله عليه و سلم ثم صار إلى أصحابه ثم صار إلى التابعين ثم صار إلى أبي حنيفة وأصحابه فمن شاء فليرض ومن شاء فليسخط.(۱)

حسن بن سلیمان دنبي علیه السلام دی ارشاد(لا تقوم الساعة حتى يظهر العلم) په تفسیرکی لیکلي چی مرا دعلم له ظهورڅخه دامام ابوحنیفه (رح) دعلم ظهوردی خطیب بغدادی نوموړی روایت سنداداسی روایت کړی: أخبرنا الخلال أخبرنا الحريري أن النخعي حدثهم أخبرنا سليمان بن الربيع الخزاز حدثنا محمد بن حفص عن الحسن بن سليمان أنه قال في تفسير الحديث لا تقوم الساعة حتى يظهر العلم قال هو علم أبي حنيفة وتفسيره.(۱)

عبدالله بن مبارک (رح) ویلی امام ابوحنیفه (رح) په نیکوکارونوکی یوه نمونه وه.(۱)

روح بن عباده وایی زه دابن جریج سره ناست وم چی دامام ابوحنیفه(رح) دوفات خبرراغی ابن جریج (اناالله وانا الیه راجعون) وویل اودامام ابوحنیفه(رح) به مړینه سخت دردمندشه اوبیا یی وویل افسوس چی ډیرلوی علم له دنیا څخه لاړ.([1])

عن بشر بن یحیی قلت لابن المبارك ادخلت علم أبي حنيفة وسفيان في الكتب ولم تدخل رأي مالك والأوزاعي قال لأني لم أعدهما علما(۱) بشربن یحی وایی ما دعبدالله بن مبارک (رح) څخه پوښتنه وکړه تا په خپلو کتابونوکی علم دامام ابوحنیف(رح) اوسفیان ثوري(رح) داخل کړی اودامام مالک (رح) اواوزاعي (رح) علم ته دی په خپلوکتابون کی ځای ندی ورکړی عبدالله بن مبارک (رح) ورته وویل ما دامام ابوحنیفه(رح) اوسفیان ثوري(رح) دعلم په مقابل کی ددی دواړوعلم ته کوم اعتبارندی ورکړی.

[1]. تاریخ بغدادص۳۳٦ج۱۳/۳۳۷ج۱۳

# (۲۸) دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دمذهب امتیاز په نو رو مذهبونو

دانسان فطري طبعیت دادی چی انسان دتل لپاره په خپل ژوندانه کی خان لپاره هنه څه غوره کوي چی دده دنیاوي فائده پکی نغښتل شوي وي اودهغه څه څخه ډډه کوی چی دته تاوان رسوي مګردادهرانسان پودیني وجیبه ده چی دی دمرګ څخه وروسته هم داسی څه دخان لپاره انتخاب کړی چی دده په ګټه تمامېږي دیومعین مذهب پیروي کول بل څه ندی مګرخپل روزمره ژونددشرعی اصولوسره سم په یومعین چوکاټ له برابرولوڅخه عبارت دی .
دامام اعظم ابوحنیفه (رح) مذهب داسی کوم مذهب ندی چی مسائل یی ګنی په پټوسترګوتدوین شوی بلکه دفقه حنفی مسائل دقرآن اوسنتوڅخه مستنبط شوي اوشرقاوغربایی اتباع شوی: ابومطیع وایی امام ابوحنیفه(رح) وایی یووخت زه دامیرالمؤمنین ابوجعفرخواته لاړم ابوجعفرمنصورلماڅخه پوښتنه وکړه ای ابوحنیفه تاداعلم لچاڅخه حاصل کړی؟ امام ابوحنیفه(رح) ورته وویل ماداعلم دحمادبن ابی سلیمان څخه هغه دابراهیم نخعي څخه اوهغه دعمر(رض) له ملګرواوعلی(رض) له ملګرواوعبدالله بن مسعود (رض) له ملګرواوعبدالله بن عباس (رض) له ملګروحاصل کړی ابوجعفرمنصورورته وویل بس بس ای ابوحنیفه تاخپل علم ډیرمحکم کړی ای ابوحنیفه تاچی کوم اشخاص ذکرکړه داډیرپاک اومبارک.([1])
اشخاص وه پدوي ټولو دی دالله(ج) رحمت وي.([2])
رازواصل موضوع ته چی مذهبونه خوپه دنیا کی ډیردي چی داځلورمذهبونه پکی حددشهرت ته رسیدلي اوداهلسنت والجماعة عقیده داده چي دځلورو

---

۱ . طبقات الحنفية ص۲۰۵ج۱
۲ . اخبارابي حنيفة ص٦٨

مذهبونوداستنباط شوو مسائلوماخذ قرآن، سنت، اجماع ده نوبیا دامام اعظم ابوحنیفه (رح) مذهب په نورومذهبونوکومه برتري لري؟وو داخبره یقیني ده چي خلورواړه مذ هبونو مسائل له کتاب الله، سنت رسو ل الله، اود اجماع څخه مستنبط شوي مگرډیرداسی وجوهات شته چی دامام اعظم ابوحنیفه (رح) دمذهب په برتری دلالت کوي چي یوتعداديي له هغه جملی څخه دادي.

لمړی وجه: دایقیني ده چي یو تعداد اصحا ب ژوندي وه چي امام ابوحنیفه (رح) تولدشه اویوتعداد اصحاب یي لیدلي هم دي نوپدي اعتبارسره امام ابوحنیفه (رح) تابعي دي اوتابعین هغه بلند رتبه اشخاص دي چي په صریحي نصوصو یي فضیلت اوبهتروالی ثابت شوی قرآن پدی اړه داسی ارشادفرمایلی:

وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ.(١)

وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ () أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ.(٢)

عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الأَسْقَعِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: لاَ تَزَالُونَ بِخَيْرٍ مَا دَامَ فِيكُمْ مَنْ رَآنِي وَصَاحَبَنِي ,وَاللهِ لاَ تَزَالُونَ بِخَيْرٍ ,مَا دَامَ فِيكُمْ مَنْ رَأَى مَنْ رَآنِي ,وَصَاحَبَ مَنْ صَاحَبَنِي ,وَاللهِ لاَ تَزَالُونَ بِخَيْرٍ ,مَا دَامَ فِيكُمْ مَنْ رَأَى مَنْ رَأَى مَنْ رَآنِي ,وَصَاحَبَ مَنْ صَاحَبَ مَنْ صَاحَبَنِي.(٣)

د نوموړو الهي ارشاداتوڅخه لکه دلمروښانه څرگندیږي چي له تابعینوالله (ج) راضي دي اوددوي نیک اعمال الله (ج) ته قبول اوداعتباروړوه علاوه لدي امام ابوحنیفه(رح) پداسی زمانه کی تولدشوی چي داسلام سترلارخود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په مبارکه ژبه ورته دخیرالقرون لقب ورکړشوی نبي علیه السلام داصحابوزمانه اوتابعینوزمانه اوتبع تابعینو دوردخیروالقرون په دورسره یادکړي نبي علیه السلام پدی اړه داسی ارشاد فرمایلی: عَنْ عَبْدِ اللهِ

١. التوبه آية ١٠٠

٢. الواقعه آية ١٠_١١

رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ قَالَ خَيرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَجِيءُ أَقْوَامٌ تَسبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ قَالَ إِبرَاهِيمُ وَكَانُوا يَضرِبُونَنَا عَلَى الشَّهَادَةِ وَالْعَهدِ.(۱)

نبي علیه السلام فرمایي غوره زمانه زما زمانه ده اوبیا دتابعینو زمانه ده اوبیا دتبع تابعینو زمانه بیا به داسی وخت راشي چی شهادت(گواهي) به یی دقسم خخه وړاندی کېږي: نوموړي روایت امام بخاري(رح) په روایت دعمران بن حصین (رض) په لفظ (خَيرُ أُمَّتِي قَرْنِي).(۳) او په لفظ د(خَيرُكُمْ قَرْنِي).(۲)

سره هم روایت کړی معنا ددري واره روایتونویوه ده نوداچي امام ابو حنیفه(رح) دذکرشووالهي اونبوي ارشاداتوپه عمومیت کي داخل شخص دي له نوموړي الهي او نبوي فضیلت او بهترۍ خخه برخورداره دي نو پدي لحاظ امام ابوحنیفه(رح) نسبت نوروامامانوته په اتباع کي وړاندي دی نو دا چی دامام ابوحنیفه (رح) مذهب دنوروامامانودمذهبونوپه پرتله افضل دي ابوالمؤید دافضیلت په خپل شعرکی داسی رانغښتلی:

غدامذهب النعمان خیرالمذاهب
کذالقمرالوضاح خیرالکواکب
تفقه في خیرالقرون مع التقی
ومذهبه لاشک خیرالمذاهب

دامام ابوحنیفه مذهب یوغوره مذهب گرزیدلی. لکه په ستوروکی چی پړقیدونکی سپوږمۍ بهتره ده . امام ابوحنیفه(رح) په خیرالقرون کی دتقوا سره فقه ترلاسه کړی وه .

اودکی هیڅ شک نشه چي دده مذهب غوره له نورومذهبوخخه دی:(۳)

دویمه وجه: امام ابوحنیفه(رح) شخصا پخپله اصحاب لیدلي اونبي علیه السلام فرمایلي خوشحالي دی وي هغه چالپاره چی زه یي لیدلی یم اویازما صحابه یي

۱ . مصنف ابن ابي شیبة رقم الحدیث ۳۳۰۸٤
۲ . صحیح البخاری رقم الحدیث ۲٦٥۲/۳٦٥۰/٦٤۲۸
۳ . عقودالجمان في مناقب الامام ابي حنیفة النعمان ص ۱٤۷

ليدلي وي نبي عليه السلام پدی ارتباط داسی ارشادفرمايلی: عن علقمة بن وائل عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم: طوبى لمن رآني ومن رأى من رآني ثلاثا(۱) عن عبد الرحمن بن عقبة عن أبيه عقبة و كان أصابه سهم مع النبي صلى الله عليه و سلم قال: سمعت النبي صلى الله عليه و سلم يقول: (لا يدخل النار مسلم رآني و لا رأى من رآني و لا رأى من رأى رآني) ثلاثا.(۱)

علامه شيخ الاسلام شمس الدين محمديوسف صالحي دمشقي دامام ابوحنيفه(رح) دمذهب دغوره والي دويمه وجه همداخودلی.(۲)

که دانصاف په نظرنوموړودوه روايتونوته ګوړ په دقت سره وه ګورونودابه راته ژونه شي چې امام اعظم ابوحنيفه(رح) دنوموړونبوي ارشاداتوپه تقاضاجنتي دی څکه په نوموړي ارشادکي نبي عليه السلام صراحتاً فرمايلي چې ددوزخ اوربه هغه چاته ونه رسيږي چې زه يي ليدلی يم (يعني صحابي) اوهغه چاته به هم اورددوزخ ونه رسيږي چې زما صحابي يي ليدلی وي: پدي مقام کی داخبره يقيني ده چې پدي ارشاد کی تبع تابعين هم داخل دي اوامام مالک (رح) اوامام شافعي (رح) اوامام احمدبن حنبل (رح) هم تبع تابعين وو . دلته بايددومره وويل شي چې امام ابوحنيفه (رح) تابعي وه نوځکه دهغه مذهب دتبع تابعينوپه مذهب امتيازلري.

دريمه وجه: دامام اعظم ابوحنيفه(رح) په دورکی بيشماره جليل القدره تابعين موجودوه مګربياهم دوی په ډيرومسائلوکی دامام اعظم ابوحنيفه(رح) څخه فتوه غوښتله اودهغی په فتوه به يی عمل کولونودادی ښکارندويه دی چې دتابعينوپه دورکی ډيروتابعينودده مذهب خپل معمول ګرزولی وه علی بن مسهر وايی امام اعمش(رح) دحج په اراده لاړ چې پدی سفرکی ورسره دکوفی يوتعدادنورخلک هم همسفره وه کله چې دوی قادسی مقام ته ورسيده دسفرملګرواوامام اعمش لږخپه محسوس کړدوی تری پوښتنه وکړه نوامام اعمش(رح) ورته وويل ايا علی بن مسهرزموږسره پدی ډله کی ملګری دی اوکه نه؟ دوی ورته وويل وملګری دی امام اعمش (رح) ورته وويل ماته علی بن

۱ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۷۸۸۰/۱٤٦٧۰

مسهرراولی کله چی علی بن مسهرراغی نوامام اعمش ورته وویل بیرته کوفی ته لاړشه اودامام اعظم ابوحنیفه(رح) څخه زموږدپاره دحج داحکاموپوښتنه وکړه علی بن مسهروایی زه واپس لاړم اودامام ابوحنیفه(رح) څخه می دحج داحکاموپه هکله پوښتنه وکړه اوهغه ماته دحج احکام تحریری ولیکل اوامام اعمش(رح) ته می وسپارل (۲) علامه شمس الدین محمدبن یوسف صالحی دمشقي شافعي په خپل کتاب عقودالجمان کی لیکي چی لدی داثابته شوه چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) دتابعینوپه دورکی هم په فتوه ورکولوکی ډیروړاندی وه اودتابعینولخواهم دده ډیراحترام کیده.(۱)

حبان بن موسی وایی عبدالله بن مبارک(رح) یوه ورځ خپلوشاگردانوته داحادیثودرس ورکولودیوحدیث په سندکی عبدالله بن مبارک (رح) داسی وویل ماته حدیث بیانکړی نعمان بن ثابت بعضوشاگردانوتری پوښتنه وکړه نعمان بن ثابت څخه مرادابوعبدالرحمن دی عبدالله بن مبارک (رح) ورته وویل نه ابوحنیفه(رح) می مراددی هغه ابوحنیفه(رح) چی دعلم مغزدی دعبدالله بن مبارک (رح) یوتعدادشاگردانوچی داخبره واریده له لیکلویی ډډه وکړه عبدالله بن مبارک (رح) لږچُپ شه اوبیا یی شاگردانوته وویل ای خلکوتاسو څومره بی ادبه یاست اودامامانوله حالت څخه څومره بی خبره پاتی یاست اوستاسومعرفت اومعلومات دعلم اودعلم دخاوندانوپه هکله څومره ډیرکم دی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) څخه بل څوک ډیرحقداردااقتداندی چی اقتداورپسی وشي څکه امام اعظم ابوحنیفه(رح) یوداسی امام دی چی متقی دی پاک دی پرهیزگاره دی فقیه عالم دی ده داسی علم راظاهرکړي چی بل چاندی راظاهرکړي هغه چاچی علم دامام ابوحنیفه(رح) دطریقی څخه په بله طریقه طلب کړدغه شخص گمراه شه.(۲)

محمدبن سماعه وایی امام ابویوسف (رح) ویلی مادامام ابوحنیفه(رح) مخالفت په کومه مسئله کی ندی کړی مگرکله چی ما دامام ابوحنیفه (رح) په نظرکی

---

۱ . عقودالجمان ص۱۲٤/۱٤۸

۲ . مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة ص ۱۲۱ ج ۲

فکرکړی نو دامام ابوحنیفه(رح) نظرمی ددنیا اواخرت په هکله گټورمونـدلی اوکله به چی مایوحدیث ته رجوع وکړه نودامام ابوحنیفه(رح) پوهه به په صحیح حدیث زما له پوهی ډیره وړاندی وه.(١)

عبدالله بن مبارک (رح) سره لدی چی په تقوا اوعلمیت کی یی مثال نشته دامام ابوحنیفه (رح) په هکله داسی کلکه عقیده لری چی امام اعظم ابوحنیفه(رح) دعلم مغزگنی اوهغه څوک چی دامام ابوحنیفه(رح) په هکله شک کوي بی ادبه گنی اوعبدالله بن مبارک (رح) په صراحت سره داعلان کوی چی زه خپله دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دمذهب پیروی له نورومذهبونوغوره گنم . الله (ج) دی په هغه ورونورحم وکړی چی ددنیاوی مفادوپه بناخلوروامامانوپسی ردی بدی وایی اوبالخصوص په امام ابوحنیفه (رح) پسی مولاناروم دبی ادبه په هکله داسی ویلی:

ازخـــــداخواهیم توفیـــــق ادب
بـی ادب محـروم گشـت ازلطـف رب
بـی ادب تنهـا نـه خودراداشـت بـد
بلکـــه آتـــش درهمـــه افـــاق زد

ابلیس د الله(ج) دامر بی ادبی وکړه دتل لپاره ملعون اودوزخ حقداروگرزیده.

# (۲۹) د یو تعداد نیکانو لخوا د امام اعظم ابوحنیفه(رح) په خوب کی لیدل

امام اعظم ابوحنیفه(رح) ژوندی وه چی یوتعدادنیکانوخلکوبه دده به هکله داسی خوبونه لیدل چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) په شرافت اوبزرگی به یی دلالت کولواوخپله امام اعظم ابوحنیفه(رح) به بعضی داسی خوبونه لیدل چی دده په عظمت شان باندی یی دلالت کولو: ځکه نیک اوخه خوبونه لیدل دنبوت اوپایمه درجه ترلاسه کول دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ النُّبُوَّةِ: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ فَمَنْ رَأَى خَيْرًا فَلْيَحْمَدْ اللَّهَ عَلَيْهِ وَلْيَذْكُرْهُ وَمَنْ رَأَى غَيْرَ ذَلِكَ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّ رُؤْيَاهُ وَلَا يَذْكُرْهَا فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ.(۱)

ابن عباس (رض) وایی نبي علیه السلام فرمایلي خه اونیک خوبونه لیدل دنبوت اوپایمه برخه ده.

عبدالله بن عمر(رض) ویلي نبي علیه السلام فرمایلي نیک خوبونه لیدل دنبوت اوپایمه برخه ده نوچاچی خه خوب ولیده دالله(ج) ثنادی ووایی اوهغه خوب دی یادکړي اوچاچی بدخوب ولیده دالله (ج) څخه دی ددغه بدخوب دشره پناوغواړي اوچاته دی دغه بدخوب نه ورپیادوي ځکه دغه بدخوب دته هیڅ ضررنشی رسولی:

(۱) هیاج بن بسطام وایی امام ابوحنیفه(رح) ژوندی وه چی ماپه خوب کی ولیده چی دده په لاس کی بیرغ دی اوولاړدی ماتری پوښتنه وکړه ای ابوحنیفه(رح) څنګه ولاړ یی؟ امام ابوحنیفه(رح) راته وویل خپلوملګروته ولاړ یم چی هغوی سره یوځای لاړشم . هیاج بن بسطام وایی زه هم ورسره ودریدم

۱ . مسند احمد الرقم ۶۲۱۶/۲۸۹۴

څه ګورم چې یوه لویه ډله خلک راجمعه شواوامام ابوحنیفه (رح) پسې وروسته روان شو کله چې زه دخوب څخه راویښ شوم امام ابوحنیفه (رح) ته ورغلم اوهغه ته مې داخوب بیان کړامام ابوحنیفه(رح) په ژړاشه اووې ویل (اللهم اجعل عاقبتا الی خیر) (۲) ای الله زموږ اخری انجام نیک وګرزوه.

(۲) ازهربن کیسان وایې مانبي علیه السلام په خوب کې ولیده چې وروسته تری دوه نفره ولاړوه ماته په خوب کې وویل شوداوړاندی چې دی دانبي علیه السلام دی اولده څخه وروسته ابوبکر(رض) اوعمر(رض) دی مادابوبکر(رض) اوعمر(رض) څخه پوښتنه وکړه زه یوه پوښتنه دنبي علیه السلام څخه کولی شم؟ دوی راته وویل وو پوښتنه وکړه مګرپه ډیروروآوازسره خپل اوازبه ډیرنه اوچتوی ازهربن کیسان وایې مادنبي علیه السلام څخه دامام ابوحنیفه(رح) دعلم په هکله پوښتنه وکړه څکه چې ما دامام ابوحنیفه(رح) دعلم په هکله څه نظرنلرلونبي علیه السلام راته وویل دامام ابوحنیفه(رح) علم دخضرعلیه السلام له علم څخه اخستل شوی.(۱)

(۳) حماني وایې ماخوب ولیده چې داسمان څخه یوستوری راوغورزیده بیا بل بیابل ددی وروسته اول امام ابوحنیفه(رح) بیا مسعربن کدام(رح) بیا سفیان ثوري(رح) وفات شوماداخوب امام مقاتل (رح) ته ووایه هغه وژل اوبیا یې وویل علماء دزمکی ستوری دی.(۱)

امام اعظم ابوحنیفه(رح) وایې زماګاونډي نوفل بن حیان چې په کومه شپه وفات شه ماخوب ولیده چې قیامت قائم شوی ډیرزیات خلک ولاړدي اونبي علیه السلام دحوض کوثرپه غاړه ناست دی دنبي علیه السلام ښی اوچپ طرف ته ماډیرمشائخ ولیده چې مخونه یې لکه دلمرپرقیده دنبي علیه السلام ښي طرف ته مې یوشیخ ولیده چې سپین رنګ یې لرلو اودنبي علیه السلام په سینه مبارکه یې خپل مخ ایخودلی وه زه هم ددغه خلکوپه مابین کې کیناستم اوسې اوچپ اومخې طرف ته مې کتل غرض مې دا وه چې نوفل بن حیا ن دی خلکوکی ووینم ماولیده چې دحوض کوثرپه وړاندی دنوفل بن حیان مخې ته دحوض

۱. عقودالجمان ص ۲۹۰

کوثرله ابوډک لوښي پراته وه کله چې نوفل بن حیـان زه ولیـدم ماتـه یـې مخ راواړولو اوویې خندل . ماپرې سلام ووایه هغه زمادسلام خواب راکړ بیا ماورتـه وویل دحوض کوثردلوښوڅخه ماته یولوښی راکړه چې زه ترې اوبه وڅکم.
نوفل بن حیان راته وویل صبروکړه چې دنبي علیه السلام څخه اجازه واخلم بیا نبي علیه السلام نوفل بن حیان ته په ګوته اشاره وکړه چې اوبه ورکړه نوفـل بـن حیان ماته دحوض کوثراوبه راکړې اوماوڅکلې دغه اوبه لـه شـیدو سـپینې وې اوله واری یخې وې اوله عسلوخوږې وې بیا مانوفل بن حیان ته وویل ای نوفل بن حیان دنبي علیه السلام ښې طرف ته داشیخ څوک وه هغه وویـل دابـراهیم علیه السـلام وه بیـا مـې ورتـه وویـل ددغـې خواتـه دغـه څـوک وه هغـه وویـل داابوبکر (رض) وه بیا مې ترې دیو یو شیخ پوښتنه کوله تردې چې او ولـس یـې راته ذکرکړه زه پدغه وخت کې دخوب څخه راویښ شوم مـاچې خپلـې ګـوتې وکتلې په اولسمه ګوته مې اوته ایښودلې وه.(۱)

# (۳۰) یوتعدادهغه اشخاص چی امام ابوحنیفه(رح) یی دمرګ څخه وروسته په خپلوخوبونوکی په ډیره خه طریقه لیدلی

(۱) محمدبن رجاء چی مشهوربزرګ وه اودابدالوله جملی څخه وه وایی مامحمدبن حسن شیبانی (امام ابوحنیفه شاګرد) په خوب کی ولیده اوپوښتنه می تری وکړه چی الله (ج) درسره څه معامله وکړه هغه راته وویل چی الله (ج) راته وویل ای محمد بن حسن ماستا خیټه دی لپاره دعلم لوښی ندی ګرزولی چی زه به تاته عذاب درکوم بیا تری مادامام ابوسف(رح) په هکله پوښتنه وکړه چی هغه په څه حالت کی دی امام محمد(رح) راته وویل هغه زماڅخه په درجه کی اوچت دی بیاتری ما دامام ابوحنیفه(رح) په هکله پوښتنه وکړه هغه راته وویل هغه په علیین کی دی.([1])

(۲) جعفربن حسن وایی ماامام اعظم ابوحنیفه(رح) په خوب کی ولیده اوپوښتنه می تری وکړه الله (ج) درسره څه وکړه؟امام ابوحنیفه(رح) راته وویل الله(ج) معاف یی کړم ماورته وویل دعلم په وجه یی معاف کړی؟ امام ابوحنیفه (رح) راته وویل دخلکو هغه خبروپه وجه چی په ماپسی یی کولی اوپه ماکی نوی.(۱)

(۳) عبدالحکیم بن میسره وایی زه دمقاتل بن سلیمان په حلقه کی ناست وم چی یونفرپاخیده اومقاتل بن سلیمان ته یی وویل مابیګاه شپه خوب لیدلی چی یو دسپینو جامونفرله اسمان څخه راښکته شواوپه بغدادکی دمسیب په مناره ودریده اوپه لوړاوازیی وویل نن خلکوڅه شی ورک کړ؟ مقاتل بن سلیمان ورته وویل که ستاداخوب رښتیاوي نونن به ددنیا یولوي عالم چیرته وفات وي

---

۱. عقودالجمان ص ۲۹۱/۲۹۲

کله چی موږ ته معلومات وشوامام ابوحنيفه (رح) وفات شوی وه مقاتل (انالله وانا اليه راجعون) وویل اوبيا يې وویل نن هغه څوک وفات دی چی دنبي عليه السلام امت لپاره يې ددين مشکلات حل کول.(۱)

(۴) دمالک بن انس (رض) يوازادکړده شده غلام وه ده دامام ابوحنيفه(رح) سره ډيره زياته مينه لرله دی وايي يوه شپه می هغه سړی په خوب کی وليده چی تل به يې امام ابوحنيفه(رح) پسی ردی بدی ويلی ما په خوب کی دغه سړی ته خيری وکړی اوالله (ج) ته می سوال وکړای الله ماته خوددی بدبخته په هکله يوه علامه وه ښايه زه څه گورم چی ناگهانه دغه بدبخته سړی خمکی کش کړما په خوب کی لدغه خايه دهيبت له وجی منډه واخسته يونفرزه وه نيولم اوراته وی ويل صبروکړه ما وکتل ده بدبخته سړی خواته يوليکل شوی کاغذپروت وه اوپه هغه کی ليکل شوی وه داسزا دهغه چاده چی په علماء پسی خبری کوي بيا می په خوب کی وليده چی قيامت قائم شوی اوامام ابوحنيفه (رح) سره بيرغ دی اوخپل ملگري يې جنت ته روان کړي.(۱)

(۵) امام ابويوسف(رح) وايي ما امام ابوحنيفه(رح) په خوب کی وليده چی په يودفترکی ناست دی اوچاپيره تری ملگری راتاودي امام ابوحنيفه (رح) وويل ماته مشواني اوقلم راکړی امام ابويوسف (رح) وايي زه پاڅيدم اومشواني اوقلم می ورته ورکړماورته وويل امام ابوحنيفه(رح) څه شی ليکی امام ابوحنيغه(رح) راته وويل زه هغه ملگری ليکم کوم چی جنت ته ځی امام ابويوسف(رح) وايي ماورته وويل مانه ليکی؟امام ابوحنيفه(رح) راته وويل ووتاهم ليکم بيايي زما نوم هم په اخرکی وليکه.(۱)

(٦) ابومعاذفضل بن خالدوايي مانبي عليه السلام په خوب کی وليده اودنبي عليه السلام څخه می پوښتنه وکړه ای دالله(ج) رسوله دامام ابوحنيفه(رح) دعلم په هکه تاسوڅه نظرلری؟نبي عليه السلام په خواب کی راته وفرمايل دا يوداسی علم دی چی خلک ورته محتاج دي.(۱)

(۷) ابن عبدالرحمن نضری وايي زه په حرم شريف کی درکن اومقام ابراهيی په

---

۱ . عقودالجمان ص۲۹۳

مابين کی اوده شوم نبي علیه السلام می په خوب کی ولیده اوپوښتنه می تری وکړه ای دالله(ج) رسوله په کوفه کی یوسړی دی نعمان بن ثابت نومېږي ایازه دهنه له علم څخه استفاده وکړم؟ نبي علیه السلام راته وفرمایل دهنه څخه علم واخله اودهنه په علم عمل وکړه دغه ډیرخه سړی دی زه خوب څخه راویښ شوم اودسحرلمانځه لپاره اذان وشه مابه خلکوته دامام ابوحنیفه(رح) په هکله بدویل اوددی خوب له لیدوڅخه وروسته به می دالله(ج) څخه دخپل دغه تیرعمل بخنه غوښتله.(۱)

(۷) صالح بن خلیل وایی مانبي علیه السلام په خوب کی ولیده چی علی (رض) هم ورسره ناست وه پدی وخت کی امام ابوحنیفه(رح) راغی علی (رض) ورپاڅیده اوامام ابوحنیفه(رح) یی کینولو او ډیر زیات قدر او احترام یی ورلره وکړ.(۱)

که یوڅوک وغواړی چی دامام اعظم ابوحنیفه(رح) سوانح په پوره توګه ولیکی نودابه ډیرزیات وخت وغواړي اوپه جلدونوکتابونه به ورڅخه ترتیب شي: دنعمان بن ثابت یاداشت انسان ته لذت اوخوشبویي وربخی.(۱)

أعـدْ ذكـر نعـمانٍ أعـدْ إنَّ ذكـره
مـنَ الطِّيـبِ مـا كررتـهُ يتضـوَّعُ.(۲)

أعد ذكر نعمان أعد إن ذكره لكالمسك ما كررته يتضوع.(۳)

که امام ابوحنیفه (رح) دغه عزت موندلی نودغه عزت الله (ج) ورکړی څکه چی (وَاللّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ.(٤)

لقـد نـال نعـمان المعـالي فأصـبحت
وأخلاقـه كـالزهر بالطـل يمطـر
ولم يفتخـر يومـاً بهـا غـير أنهـا
بـه تتبـاهى أرخوهـا وتفخـر


۱. عقودالجمان ص۲۹۴/۲۹۵
۲. دواوین الشعرالعربی علی مرالعصور ج٦ص۴۳/۱۷
۳. ارشیف ملتقی اهل الحدیث ص۴۹۳ج۴
٤. البقرة آية۱۰۵

(٢) داوه یوخومختصرکرښې چې دامام اعظم ابوحنیفه(رح) دسوانحوپه هکله ولیکل شوې امیدی چې دمحترموحنفی ورونوتنده به پرې ماته شوې وي.

وماتوفقی الابالله علیه توکلت والیه انیب

دکتاب ځانګړتیاوې

دکتاب نوم: داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنیفه (رح)
تألیف: قضاوتوال ابوعبدالرزاق محمدفاضل (عتیق)
دچاپ کال: ۱۳۹۵ل/ 2017م
انلاین چاری: عزت الله (سلطانزی)
نیټه: شنبه دلړم ۱۲ / ۱۳۹۷ل ساعت: 07:11PM
اړیکې: ایمو، واتساپ، ټلګرام: 0706912702




Designed by: Abdul Hadi Asar
0788003703-0772120703

مدینه خپرندویه ټولنه
Madina Publisher

چاپچارې
مدینه خپرندویه ټولنه- جلال آباد
بزازۍ څلور لارې، اسحاق زی مارکېټ، لاندې پوړ، جلال آباد ښار
0789206096 - 0798221050